


# ... دهلـیز

... وی هیواد سره یوځای کړ!


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | ناڅرګند دهلیز |
| لیکوال: | نهار سوتار |
| ژباړن: | طارق نجیب |
| ډیزاین چارې: | صادق الله صادق |
| خپرندوی: | مازیګر کتاب پلورنځی |
| چاپ کال: | ۱۳۹۵ل/ ۲۰۱۶م |
| چاپشمېر: | ۱۱۰۰ |
| خپرونو لړ: | ۴۶ |


د چاپ حقوق خوندي دي

Ketabton.com

...ال: نهار سوتار
...ن: طارق نجیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

**ګران او قدرمن ورور**

**ډاکټر شمس نجيب ته!**

**چې د ژوند په هر ډګر کې زما لاربنود دی.**

**ط. نجيب**

## ځانګړې منّنه!

- شرافت نجيبي، چې ښې مشورې راکوي.
- نظيف الله بلال، تر بل هر چا يې ډېر هڅولی يم.
- عبدالصبور مومند، چې تل يې زما ليک ستايلی.
- سبحان کاموال، چې په ژباړه کې يې راسره مرسته کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب په اړه

په ۱۹۷۹ کال کې افغانستان د ستر او وحشي کورنیو جګړو ښکار شو. دا جګړې تر څو لسیزو اوږدې شوې چې په پایله کې یې دا هېواد په سیاسي بې ثباتۍ، ګډوډه مشرۍ او سخت خطر خواته وغورځوه. سلګونه زره ملکي وګړي ووژل شول او میلیونونه نور مهاجر شول. ټولې نړۍ دا فکر کاوه چې تاوتریخوالی د افغانستان دویم نوم دی.

د پاکستان له مهاجرو کیمپونو څخه یوڅو افغان ماشومان د یو خوب په لټه شول چې دوی وکولای شي خپل هېواد یووالي او امن په لور راولي. چې ددې خوب رښتیا کېدل د کرکټ په لوبه کې ولیدل شو. دې ماشومانو کرکټ زده کول پیل کړل او د هررنګه خطر او خنډونو سره یې مبارزه وکړه او د افغان ملي کرکټ لوبډله یې رامنځته کړه. هغوی د افغانستان بدلولو په سفر ووتل او دا د لوبو په نړۍ کې یوه زړه راښکونکې کیسه پیلوي.

دا کیسه د افغان کرکټ لوبغاړو ده چې د پاکستان مهاجر کیمپونو څخه راپورته کیږي او نړیوال جام ته لاره پیدا کوي. نهار سوتهر د کرکټ دا سفر په ډېر مهارت کښلی دی او د افغانستان په اړه یې د نړیوالو فکر بدل کړی. دا کتاب یوه الهامي کیسه بیانوي چې د هرې لوبې خوښونکي د خوښې وړ وګرځي.

دا کیسه د افغان کرکټ لوبډلې حیرانونکې کیسه بیانوي چې څنګه یې له صفره پیل کړه او د نړۍ ۱۰ غوره لوبډلو کې یې ځانته ځای پیدا کړ.

نهار سوتهر دا کیسه یواځې په کرکټ نه راڅرخوي بلکې په دې سربیره د افغانستان سیاسي، مذهبي او رواجي اړخونو ته یې هم اشاره کړې ده.

دا د هغه افغان کرکټ لوبغاړو کیسه ده چې تر اوسه همداسې نا ویل شوې پاتې ده، لکه د حمید حسن، محمد نبي او کریم صادق .

# یو څو خبرې

په هغه وخت کې چې کرکټ په افغانستان کې زور واخست نو فیسبوکیانو او ځینې وخت رسنیو په دې بحثونه پیل کړل چې کرکټ لوبه چا افغانستان ته راوړه؟ ملي لوبډله څنګه منځته راغله؟ چا ورته کار کړی؟ او څومره کار یې ورته کړی؟ چا ورسره پکې مرسته کړې او چا ډېر هڅولي دي؟ ځکه کله چې یوه میوه پخه شي نو هر څوک یې د شکولو هڅه کوي او دې ته نه ګوري چې ټول کال چا اوبه ورکړې او پالنه یې کړې.

د دې لوبډلې لپاره له انفرادي کارسرېږه حکومتونو څومره ونډه درلوده؟ طالبانو تر کومه حده په دې برخه کې مرسته کړې او ولسمشر کرزي ورته څومره پاملرنه کړې؟ ددې ټولو پوښتنو ځواب به په دې کتاب کې پیدا کړئ.

د دې کتاب منځنۍ پانګه کرکټ ده خود دې تر څنګ په پاکستان کې د افغانانو مهاجر ژوند، د هغوی ستونزې، همدا رنګه په افغانستان د روسیې برید، کورنۍ جګړې، د طالبانو حکومت کې د افغانانو حال او په افغانستان د امریکا برید او سببونه په لنډ ډول روښانه شوي.

د کتاب منځنی کرکټر تاج ملوک عالم دی او ورسره کریم صادق، رییس احمدزی، الله داد نوري، اعظم خان، محمد نبي، حمید حسن اوسمیع الله شینواری د افغان کرکټ ملي لوبډلې پر مخ بیولو کې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې دي.

افغانستان ډېر کار ته اړتیا لري، که هره ورځ هر کس ۱۸ ساعته کار وکړي او په سمه توګه یې وکړي نو بیا کیدای شي راتلونکو دیرش کلونو کې یو څه بدلون راشي. د افغان کرکټ ملي لوبډلې رامنځته کولو لپاره هم هغوی ۱٦ کاله کار کړی دی.دې ځوانانو د صفر نه پیل کړې وه. کرکټ لوبډله دې د ټولو افغانانو لپاره یو مثال وګرځي چې دوی څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زیارکښلی او یوې سپیځلې موخې ته د رسیدو لپاره یې هر رنګه ستونزو سره مبارزه کړې.**

**که کریم صادق په یوه یا څو لوبو کې ونه ځلیده نو څه وشول، هغه وخت کې چې د افغانستان لوبډله تر ټولو شاته وه او د هغوی د لوبو نه هیڅوک خبر نه ول، له هغه ځایه تر دې ځایه چا راورسوله؟ هغه وخت کې کریم صادق وو چې مونږ او تاسو ترې خبر هم نه وو او په هره لوبه کې یې ښې منډې جوړولې. زه کریم صادق سره مخامخ نه پیژنم او نه ترې دفاع کوم، زه یواځې رښتیا وایم. د کریم صادق یادونه مې ځکه وکړه چې لوبه کې د نه ځلیدو وروسته ورپسې فیسبوکیان بدې ردې وایي. که نن کریم صادق ونه ځلیده او سبا بل کوم تکړه لوبغاړی ونه ځلیږي نو عکس العمل به همداسې وي؟ هر څوک باید خپل ګریوان کې سوچ وکړي چې مونږ د هېواد لپاره څه وکړل؟**

**رییس احمدزی، کریم خان صادق، نبي عیسی خېل، سمیع الله شینواری، الله داد نوري اونور  د دې کیسې فرعي کرکټرونه دي، چې هلې ځلې یې کړي او له سختو پړاونو راتېر شوي.**

**ناڅرګند دهلیز د کرکټ  ځانګړې اصطلاح ده، چې تاسې به د دې کتاب تر لوستووروسته  پرې ښه وپوهېږئ!**

**درناوی**

**طارق نجیب**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱

# شاته کیسه

د کرکټ په یوه ورځنۍ لوبه کې شپږ سوه او یا زیات توپونه وي چې زیاتره د وایډ یا نو توپ اچول یې شمیر زیاتوي، لکه وایډ توپ د توپ وهونکي د ساحې څخه لرې وي. یوه لوبډله درې سوه توپونه اچوي او باید درې سوه توپونه ووهي. توپ اچونه او توپ وهنه تر اووه ساعتونو وخت نیسي او لوبه په اخري توپ پای ته رسیږي. د کرکټ مینه وال تر اخرې شیبې لوبه تعقیبوي او لوبغاړي هم هڅه کوي تر څو په میدان کې وځلیږي.

د مینه والو او لوبغاړو همدغه سناریو د ۱۹۹۰ کال د مارچ دریمې نیټې په لوبه کې کتل کیدای شول. د انګلستان د کرکټ ملي لوبډله ۴۰۰۰ مایله لرې د هاغه وخت غښتلې لوبډلې یانې ویسټ انډیز سره لوبې لپاره هلته تللې وه. دا نړیواله یوه ورځینۍ لوبه د جمایکې کینګسټن ښار په سبینا پارک یې شوې وه. د انګلستان لوبډلمشر ګراهم ګوچ پچه وګټله او توپ وهنه یې پیل کړه. د ګرمۍ لمر هم خپل زور ښوده. د انګلستان لوبغاړي ګرمۍ لاندې کړي ول لکه په مشکله چې ساه هم اخلي خو بیا یې هم په پنځوس اورونو کې ۲۱۴ منډو هدف وټاکه.

د توپ اچونې پر مهال هم د انګلستان لوبډلې د ګرمۍ سره لاس او ګریوان وې. توپ وهنې ته د ویسټ انډیز توپ وهونکي ویو ریچارډ او جیف ډجن راوتي ول او وروسته بیا نور... تر څو اخري اوور راورسیده. اخره کې ریچي ریچارډسن او ازرا موسلي توپ وهنې ته ولاړ ول، د ویسټ انډیز لوبډلمشر ریچارډ خپل ملګري ته وویل تر څو د اوور په شپږ واړه



توپونه برید وکړي او خطا یې نه کړي. که څه هم لوبه د ویسټ انډیز په ګټه ښکاریده خو د ویکټو نشتوالی یوه اړینه ستونزه وه.

په دې وخت کې مازیګر شوی وو، لمر هم په ډوبیدو وو. ویسټ انډیز لپاره په پنځه توپونو پنځه منډې پاتې وې، یانې په توپ یوه منډه باید واخیستل شي. موزلي د توپ سره بیټ تاو کړ خو یواځې یې د پیچ نه دوړه پورته کړه. هغې غوښتل چې لوبه په شپږیزه او په خوند سره پای ته ورسوي. که څه موزلي بیټ ډیر تیز تاو کړی وو خو څنګه چې هغې تصور کړی وو چې توپ به د خلکو ناست ځای ته رسوي خو هغسې ونه شول، د توپ وهلو سره بیټ ټک غږ پورته کړ او توپ تر ډیره په هوا کې ورک او بیا د لوبغاړي لاسونو کې چې توپ وهونکي ښي لورې ته ولاړ وو، پریوته. توپ رانیونکي ځان هم په تکلیف نه کړ په هماغه ځای ولاړ او توپ یې راونیوه.

د انګلستان نور لوبغاړي د لرې څخه رامنډې وهي او توپ اچونکي او توپ رانیونکي ته شاباسي ورکوي او لکه بریا چې لمانځي. موزلي اووم لوبغاړې هم وسوځیده. دا لوبه چې د ویسټ انډیز په ګټه ښکاریده اوس د انګلستان چانسونه هم ډیر شوي ول. ویسټ انډیز ته په څلور توپونو پنځه منډې پاتې وې تر څو بریا خپله کړي. آین بیشپ نهم توپ وهونکې میدان ته راغلی وو. بیشپ ته هم مالوه شوه چې څومره کړکیچن وخت کې میدان ته راغلی دی.

دواړه غاړو لوبغاړي ښه وارخطا ول. موزلي چې همداوس سوځیدلی وو، لاس کې هلمټ او سر ښکته نیولې میدان څخه روان دی. د هغې ټول بدن په خولو کې ډوب دی. بیشپ هغې ته لاس ورکړ، موزلي مسکی شو او ورته یې وویل:

"د ځلیدو وخت دې دی ملګریه!"

بیشپ میدان ته راغی، د پیچ منځ کې یې د بیټ په څوکه یو څه وټکول. زیاتره لوبغاړي لوبې ته راتلو سره یو څو توپونه لوبوي تر څو ګرم شي خو بیشپ سره دغه وخت نه وو. هغه د پیچ بلې غاړې ته ورغی تر څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ملګري ريچې ريچارډسن سره خبرې وکړې. هغوی په ډېر جديت يو پلان جوړ کړ.

بيشپ توپ وهنې غاړې ته د ويکټو مخې ته ودريد او توپ اچونکي ته منتظر شو. هغه داسې ښکاريده لکه لوبه چې ګټلې شي. د هغې په لومړي توپ هغې غوښتل چې سويپ شاټ ووهي خو توپ د ويکټ کيپر لاسونو ته ورغی او ډېر زر يې د ويکټو په لور رامنډه کړه، بيشپ هم بېرته خط سره ودريد چې رن اوټ نه شي. اوس يواځې په درې توپونو پنځه منډې پاتې شوې.

لوبه د انګلستان په لورې کږه شوه، تبصره کونکو په نړيوالو تلويزنونو داپوښتنه کوله،

"آيا انګلستان دا لوبه خپلولای شي؟"

بيشپ پوه شو چې بايد په هوښيارۍ لوبه وکړي او بايد خطرناکه شاټونه ونه وهي. هغه په داسې حالاتو کې و چې هر يو کرکټ لوبغاړې غواړي په داسې وخت کې لوبه وکړي. د هغې لوبډلې دا لوبه ګټلې شوه او هغه هم کولای شي اتلولي خپله کړي. بيشپ خپل شاوخوا لوبغاړي څارلي ول چې کوم ځای کې توپ ويستلو امکان شته.

ورپسې توپ يې خپل ښې لورې ته د دوه لوبغاړو تر منځ کوم چې دې څارلې و، ووهه. توپ تر سرحده ونه رسيده خو دومره وخت پيدا شو چې دوه منډې جوړې کړي. بيشپ خپل ملګري ته اشاره وکړه،

"زما منډو ته هم ګوره او خپل ژوند لپاره منډه وهه. په دې وخت کې رن اوټ نه شو زغملای." بيشپ ورته وويل.

دوه توپونه پاتې ول او ويسټ انډيز ته لوبې ګټلو لپاره درې منډې پاتې وې. په ټوله لوبغالۍ کې چوپتيا خپره وه. ميليونونه خلک هم د تلويزنونو مخې ميخ وهلي ناست ول، تبصره کونکو ويل، "دوی به خامخا دلته منډه جوړوي."



ورپسې توپ خو بيشپ هيڅ ونه ليده چې په کومه لاره د ويکټ ساتونکي لاسونو ته لاړ. د ويسټ انډيز ۲۱۲ منډې وې او ۷ لوبغاړي يې سوځيدلي ول او اوس داسې ښکاريده چې انګلستان به لوبه ګټي. يو وروستي توپ پاتې و، او ويسټ انډيز بايد درې منډې پرې کړې وې.

د سبينا پارک ميدان ته راغلي ټولو مينه والو سا ګانې بندې وې. اخري توپ د لوبې پرېکړه کونکې وو. د انګلستان توپ اچونکی انګس فريزر اخري اوور ډېر ښه وباسه. د هر توپ اچولو وړاندې به يې د نورو ملګرو سره مشوره کوله چې کومې لورې ته توپ غورځوي او هغې بايد کومې لورې ته ودريږي او ويسټ انډيز دې ته پرېنږدي چې اخري څو منډې جوړې کړي. د انګلستان لوبغاړي يو څه ارامه ښکاريدل لکه له داسې حالاتو څخه ډېر ځله تير شوي وي.

بيشپ خړ اسمان په لور بره وکتل. او اوس د يوې معجزې لپاره هم کافي وخت نه وو. زرګونه خيالونه يې ذهن ته راتلل. خو پوښتنه دلته ده چې ولې لوبغاړي غواړي په داسې يو مغز زبېښونکې حالاتو کې لوبه وکړي؟ د لوبې وروسته به د يو اتل په څير وي که يو بايلونکی؟ خو ښه خبره دا وه چې هر څه به له يوې دقيقې وروسته پای ته ورسيږي.

د توپ اچونکي منډه تر توپ وهلو پورې يواځې پنځه ثانيې وخت وي. لمړۍ ثانيه کې فريزر يو څو قدمه واخيستل، دهغې بوټانو لاندې واښه پراته او بيرته ودريدل. بيشپ د فريزر په لاس کې توپ کې سترګې خښې کړې وې. دويمه ثانيه کې فريزر منډه تيزه شوې وه، هغه تقريبا نيمايي لاره وهلې وه. بيشپ چې به شاټ وهي او خلک به چغې کوي، فکر کاوه.

هغې ډېر دقت د فريزر په لاس کې بال باندې وو. دريمه ثانيه کې فريزر لا اوس هم منډه وهي. هغه تقريبا پيچ ته رسيدلی، هغې ته رایاد شول چې خپلو ملګرو سره په دې مشوره کړې وه چې هغه به توپ د ويکټو بهر خواته په نرۍ کرښې په لور غورځوي. بيشپ خپل بيټ په شا بوته او داسې لکه چې هر څه يې نږدې راځي نو وهي به يې. څلورمه ثانيه کې فريزر په منډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ځان پورته کړ او مټ يې تاو کړ او توپ لکه دوی چې پلان کړی وو چپې لورې ته وغورځوه. بيشپ يو څو ميلی ثانيو کې فکر وکړ چې په کوم لور يې ووهي. څلور نيمه ثانيه کې تر څو ډېر ناوخته نه شي، بيشپ خپل بيټ رامخې ته کړ او توپ يې پرې ښي لورې ته ووهه. ټک... توپ والوته. ليدونکي د خپلو ځايونو راولاړ. دوه درې ثانيي وروسته توپ ځمکې ته ورسيده او په اسانۍ پړي سره خوا کې پريوت. په لوبغالۍ کې يو شور جوړ شو. بيشپ د نن اتل وخوت.

"او دا دې څلوريزه شوه!" تبصره کونکو په تلويزنونو کې د زړه له تله چغې وهلې. "ويسټ انډيز ډيره خطرناکه لوبه خپله کړه، بيشپ څه يوه وړتيا وښوده"

د هاغه وخت ليونتوب هيڅوک نه شي هيرولای. دا شپه د کرکټ د ريکارډ په کتابونو کې ثبت شوه. د فريزر اخري اوور او د بيشپ څلوريزه د هاغه ورځې نه وروسته تر څو اونيو د خلکو او د هر چا په خولو کې وه. خو د کرکټ څيړونکي وايي چې ولې بيشپ د اخري توپ وهلو لپ وړاندې لږ تم شوی وو.

ددې زړه راښکونکې او د ۱۹۹۰ کال کې ويسټ انډيز ته د انګلستان سفر لوبو پر اساس هغه ځای نه چې فريزر توپ اچولی وو د ناڅرګند دهليز په نوم وپيژندل شو.

دا لفظ د کرکټ اوسني وخت کې هم کارول کيږي. خو د نا څرګند دهليز مانا څه ده؟ دا هغه نری خط دی چې د توپ وهونکې مخې ته کښل شوی وي او په دې ځای کې ډير تجربه کار توپ اچونکي په چلبازۍ توپ اچونه کوي. د کرکټ شنونکي دا ځای د ناڅرګند دهليز په نوم يادوی ځکه توپ وهونکی هڅه کوي چې توپ په کومې خوا ووهي او که پريږدي يې. که چيرته توپ وهونکې دا توپ پريږدي نو کېدای شي توپ دننه خوا تاو شي يا ويکټې ولګيږي او د ويکټو مخې ته خپه ولګيږي او توپ وهونکې



وسوځي. او که چيرته توپ وهونکې توپ ووهي نو دا بيا بهر خواته تاويږي او د بيټ څنډې سره لګيږي او کېدای شي بيا هم کيچ وسوځي.

د بيشپ د وروستي توپ اچولو لږ وړاندې تم کېدو دليل همدا ګڼل کېدا شي ځکه هغه غوښتل چې وګوري توپ کوم خوا تاويږي. خو اوس د کرکټ لوبغاړو ته دا ويل کيږي که توپ د ويکټو نه لرې وي نو بايد پريښودل شي. او لوبغاړي دا هم کولای شي چې توپ پسې يو قدم ورهاخوا شي او توپ ووهي خو دا هم په هاغه صورت کې چې په ځان ډاډه وي. خو د لوبې په سختو حالاتو کې هماغه ستراتيژي کارول کيږي، يانې توپ ووهه که په هر قيمت وي، غټ خطر غټ انعام.

په اوسني کرکټ کې هم توپ اچونکي د همدې ناڅرګنده دهليز څخه ګټه پورته کوي او ګوري چې توپ وهونکې ددې توپ وهلو څومره وړتيا لري او په پايله کې ددې توپ او نورو ستونزمنو توپونو وهلو درس ورکول کيږي. يوې او ناپيژندل شوې لوبډلې دا تصور بدل کړ. دا ډله په ډيرو ستونزمنو شرايطو کې د ځان لپاره يو نوم جوړ کړ او د ناڅرګنده دهليز يې يو نوي پړاو ته ورسوه. د ناڅرګنده دهليزو اصطلاح يې يواځې د توپ اچولو ساحې پورې محدود نه کړه. بلکې دا اصطلاح د يو هېواد چې نا څرګنده، سختو او خطرو نه ډک ټوټه ټوټه پروت و، وکاروله. هغوی په پوره باور سره يو ځای شول او پرته له دې چې په کوم قيمت تر لاسه کيدا شي، د نا څرګند دهليز اصلي مانا ددې لوبډلې په تاريخ کې کتلای شو. غټ خطر، غټ انعام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲

# د تاوتريخوالي تقدير

غوږ کڼونکي ډزې د تاجبيګ ماڼۍ څخه اوريدل کيدې. د افغانستان ولسمشر حفيظ الله امين په بې چارۍ په ځمکه پروت و، په خپله سينه يې لاسونه ايښي ول. په ټول بدن کې يې درد خپور شوی وو. هغې انګېرله چې چا ورسره خيانت کړی دی. هغه د بې باورۍ لړزې اخيستی وو. د مرستې لپاره غږ کول ورته بې ګټې ښکاريدل ځکه اوس ډېر ناوخته شوی وو.

درې مياشتې وړاندې په ۱۹۷۹ کال کې امين ځان ولسمشرۍ په ګدۍ کېنولی وو. د بهر څخه ځلانده او تل به يې توره دريشي اغوستې او په خړو سترګو يې دوستانه نظر کتل خو په دننه کې هغه صفا و. هغې د کمونستي حکومت مشري په غاړه درلوده کومه چې د افغان مذهب سره په ټکر کې وه. امين هڅه کوله چې د مسلمانانو اوسني رواجونه له منځه يوسي نو ځکه يې په زرګونه اسلامي مشران ونيول.

د هغې دا عمل هر افغان وغنده ځکه اسلام د ټولو افغانان دين دی. د خپل دين ساتلو لپاره زرګونه افغانان راپورته شول تر څو د امين حکومت له مينځه يوسي. هغوی د امين په ټولو طرفدارانو پر خلاف د جهاد فتوا ورکړه.

ډېر زر دا هېواد د کورنيو جګړو ښکار شو.

افغانستان په دې جګړو کې خپل هويت له لاسه ورکړ. د لا ګډوډۍ لپاره په ۱۹۷۹ کال ډسمبر مياشت کې روسي لښکرې د افغانستان پلازمينې کابل ته راورسېدې. هغوی امين ته د دوستۍ او ساتنې لاس ورکړ او امين هم په خوشالۍ شوروي لښکر ومانه. هغې فکر کاوه چې په روسي لښکرو باور کولای شي. خو په حقيقت کې روسي لښکرې افغانستان ته د امين مرستې لپاره نه وو راغلي بلکې دا يو نظامي يرغل و چې د توپاني عمليات ۳۳۳ په نوم ياديده. توپاني عمليات ۳۳۳ د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر مياشت په اووه ويشتمه نيټه سهار پيل شول او د راتلونکو څو پېړيو لپاره يې افغانستان د بدبختۍ په



لور روان کړ. ۲۴ روسي سرتيري د الفا عالي ځانګړې قوه څخه يې ټړاو درلود او نور ۳۰ سرتيري چې د کی جي بي نظامي ډلې سره يې تړاو درلود او ځانونه يې جهاديان معرفي کول. هغوی تورې خيرې په مخونو راځړولې وې. الفا ډله د امين له مينځه وړلو لپاره ګمارلې شوې وه او د کی جي بي ډله د امريکا سره د امين اړيکو اسنادو راټولو لپاره ټاکل شوې وه. دواړه ډلې په ښه اتوماتيکو وسلو سمبالې وې.

امين د خپلې کورنۍ سره د تاج بيګ په ماڼۍ کې و. دا ماڼۍ په کابل کې د يوې غونډۍ پر سر پرته وه. د الفا او کی جی بي ډله د جګړې ميدان ته رارسيدلي ول. کله چې دواړه ډلې په واورو کې د ماڼۍ غونډۍ په لور رواني وې نو د امين ساتونکو پرې ډزې شروع کړې، هر څوک چې به غونډۍ ته نږدې کېدل نو هماغه نښه ګرځول کېدل. روسي سرتيرو مرمۍ ضد واسکټونه اغوستي ول، هغوی ورته مخامخ ودريدل او د ماڼۍ ساتونکي يې ډېر زر راوپرځول.

په ماڼۍ کې دننه امين ته د ډزو خبر ورکړل شو. هغې لا پوره کالي هم پر تن نه ول چې خپلې کورنۍ غړو ته يې چغې وهلې تر څو ځان ګوښه کړي. هغې خپل ساتونکو باندې لکه غېل او لګيا و،

"شورويانو سره اړيکه ونيسه! هغوی مونږ سره مرسته کولای شي."

"همدا شوريان دي چې پر مونږ ډزې کوي" ساتونکي ورته وويل.

امين د بندي پړانګ په څېر ښکته پورته تلو او ځان سره بوږنېده،

"دا بايد دروغ وي."

هغې د لرګين تور ميز څخه ټيليفون راواخيست چې د روسيي عمومي درستيز سره اړيکه ونيسي او ورته ووايي چې هغوی اشتباه شوي دي. خو د امين ويرې ته هيچا ځواب ورنکړ. د ټيليفون تار پرې وو. هغې ټيليفون د کوټې کونج ته وغورځاوه او په مايوسۍ د کوټې منځ کې کېناسته،

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ما فکر کاوه. دا هر څه ریښتیا دي." هغه په ژړا شو. هغې خپل سر لاسونو کې ونیوه او منتظر کېناست. روسي سرتیري ماڼۍ ته راننوتي ول. هغوی امین ومووند. هغه هغوی سره لیدو لپاره پاڅېد.

غوږ کېنونکي ډزې د تاجبیګ ماڼۍ څخه واوریدل شوې. د افغانستان ولسمشر حفیظ الله امین په بې وسۍ په ځمکه پریوت، په خپله سینه یې لاسونه ایښي ول. په ټول بدن کې یې درد خپور شوی و. هغې انګېرله چې چا ورسره خیانت کړی دی. هغه د بې باورۍ لړزې اخیستی وو. د مرستې لپاره غږ کول بې ګټې ښکاریدل ځکه اوس ډېر ناوخته شوی وو.

امین سره د کورنۍ غړو او ۲۰۰ ساتونکو په هماغه سهار یانې په ۲۷ ډسمبر باندې ووژل شول. تاج بیګ ماڼۍ په ۴۳ دقیقو کې ونیول شوه خو اثرات یې د افغانستان نه ختمیدونکې جګړې ته لار پرانسته. او دا هېواد یې د څو لسیزو سیاسي ګډوډۍ سره مخامخ کړ. قدرت ښکنځل شوی و. جګړه د ودریدو نه وه.

شوروي اتحاد هڅه وکړه چې د امین وژل په داخلي جهادي ډلو وروتپې خو دا راز تر ډېره پټ پاتې نه شو او ټول په دې وپوهېدل چې څه شوي او چا کړي. شوروي اتحاد یو بل افغان د ببرک کارمل په نوم د ولسمشرۍ په چوکۍ کېنوه. او د ببرک کارمل ګوډاګی حکومت د روسیې نه ملاتړ کېده.

کله چې ببرک کارمل کیناسته نو ډېرو افغان ملي سرتیرو خپلې دندې پریښودې او د جهادي ډلو سره یو ځای شول. ډېر خو یې د امین حکومت په طرف هم نه ول.

جهادي خوځښت لکه د وایروس په څیر په ټول هېواد کې خپور شو او په مجموعه ډول دا جهادي ډلې د مجاهدینو په نوم یادې شوې چې دوی سپېڅلې موخه درلوده. د کارمل حکومت یواځې د قانون عملي کولو او د جهادي ډلو مخنیوي لپاره ۸۵۰۰۰ روسي سرتیرو ته اړتیا لرله.



د مجاهدینو مخنیوي لپاره روسي سرتیرو افغانان مجبوروول تر څو ملي پوځ کې برخه واخلي. یو افغان چې دوی غوښتل هغه افغان پوځ ته داخل کړي اجمل خان نومیده. اجمل د کابل په یو روغتون کې نرس و. لکه د نورو په څیر هغه هم د کمونستي نظام مخالف وو او نه یې غوښتل چې روسي سرتیرو سره یوځای وجنګیږي. هغوی اجمل خان د نهه ورځو لپاره بې ډوډۍ په بند کې واچوه تر څو د خپلې خبرې نه واوړي. خو هغه وانه ووښت.په همدې پلمه روسي د هغې پلار ته شپږ کاله قید سزا ورکړه. دا او داسې نور تخنیکونه به شوروي اتحاد په کار اچول.

جهادي ډلې د افغانستان غریزو سیمو کې نسبت روسانو ډېر بلد ول. هغوی ډېرې وخت په غرونو کې پیاوړي کېدل او روسي ځواکونو یواځې ستر ښارونه په ولکه کې نیولي وو. زیاتره سترې جګړې به د پاکستان سره پوله لرونکو ولایتونو کې کېدلې، مجاهدینو به دولتي ودانۍ او همدارنګه شوروي اتحاد کمپونه په نښه کول.

تر ۱۹۸۲ کال پورې مجاهدینو د نړۍ دوهم ستر قوت څخه ۷۵ سلنه سیمه لاندې کړه. شوروي اتحاد غوښتل چې دا انقلاب زر له مینځه یوسي او درې نوې ستراتیژیو باندې یې کار پیل کړ:

لمړې: *ډارونه* - روسي ځواکونو هوایي او ځمکني بریدونه پیل کړل چې پکې کلي، فصلونه او څاروي هم شامل وو. دې کې زیاتره هغه کلي ول چې جهادي ډلو ته به یې مرسته رسوله تر څو د جهادیانو سرچینې له مینځه ویسي او هغوی وطن پریښودو ته مجبور کړي. په دې بریدونو کې زیاتره ملکي کسان وژل کېدل.

دوهم: *جاسوسي* – روسي ځواکونو مجاهدینو منځ ته جاسوسان ولېږل تر څو د هغوی پلانونو باره کې بیرته دوی ته راپور ورکړي.

دریم: *محدودیت* –روسي ځواکونو د مجاهدینو ډلې په ځانګړو سیمو کې قید کړې تر څو بېرته جګړې ته راپورته نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسي ځواکونو همدارنګه د افغانستان استخباراتو شبکې يانې خاد (خدمت اطلاعات دولت) يا د افغان خفيه پوليس هم وګمارله تر څو په پټه استخبارات راټول، غلط مالومات خپاره، او د مجاهدينو ترمنځ غلط فهمي رامنځته کړي. هيڅوک نه پوهيږي چې خاد څومره بريالې وو او د مجاهدينو ډلو ترمنځ يې بحثونه راوپارول. له همدې کبله د مجاهدينو جګړو موثريت کم شو ځکه هغوی د يووالي پر ځای يو بل سره په لانجو شول.

مجاهدين تراوسه هم نه ول مړاوي شوي. هر ورځ به ډېر وژل کېدل او هغومره نور به رضاکارانه دوی سره يو ځای کېدل. نفوذې هېوادونه لکه امريکا، پاکستان، مصر، سعودي عربستان او چين به مجاهدينو سره مرسته کول. مجاهدينوتر ۱۹۸۵ کال پورې تر ۴۰۰۰ پورې هډې درلودې چې هره ورځ ويجاړونکې حملې کولې. تر ټولو عام هدفونه لکه د برېښنالېږد تارونو ويجاړول، راديو سټيشنونه له منځه وړل او دولتي ودانۍ له منځه وړل. مجاهدينو ټولو ډلو به د ورځې ۸۰۰ راکيټونه د پاکستان پولې نه په دولتي ودانيو توغول. يواځې په د ۱۹۸۵ او ۱۹۸۷ کلونو تر منځ هغوی ۲۳۵۰۰ ځله په دولتي ودانيو بريدونه کړي ول.

تاوتريخوالې په ورو روان خو ډېر کړکيچن حالت ته ورسيده. روسي جيټ الوتکو به هغه ځايونه چې د مجاهدينو تر ولکې لاندې ول بمباري کول او په زرګونه خلک به ټپيان او وژل کېدل. يو زوړ سړی چې اختر محمد نومېده دا ورځ يې نه هيريدونکې وبلله،

هغې ويل، "ما خپله د ماشومانو د بدن ټوټې راټولولې تر څو ورته کنده وباسم او خښ يې کړم. ډېر نور مړي هم پراته ول خو د بمبارۍ له ويرې ډېر ستونزمن ول چې هغوی ټولو ته قبرونه وکنم او خښ يې کړم. هغوی ټول همله پراته ول."

مجاهدينو سره بله چاره نه وه نو ماشومانو ته يې هم ټوپکونه لاس کې ورکړل. تاوتريخوالی لا پسې اوږديده، پلونه ورانېدل، لوی لارې بندې شوې، صنعتي ودانۍ ويجاړې شوې او پوليس سټيشنونه هم ترلي پراته ول.



په پټه د دولتي چارواکو وژل کېدل عام شول. افغانستان يو مثبت بدلون ته اړتيا درلوده.

د جګړې زور تر ټولو پورته نقطې ته ورسېده کله چې د کابل برېښنا هم پرې شوه. وسله والو د ښار برېښنا لېږد تارونه پرې کړي ول. وروسته يې د باختر الوتکه چې د پورته کېدو په حال کې وه وويشتله او ټول ۵۲ مسافرين پکې ووژل شول. شوروي اتحاد دې پريکړې ته ورسېدل چې جګړه نوره اخري حد ته رسيدلې. هلته نور انساني پولې نه وې.

د ۱۹۸۷ کال په نيمايي کې شوري اتحاد اعلان وکړ چې خپل ځواکونه به له افغانستان څخه وباسي. د جګړې پای ښکاره شوه، د کارمل حکومت، خاد او د افغان پوځ هم وارخطا شول ځکه که روسان ووځي نو دوی به يواځې ځان چيرته مجاهدينو سره جنګېدلی شي. روسي ځواکونو خپل بريدونه راکم کړل او وتلو ته يې تيارې نيولو، د سولې لپاره همدا يوه لاره پاتې وه.

په ۱۹۸۹ کال کې روسي ځواکونو افغانستان پرېښود. لس کاله يې هلته تير کړي ول، ۳۰۰۰۰ روسي سرتيري ووژل شول، ۵۳۷۵۳ ټپيان او نور ۴۱۵۹۳۲ ناروغان ولېږل شول. او همدارنګه ۸۵۰۰۰۰ او يو نيم ميليون تر منځ افغانان هم ووژل شول. دوه کلنې بمبارۍ زراعتي او اوبه خور سيسټم ويجاړ کړل. په هاغه وخت کې افغانستان د نړۍ تر ټولو بې وزله هېواد ګڼل کېده. د ملګري ملتونو په احصايه کې افغانستان د نړۍ ۱۷۴ هيوادونو کې ۱۷۰ نمبر ته رسېدلې وو. د ملګري ملتونو دا احصايه د ژوندانه او په تعليمي کچې پورې اړوند وه. جګړې ځپلي افغانان د ژوند تر ټولو ټيټه کچه ژوند، لږ ژوندي پاتې کېدل او تعليم ته لاسرسې نه درلودل.

که څه هم شوروي اتحاد افغانستان پريښود خو دننه ټوټه شو. مجاهدينو په هيڅ شکل د کارمل کمونيستي حکومت سره جوړجاړې ته نه تياريدل. داخلي ډلو په سترو ښارونو بريدونه پيل کړل. په ۱۹۹۰ کال کې ۴۰۰۰۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. سمبولي ولسمشر کارمل یواځې د قدرت پاتې کېدو لپاره جنګېده. خو په پایله کې یې هڅو هیڅ ګټه ونکړه.

د مجاهدینو یو افراطي ډله چې د طالبانو په نوم یادیده، په ښه وسلو سمبال وه، د ولسمشر واک یې په لاس کې واخیست. د ۱۳ کلنې کورنۍ جګړې وروسته داسې ښکاریده چې افغانستان د ارامۍ ساه واخیسته خو د ډیرې لږې مودې لپاره وه. طالبان یوه اسلامي بنسټپاله ډله وه چې په لږ وخت کې یې په ټول افغانستان حکومت پیل کړ. اسامه بن لادن لپاره روزنیز کمپونه پکې جوړ شول او لدې ځایه یې د نړۍ تروریستي عملیات تر سره کول.

ددې اوږدې جګړې له کبله بربادۍ سره سره ډیر زیان سیاسي کړکیچ، وژنې او طالبانو تخم زیاتیدل خو ددې زیات د افغانستان په راتلونکي نسل بده اغیزه درلوده. ۳،۳ میلیونه افغانان د خپلو ماشومانو سره ګاونډېي هېواد پاکستان ته وتښتېدل. دا نسل په مهاجري کمپونو کې غټ شول چې ورځیني تاوتریخوالي سره مخامخ ول. هغوی دا زده کړل چې څنګه په سختو شرایطو کې ژوندي پاتې کیدای شي. روسي قوماندان تارلان ایواژو چې په هاغه وخت د افغانستان جګړه کې و ویلي وو چې هیڅ فرق نه کوي چې ماشومان چیرته غټ شوي خو د هغوی تقدیر په جګړه کې دی، " هغه ماشومان چې په افغانستان کې د جګړې په پیل کې زیږیدلي، جګړې ته راوستل شوي. دا د هغوی د ژوند لاره ده"

د طالبانو په کتار کې د نوي ځوانانو راګډېدل د ایواژ تیوري سمه ثابته کړه. طالبان یو وحشي کړنلاره پر مخ بوتله چې د بې رحمه مشرانو یې مشري کول او د اسلامي قانون نافذول یې په زوره په خلکو منل. ایواژ او نور به په دې پوه شي چې د افغانستان نوی نسل د تاوتریخوالي پر بنسټ راپورته کیږي. د پاکستان په ویجاړ کیمپ کچه ګړۍ کې افغان ماشومان د نا څرګند، تت او د خپل هېواد کړکیچن حالاتو لپاره روښانه راتلونکي بنسټ کېښود. دا هغه ځای دی چې د افغانستان د ناڅرګند دهلیز کیسه پکې شروع کیږي.



۳

# د یو مهاجر ژوند

د ۱۹۹۰ کال د مارچ میاشتې یوه باراني شپه وه. د پاکستان ختیځ لودیځ سیمې، د پېښور تر څنګ د موټر یو تت غږ واوریدل شو. د موټر تیرونه په ختو ککړ د کچه ګړۍ کیمپ ته راروان وو. د موټر څراغونه په خړه هوا کې تت ښکاریدل.

کچه ګړۍ ته رارسیدو سره د موټر شاتنۍ برخې څخه راښکته شول. د کور ټول سامانونه لکه کالي، لوښي، کمپلې، پاتې شوې خوراک په زړه ټوټه کې تاو شوي تر څو یخ نه شي. هغوی په بیړه خپل سامانو د موټر څخه په ختینه ځمکه راوغورځول او د کیمپ چارواکو پرې چغې وهلې تر څو بیړه وکړي. حال دا چې په زرګونه د همدوی په څېر د افغانستان پولې سره ولاړ ول. مسافرو خپل سامانو راښکته کړل او د ټرک چلونکې پرته د څه ویلو یا خدای پامانۍ له هاغه ځایه ولاړ.

د یو څو شیبو لپاره د موټر څخه ۱۲ ښکته شوي مسافر د موټر لوګي کې ورک ولاړ ول. هغوی خپل سامانونو ته کتل او دا یې فکر کاوه چې څه وشول. افغانستان ۱۲ اوسیدونکي له لاسه ورکړل. پاکستان ۱۲ اوسیدونکي تر لاسه کړل. د دوی په څېر زرګونه نورې کورنۍ هم کچه ګړۍ ته مهاجری شوې وې.

په دې کیمپ کې تقریبا ۴۰۰۰۰ نور افغان مهاجر هم میشت ول. هر څو ساعتونو کې به همداسې نور ټرکونه رارسیدل او نور مسافر به یې دلته ښکته کول. هغوی ټول یو بل سره نابلده ول، پرته د یو ګډ عنصر څخه چې دوی ټولو خپل کور هېواد څخه راتښتېدلي ول، هغوی نور نه پوهیدل چې څنګه تاوتریخوالي سره ژوند وکړي او د خپلو بچو لپاره د یو روښانه راتلونکي زمینه برابره کړي. که څه هم د ژوندانه کچه یې ډیره ټیټه وه خو بیا هم کچه ګړۍ د مهاجرینو لپاره یو څه امن ځای وو. دا ځای د جهنم اور په څیر ګرم وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې لوړه کچه به یې تر ۱۲۵ فارنهایټ ته رسیده. مهاجرینو د شپې سبا کولو لپاره خیمې لګولې وې. د ډیرې بې وزلي او اسانتیاوې نشتوالي له کبله څو کورنۍ په یوه خیمه کې یوځای اوسیدلې.

په هاغه وخت کې هغوی برېښنا، ټیلیفون، یا د اوس زمانې هیڅ کوم اسانتیاوو ته لاسرسې نه درلود. مهاجرینو که په هره لاره وي تر څو د ژوند لومړنۍ اړتیاوې راپوره کړي. د یوې بوشکې اوبو لپاره باید د کیمپ منځ ته لاړ شي چې د ورځې به یې دوه ځله اوبه ورکولې او ټوله پروسه کړونکې وه. ډیر زر مهاجرینو د کچه ګړی چارواکو ته لاریونونه شروع کړل.

هغوی غوښتل، " مونږ ته کافي اندازه خوراکي توکې، اوبه او درمل نه رارسیږي. مونږ د څښلو لپاره اوبه نه لرو، لمبا خو پریږده. او خیمې هم ټولو ته نه دي ورکړل شوي. مهرباني وکړئ زمونږ ستونزو ته لاره پیدا کړئ."

چارواکو به هم دوی ته سیاسي ځوابونه ورکول " که وېش سم نه وي نو مونږ تاسو سره مرسته نه شو کولای. دا زمونږ مسولیت نه دی"

دا د افغان مهاجرینو د ژوند کیسې وې چې کیمپونو کې به اوسېدل. هغوی نور هیڅ نه غوښتل یواځې خوشاله او ژوندي پاتې کېدل یې غوښتل. سړیو په فابریکو کې دندې پیدا کړې او د ورځې په ۱,۲ ډالرو کار کاوه. ډیرو ماشومانو ښوونځي پریښی او فابریکو کې یې کارونه کول. د فابریکو څښتنانو به د یوې پیسې ترې کار اخیسته. هغوی به د فابریکې هره یوه کړکۍ او دروازه بنده کړې وه تر څو یو کس هم دقیقه مخکې لاړ نه شي. ښځو به هم د دیګ سوند لپاره اضافي شیان راټولول او خوراک به یې پرې پخوه. دا د هغوی دنده وه چې ټول خوراک وساتي. هغوی به هوټلونو مخې ته ولاړ تر څو پاتې شوي خوراک تر لاسه کړي. د ملګري ملتونو مرستندویه خیمو به هم کله کله توکې وېشل. زیاتره  ښځو به خپل مخونه په تورو حجابونو او شنو بوکرو کې تاو کړي ول، او ځانونه به ورته بد ښکاریدل خو بیا هم د ژوندي پاتې کېدلو لپاره باید داسې شوي وای. مهاجرین به د ډیر خوراک، اوبو او درمل په رانیولو کې یو بل سره شخړې کولې. کیمپ ته



راتلونکې لیدونکې چې زیاتره به ډاکټران ول، ښځو به ورته په چغو ویل "زما بچې وګوره، راشه زما د بچې د پوستکي بخار وګوره! ماته لږ درمل راکړئ!"

که څه هم په کیمپ کې اوسیدل ډیر ستونزمن ول، خو هلته بیا هم یو څه روښانه او خوښې شیبې وې. لکه د ماشومانو چې خپلو کې یې کلکه ملګرتیا جوړه کړې وه. د ۱۹۹۱ کال په نیمایي کې د نورو شپو په څېر، درې ماشومان چې غوښتل یې د پیښور ښار سره نږدې د اورلګید فابریکې ته لاړ شي.هغوی داسې ښکاریدل لکه د امازون ځنګلونو څخه لوڅې پښې، خیرن مخونه او خولو کې ډوب راغلي وي. ډیره څرګنده وه چې کومې خوا منډې وهي، درې واړه په یو بل وروغورځیدل، دا ځای د پیښور ښار د کچه ګړی لرګین پل و.

"دووسه، خیال کوه چېرته روان یې!" لومړي ماشوم وویل.

هغې نیمه پښتو او نیمه انګلیسي ویله. پښتو هغه ژبه ده چې پښتانه یې خپلو کې وایي. دا خلک د افغانستان په جنوب ختیځ او د پاکستان په شمال لودیځ برخو کې اوسیږي. پښتانه د افغانستان تر ټولو ستر قوم دی.

" وبښئ، وړاندې تر دې چې مشر د فابریکې دروازه بنده کړي غواړم د اورلګید فابریکې ته لاړ شم" دوهم ماشوم وویل.

" زه د اورلګید فابریکې کې کار کوم" وروستي ماشوم وویل، داسې لکه د ژوند تر ټولو خوږ خبر چې یې اوریدلې وي.

لومړنی ماشوم نور هم خوشاله شو ځکه همزولي هلک یې هم پښتو خبرې کولې. هغه زر خواته ورغې او ځان یې ورسره معرفي کړو،

" ته هم پښتون یې! خوشاله شوم په لیدو دې. زما نوم تاج ملک عالم دی." هغې وروستي هلک په لور اشاره وکړه، " دا زما کشر ورور دی، کریم خان صادق."

تاج ته خبرې کول خوند ورکوي. ډیر کم خلک د هغې په څېر د خبرو کولو انداز لري. هغه ټیټ قد، ګرد او غنم رنګې دی. د سر په منځ کې یې ویښته توی شوي دي. خو بیا هم ښه نیغ او ډاډه ولاړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



" هو، زه پښتون یم" دوهم هلک وویل،" زما نوم رییس احمدزی دی. زه خبر نه وم چې تاسو دواړه ورونه یاستئ."

رییس د تاج مخالف غلی، نرم غړیدونکی او ارامه کس دی. هغه د خبرو وړاندې فکر کوي. هغه لږ خوار او ډیر ژور دی. د هغې په تندي کې یو ویرونکې داغ هم ښکاري.

" څو کلن یې؟" تاج ترې وپوښتل.

رییس مسک شو" په غیر رسمي ډول، فکر کوم اووه کلن یم، درې کاله کم او زیات... او یا څلور. بس د ۷ او ۱۱ کلونو تر منځ یم. زما مور زما عمر د اوسني ولسمشر پر بنسټ برابر کړی دی."

" ښه نو دا خبره ده، اوسنی ولسمشر څوک دی؟ یو خر؟" کریم په مسکی لهجه وویل.

هر څوک د کریم په ټوکو تکیه کولای شي. هغه د یو ټوکي جوړېدو ښه اکټنګ کوي. که هر رنګه حالات وي، هغې ته فرق نه کوي، تل یې په مخ کې حیرانونکې مسکا خپره وي. یواځینی موضوع چې هغه یې جدي اخلي د هغې د عضلاتو یا مټو غټوالی دی... او کېدای شي هغه په کچه ګړی کې تر ټولو غښتلی هلک وي.

" هلته افغانستان کې خو ولسمشران ډیر زر بدلیږي او زه هیله لرم چې بیرته هلته لاړ شم." رییس ځواب ورکړ. د تاج په سترګو کې د خپګان کرښې ښکاره شوې. هغه لکه د افغانستان لپاره څه کول غواړي.

" زه درسره همغږی یم. هر چیرته جګړې او تاوتریخوالی دی. خو یوه ورځ به مونږ هم خپل هېواد ته سوله او ویاړ راوړو."

تاج ددوی دواړو څخه په عمر کې مشر ښکاریده. کریم او رییس دواړه تقریبا اته کلن ول او تاج ۱۴ کلن مالومیده. افغانستان ته دهغې بیرته تګ د فابریکې مشر څخه د اجازې اخیستلو له مینځه یوړ.

" تاسو کمعقلان دلته ولې ولاړ یاستئ؟ خبرې بندې کړئ او فابریکې ته ننوځئ. مونږ باید ګټه وکړو. پیسې د اسمان نه نه راپریوځي. " هغې وویل.



د فابریکې مشر سترګې تکې سرې وې. کېدای شي هغې اضافي درمل خوړلي وي او یا کېدای شي د فابریکې کوم زهري غاز یا کیمیاوي موادو سره مخ شوی وي. تاج، کریم او رییس هغې ته سترګو کونج کې وکتل. هغې هیڅ پام ونه که او په مخه روان شو.

هغوی له ځان سره وویل چې د فابریکې د مشر اخطار څخه پند واخلي، درې واړو خپلې خولې بندې کړې او د اورلګید فابریکې په لور روان شول. هغوی صرف غوښتل چې د شپې شفټ کار هم وکړي. دننه فابریکه هم د زندان د کوټې غوندې وه، بد بوی او ډیر بیروبار په سر اخیستې وه. تشنابونو ته پاکې اوبه هم نه رسیدې.

خوندیتوب اوس هم یو مهم اصل وو. بیړني وتون خو د چا فکر کې هم نه و. د برېښنا تارونه به هر ځای لوځ ول او ددې ماشومانو ژوند ته یې د یو ځل لمس کېدو چیلینجونه ورکول او لنډه دا چې ټوله ودانی هم د لویدو په خطر کې وه.

د ټولو تنکي ځوانانوماشوم توب کلونه هم دې ځای کې تېر شوي. دلته باید دوی د غلامانو په څېر د هرې خبرې اطاعت وکړي که څه هم د هغوی ژوند هره ورځ په خطر کې لیدل کېده. دې ماشومانو به پرته د یوې کوچنی دمې پرله پسې ساعتونه کار کاوه. د صنعتي ماحول له کبله هر ماشوم د بندونو دردونه او یا هم د ساه اخستلو ستونزو سره مخ ول خو بیا هم هغوی د ژوند نورو برخو ته یو څه هیله من ښکاریدل.

ځوان افغان مزدورانو به ښه ژوند یواځې تصور کولای شو، خوښ خلک یې کېدای شي ونه لري. هغوی په دې هم پوهېدل چې یواځې ژوندي پاتې کېدل، ساه اخیستل او خندل تر ټولو ارزښتناک حق دی. په بل اړخ کې تر ټولو خوښ خلک هغه څه چې غواړي تر لاسه کوي یې. که څه هم دې خلکو د ځان خوشالولو لپاره دنیا راټوله کړې وي خو بیا هم نورې هیلې لري او ډیر څه غواړي، بیا تر ډیره فکر کوي چې څه به پاتې وي خو دوی به هیڅکله په هغه څه چې لري یې قناعت ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاج، کريم او رييس په دې مفهوم ښه سره غږيدلي. هغوی په يو ځای ستونزمنو حالاتو سره رالوی شوي دي. کله چې به هم فابريکې ته لاړ نشول نو بيا په يو ځای غير عادي کارونه تر سره کول. يو ډير ښايسته او نوې ملګرتيا د ژوند په ستونزمنو حالاتو کې ددوی ترمنځ ريښې وغځولې او دا ريښې تر ډيره ښکته سره لاړې. تر څو چې دا درې واړه پوهيدل نو په کچه ګړۍ کې يې يو کال په لوبو، کارونو او ژوندي پاتې کې تېر شو او اوس دوی د مهاجرو په څېر اوسيدو سره عادي شوي ول.

هرومرو هر څه به د تل لپاره يو شان نه وي. دا هلکان په دې پوهيدل چې بدلون د ژوند يو اساسي برخه تشکيلوي. کله چې بدلون څرک راښکاره شي نو دوی به له واره پکې ځانونه غورځولي وي، قسمت به ازمايي او خوند به ترې اخلي. دا بدلون په ۱۹۹۲ کال کې راورسيده.

د مارچ په ۲۵ تاج او کريم د يو تريخ غږ سره راپورته شول. کېدای شي کيمپ نا امنه شوی وي او يا کيدای شي د افغانستان جګړه کچه ګړۍ ته هم راورسيده.

دواړو ورونو د کور په ديوال کې کوچني سوري په لور ورمنډې کړې. په دې باور کړئ چې يوه بشپړه کورنۍ د ختو په درې کوټو کې ژوند کوي، دا د کور په څېر نا بلکې د ختو يو خيرن ډيري غونډې ښکاريده. کله چې تاج او کريم د سوري نه بهر کتل نو دوی يو غير متوقع څه وليدل. د کيمپ مهاجرو او چارواکو ټوپونه وهل، نڅا يې کوله او ورسره يې سندرې ويلې او يوه خړه دوړه يې جوړه کړې وه.

کريم حيران شو. آيا هغه د رخصتۍ څخه نه وو خبر؟ سهار هم ډير وختي وو. اسويلي يې وويست، بهر ووت او د هغه خلکو ننداره يې کوله. تاج هم ورپسې ووت. دواړو ورونو فکر کاوه چې ولې مهاجر دومره خوشالي کوي، له لرې څخه يې رييس وليد چې ددوی په لور راروان دی. هغې وينته په يو طرف اړولي ول او د وريځو سره يې هماغه داغ له ورايه ښکاريده. هغه هم ددوی په څېر ناخبره ښکاريده،



" سلام! خوړو ملګرو! دا څه کيسه ده؟" هغې په ارامه لهجه ملګرو سره ستړي مشي وکړه.

تاج ځواب ورکړ،" مونږ هم همدې ته حيران يو. راځۍ چې خلکو نه پوښتنه وکړو چې ولې دومره خوشاله دي. هرومرو کوم ښه خبر دی." پرته د نور څه ويلو هغوی د بېړوبار خلکو په لور روان شول. تاج د نابلده خلکو سره ملګرتيا کې دوهم ځل فکرهم نه کوي. کريم او رييس هم ورپسې وروان شول.

تاج د کيمپ يو چارواکي ته په زوره ورغږ کړ" ښاغليه! ولې دا خلک ليوني شوي؟"

د چارواکي غږ يې سم وانه وريده. تاج چې به د هر چانه پوښتنه کوله نو نيمه خبره به چغو کې ورکه شوه، خو بيا يو څو په زوره چغې وهلې او ويل يې،

" پاکستان نړيوال جام وګاټه!"

" د څه شي نړيوال جام؟" تاج بيا پوښتنه وکړه.

" د کرکټ نړيوال جام!"

تاج هيڅ درک هم نه کړه چې دهغې پوښتنه څومره منونکې وه ځکه پاکستان کې اوسيدل او د کرکټ څخه نه خبريدل، ډيره غير عادي خبره وه.

کرکټ د درې واړو احساسات راوپارول. دا ورته ډيره حيرانونکې وه. له دې وروسته هغوی په دې پوه شول چې څنګه د ميچ سکور وي او کرکټ څنګه وي خو په دې پوه نه شول چې څنګه د کرکټ لوبه وکړي. د کرکټ لوبې دا لمانځل په ډيره غټه کچه ول. خو بيا هم نه تاج، نه کريم او نه هم رييس د نړيوال جام په ارزښت پوه شول.

په کچه ګړۍ کې زياتره افغان مهاجرو د کرکټ لوبه د افغانۍ لوبې توپ ډنډې سره تشبيح کوله. توپ ډنډه لوبه کې هم يو بيټ او يو توپ استعماليږي خو ډير ورته والی بيس بال لوبې سره لري. تاج، کريم او رييس

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم توپ ډنډې لوبې سره کچه ګړې ته راتلو نه وړاندې افغانستان کې بلد شوي ول. نو ځکه د کرکټ مفهوم دوی ته دومره نوی نه و. هغوی په ډېره لیوالتیا  نړیوال جام ته لاره موندلو کې لټون پیل کړ او ورسره د کرکټ لوبې زده کول یې هم اړین وګڼل. په کیمپ کې یو کس یوه راډیو هم درلوده. له نیکه مرغه دا هلکان هم یو ښه شي پورې ونښتل او بیا تر ټولو نیکمرغه کورنۍ هغه وه چې یو ساده تلویزیون یې هم درلود.

په طبیعي ډول دې کورنیو به د انګلستان او پاکستان تر منځ نړیوال جام لنډېز کتلو. تاج، کریم او رییس هم غلي غونډې په دې ډله کې ورننوتل. کریم به یو څو کسان هاخوا دیخوا ټیله کړل تر څو ځانته ځای پیدا کړي او لوبه وګوري. درې واړه به د خپو ګوتو په څوکو ولاړ ځکه ددوی مخې ته له دوی څخه مشران هلکان ولاړ ول او بیا تاج خو له قده هم ټیټ و نو ځکه هغې خو به بیخي څه لیدل هم نا.

خوهیڅا له دې ګڼوډۍ څخه سر نه ټکوه. په پایله کې دغه ویډیو بکسې د کرکټ او کچه ګړې مهاجرینو تر منځ اړیکه ټینګه کړه. دې ویډیوي بکسې په دې درې واړو جادو کړې وو او له خوا نه یې نه لیری کېدل. هغوی به بې حرکته ولاړ ول.

" د ۱۹۹۲ کال نړیوال جام. مونږ په میلبورن کې یو، ډېر جالبه وخت دې او زه ډاډمن یم چې تاسو به هم ښایسته ورځ ولرئ. د لوبې لمړی توپ اچول کیږي!" تبصره کونکو په جوش سره خبرې کولې. د پاکستان توپ لمړي توپ وهونکي عامر سهیل او رمیز راجا توپ وهنې ته ولاړ دي. ټول ننداره چیان ورته چغې وهي.

" دلته په میلبورن کرکټ میدان کې زړه راښکونکې چاپیریال دی. دوه غښتلې لوبډلې د نړیوال جام خپلولو لپاره لوبیږي،" تبصره کونکي لګیا ول.

د لوبې لومړي څو توپونه د عامر سهیل لپاره ستونزمن ول ځکه د کرکټ توپ بیخي نوی و او توپ د هغې د سر څخه بره تیریده.



" پیل خو یې ډېر خطرناک دی" تبصره کونکو عامر سهیل ته په کتو وویل.

پاکستاني توپ وهونکي په لږ وخت کې د توپ سره بلد شول. هغوی په منډو پیل وکړ. په څلورم اوور کې رمیز راجا وسوځېد، پاکستان لومړۍ ویکټه له لاسه ورکړه.

" د رمیز راجا له خوا دا شاټ... او اوټ! هغې بیخي نیغ ووهه، هغې بیخې نیغ...اوهو، امپایر د نو بال اشاره وکړه! توپ نیونکي نړدې وو چې ویې سوځوي، اووو، دا څه روان دي!" تبصره کونکي خپله هره خبره نیمایي کې پرېږدي.

د رمیز راجا شاټ ښې لور ته د انګلستان توپ نیونکي کیچ کړی و. رمیز راجا فکر وکړ چې اوټ دی او روان شو خو د پیچ منځ پورې رسیدلی وو چې امپایر د نو بال اشاره کړې وه، یانې رمیز راجا نه دی سوځېدلی او ډېر زر یې د ویکټو په لور منډه کړه تر څو رن اوټ نه شي. انګلستان توپ نیونکي هم هڅه وکړه چې هغه وسوځوي. کله چې تبصره کونکي لږ غلي شول نو کتونکو ته یې وویل، " امپایر سټیو بکنر ددې لپاره نو بال ورکړ چې توپ د رمیز راجا له اوږې څخه پورته و. پایله دا شوه چې رمیز راجا ونه سوځېده."

له دې وروسته میچ نورمال روان و. پاکستاني لوبغاړو ټول پنځوس اورونه ولوبول او ۲۴۹ منډې هدف یې وټاکه. پاکستاني لوبډلمشر عمران خان او جاوید میانداد پنځوسیزې ووهلې او انضمام الحق په ۳۵ توپونو ۴۲ منډې جوړې کړې.

هغه اوس هم د خپل ملګري سره خواکې تلویزیون مخې ته ولاړ و. رییس به غلې غلې د پاکستان لوبغاړو نومونو پوښتنه کوله. هغې ته به د لوبغاړو نومونه په اسانۍ نه زده کېدل او په ځانګړې توګه د انضمام الحق نوم. رییس به تل ژور سوچونه کول.

" دا نوم څنګه ویل کیږي؟ انسام هاک؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تلویزیون مخې ته ټولو خلکو د رییس په پوښتنه ښه وخندل. د هغې تلفظ ډیر عجیبه و. دویمه ټوکه لا نه وه جوړه چې دوهم پړاو پیل شو. پاکستان اوس توپ اچونه کوله.

" لمر غورځیدلې دی. د ماښام ٦،٤٥ بجې دي او اوس هم د میلبورن په ښار کې ګرمي ده. دلته په استرالیا کې تل نوی ریکارډ جوړیږي ... د نن ورځې نندارچیان ۸۷،۱۸۲ تنه دي. څه یوه ښایسته منظره ده." تبصره کونکي یو ځل بیا تبصري پیل کړې.

د انګلستان لومړي توپ وهونکي ګراهام ګوچ او آین بوتام راووتل. د نړیوال جام ګټلو لپاره دوی ته په ۵۰ اورونو کې ۲۵۰ منډې جوړول دي. د کچه ګړی مهاجرین خبر ول چې لوبه پاکستان ګټلې خو بیا هم د تلویزیون مخې ته سیخ کړي ناست ول. انګلستان دومره غښتلې نه وو چې پاکستان سره ډغره ووهي. بوتام په صفر وسوځید. د هغې پر ځای الیک سټیورټ هم زر بیرته لاړ. تبصره کونکي لګیا ول، " د پاکستان لپاره یوه بله ویکټه. الیک سټیورټ هم وسوځید."

" ډیر ښه توپ یې وغورځوه. ډیر زبردسته بال یې وکړ"

پاکستاني لوبغاړو یو سره خندل او خوشالی یې کولې. د تلویزیون مخې ته مهاجرین هم ډیر خوښ بریښیدل، ځکه انګلستان په اته اورونو کې یواځې ۲۱ منډې جوړې کړی وې او دوه لوبغاړي یې سوځیدلي ول. انګلستان باید په ۴۲ اورونو کې ۲۲۹ منډو هدف پوره کړي که چیرته په همدې ترتیب روان وي نو پنځوس اورونو کې به یواځې ۱۳۱ منډی جوړې کړي او پاکستان به یې په ۹۸ منډو وګټي.

رییس اوس د لوبغاړو په نومونو سوچ کاوه. یو ناڅاپه یې وویل

" الیک سټیورټ! دا ډیر اسانه نوم دی. زه غواړم الیک سټیورټ په څېر اووسم."

تاج د نیوکې په څېر وویل،" او ته ولې غواړې د الیک سټیورټ په څېر واوسې؟ هغه خو په اووه منډو وسوځید. دا خو ښه نه ده."



" بس ماته یې نوم زده شو!"

رییس ډیر متاثره شوی و. سټیورټ خپل بیټ په تخرګ کې نیولې او روان شو.

" الیک سټیورټ په اووه منډو وسوځید. انګلستان ته ستونزمنه شوه." تبصره کونکي خپه انداز کې وویل.

انګلستان توپ وهونکو د پاکستان ۲۴۹ منډې هدف په لور روان خو شیبه په شیبه به یې ویکټې له لاسه ورکولې. پاکستانیانو خپله خوښي نه شوه قابو کولای. د پاکستاني لوبغاړو خوښي هغه وخت لاپسې زیاته شوه چې جاوید میانداد د انګلستان تکړه لوبغاړی نیل فیربرادر چې تر اوسه یې ٦٢ منډې جوړې کړې وې، وسوځاوه. د نیل فیربرادر سوځیدو سره د انګلستان اوومه ویکټه هم لاړه او ۱۸۰ منډې یې جوړې کړې وې.

د انګلستان ټول لوبغاړي په ۲۲۷ منډو وسوځیدل. د پاکستان لوبډلمشر عمران د انګلستان وروستی لوبغاړی ریچارډ الینګ ورت وسوځوه. الینک غوښتل چې په دې توپ شپږیزه ووهي خو د توپ نیونکي لاسونو ته ورغی. لوبغاړي، ننداره چیان او د کچه ګړی مهاجرینو توپ ته په هوا کې کتل چې په اسمان کې ورک و خو بیا هم د ونه رسیده.

عمران خان په خپل ملګري باندې چغه کړه " کیچ ایټ!"

تبصره کونکو هم چغې وهلې، " ویې ګټله!پاکستان د ۱۹۹۲ کال نړیوال جام وګاټه! د ۸۷۰۰۰ خلکو پر وړاندې یې ډیره ښه لوبه وکړه. عمران خان په مشرۍ یې بریالیتوب ترلاسه کړ. څه یوه ګټه"

که څه هم عمران خان په پنځه نړیوال جامونو کې برخه اخیستې وه خو دا یې لمړنۍ ګټه وه. د پاکستان دا ګټه افغان مهاجرین هم وهڅول. په زیات کوښښ او ټینګې ارادې هر خوب ریښتیا کیدای شي.

تلویزیون بیا راغی، اوس پکې پاکستاني لوبغاړي راښایي چې په ځمکه یې سرونه ایښي دي. هغوی د الله ج شکر ادا کوي ځکه دوی ته یې دومره ستر بریالیتوب ورکړ. د مسلمانانو خدای الله ج دي. کله چې دوی خپل جام

(c) ketabton.com: The Digital Library



راونیوه او بره ښکته یې کاوه نو ننداره چیانو د خوښۍ نه نورې هم چغې کړې. د پاکستان بیرغونه یوې بلې خوا رپېدل.

یو کرکټ لوبې ټوله کچه ګړۍ په سر اخیستې ده. کله چې پاکستان لوبه وګټله ټول کیمپ کې چغې وې. هر چا سره ددې لوبې زده کولو لیوالتیا پیدا شوه. مهاجرو به چې هر ځای پیدا کړ نو دا لوبه به یې پکې کوله. تاج، کریم او رییس هم ډیر زر په دې لوبې راواړیدل.

دا درې هلکان د کوڅې کرکټ لوبې ته ورننوتل. دې هلکانو د نړیوال جام لیدو څخه وروسته ډیره لیوالتیا پیدا کړې وه. زیاتره به د کوڅې لوبې ځارلې او وروسته به یې د لوبغاړو نه د کرکټ باره کې مشورې اخیستې او چلونه به یې ځینې زده کول.

" هر کله توپ د توپ اچونکي په لاس کې ګوره، د اول سر نه چې توپ اچونې ته منډه وهي له هماغه ځایه یې ځاره نو تاته به مالومات کیږي چې توپ اچونکی کومې خوا غواړي توپ غورځوي،" یو نااشنا لوبغاړي ورته وویل.

" تاسو افغانان یاستئ. افغانان ډیر غښتلي وي، نو کوشش وکړئ چې هر څومره کیږي په تیز او زور سره توپ وهنه او توب اچونه وکړئ،" یو بل ورته دا وویل.

په کیمپ کې یې همداسې نورو څخه هم مشورې واخیستې او بیا د کرکټ باره کې ډیر زر پوه شول. خو له بده مرغه هغوی ته د لوبو کولو موقع نه ورتله. کرکټ خو ډیر قیمتي دی. کرکټ لپاره نوي یونیفورم، ویکټو، ټینس توپ، سپک بیټ او داسې نور شیان ضرورت وي خو پیرل یې ګران ول. د کرکټ لپاره نور سامان خو لا پریږده، تاج، کریم او رییس سره خو د یو ټینس توپ پیسې هم نه وې. د اورلګید فابریکې څخه لاسته راغلې پیسو به یې خوراکي توکې اخیستې او خپلې کورنیو سره به مرسته به یې کوله.

یانې دا درې هلکان باید نوښتګر اووسي. هغوی د کرکټ لپاره توپ خپله هم جوړولای شو، لکه د کمیس او نور کپړی ټوټې به یې په دایروي



شکل کلکې تاوې کړې او توپ به یې ځیني جوړ کړ. د بازاري بیټ پر ځای به یې د ونې یو لرګی هوار پرې کړ، یو سر به یې ورته لږ نری کړ او د بیټ پر ځای به یې استعمالوه او د ویکټو پر ځای به یې خپل بوټان او څپلکې ایښودې، که چیرته به توپ د دوه بوټانو ترمنځ تېر شو نو توپ وهونکی به وسوځیده. د دواړو بوټونو ترمنځ فاصله به د توپ وهونکي او توپ اچونکي په مهارت پورې اړوند ایښودل کېده نو په دې سره هغه څوک چې ډیر ماهر هم نه وي یو څه لوبه کولای شي یانې که توپ وهونکی کمزوری او توپ اچونکی تکړه وي نو د بوټانو فاصله به کمه وه.

که څه هم تاج، کریم او رییس سره د کرکټ اسانتیاوې نه وې خو دوی ورسره ډیره مینه پیدا شوه. په همدې وخت کې د هغوی د ناڅرګند راتلونکي او بلکې د ټول افغانستان راتلونکې په همدې کې ښکېل وو. د ناڅرګند دهلیز د سفر په لور دا لمړنۍ نښه وه. کله چې توپ وهونکی، توپ اچونکي ته ګوري نو هغه هیڅ نه پوهیږي چې توپ اچونکی به کومې خوا او کوم رنګه توپ غورځوي.

همدارنګه کله چې دې درې هلکانو د افغانستان حالاتو ته کتل او بیا په کچه ګړۍ کې دوی خپله تجربه تر لاسه کوله نو دوی هم هیڅ نه پوهیدل چې تقدیر به یې کومې خوا بوځي. آیا کرکټ به په دې کیمپ کې ددوی د ژوند بنسټ وګرځي؟ ایا تل به د تاوتریخوالي نوم افغانانو پورې نښتی وي؟ آیا دوی کله به هم خوندي او ویاړلي افغانستان ته ستانه شي؟ د هغوی پوښتنه به ډیر زر ځواب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴

# د سولې خوب

تاج، کریم او رییس په ډېره چټکۍ په لوبه کې مخ پر وړاندې روان ول. او داسې وخت راورسیده چې یوه ورځ یې هم د لوبې باره کې خبرو پرته نه شوه تېرولای. دې هلکانو به د ورځې لخوا د اورلګید په فابریکه کې سخت کار کاوه او پاتې ورځ به یې د کرکټ تمرین کاوه. د ټوټو څخه جوړ توپ سره یې ستونزه ډېره وه او ددوی بیټ د معیاري بیټ څخه لنډ او نری و نو ځکه په سمه توګه پرې توپ هم نه وهل کېده. هر یو شاټ یو قسمت و. د ډېر تمرین وروسته دا درې واړه په دې هم پوه شول چې څنګه د ټوټو بال په نري او لنډ بیټ ووهي.

یو بل چیلینج هم و، کله به چې تاج، کریم او رییس توپ ته ښه وکتل او په بیټ به یې هر څومره په زور ووهه خو بیا به هم لرې نه تلو. او په اصلي لوبه کې خو داسې وي چې توپ څومره لرې غورځولای شې. ددوی توپ خو د ټوټې و او بیټ یې لنډ او نری وو نو په هر څومره زور به یې ووهه خو یواځې لږ لرې به پریوت.

دا دوه چلینجونه په رېښتیا ددوی په ګټه هم شول. په دومره کوچنې بیټ چې دوی توپ وهلی شي، او د ټوټو توپ ته څومره زور ورکولای شي نو اصلي لوبه خو ددوی په ګټه ده. کریم ته به د ټوټو توپ او لرګین لنډ بیټ باندې لوبې خوند ورکاوه ځکه که هر څومره چې کولای شي په زور یې وهلې شي او دا د هغې عضلاتو لپاره هم ګټور ول او غټ شوي هم ول ورسره.

کله چې تاج، کریم او رییس کچه ګرۍ کې له نورو لوبغاړو سره لوبې پیل کړې نو د هغوی د کرکټ لوبې وخت هم زیات شو. غټو هلکانو به دوی



راپارول چې لوبه کې برخه واخلي، خو نه تاج، نه کریم او نه هم رییس هغه هلکان ول چې وډار شي. یو ځلې یو اتلس کلن هلک ددوی خواته راغی،

" ای ډارنه! راځه مونږ سره لوبه وکړه. مونږ ډېر تکړه یو."

تاج او کریم تیار ول چې دې هلک ته درس وښايي او رییس هم داسې جدي سیالۍ په طرف وو. که څه هم هغه ارام او فکري هلک وو او په دې هم پوهیده چې لوبه کول ښه نظر نه دی. دې درې هلکانو په ساعتونو تمرین کوه او اوس باید فابریکې ته د کار لپاره تللي ول.

" نا مونږ لوبه نه شو کولای. بله ورځ به شي،" رییس ځواب ورکړ.

" تاسو د بایللو نه ډارېږئ!" اتلس کلن هلک په ریشخندۍ ورته وویل.

" تاسو بالونکې یاستئ. مونږ پیښور ښار ته کار لپاره روان یو،" د رییس مخ له غوسې سور شو خو ځان یې قابو کړی وو.

" عذر مه ورته کوه" تاج نور څه نه شول اوریدې ځکه هغه څه کې چې ډېر جدي وي او مهم وي ورته ډېر زر په غوسه کېږي نو کرکټ ورته هم ډېر مهم ښکاریده.

" مونږ تاسره لوبې کولو نه نه ډارېږو"

اتلس کلن هلک شیطاني موسکا وکړه،" نو ثبوت یې کړئ"

" ګوره یې اوس" تاج ورته په قاطع ډول وویل.

هغې کریم او رییس ته اشاره وکړه چې هلک پسې شئ. د کیمپ یوې څنډې ته لاړل. کله چې دوی روان ول نو رییس، تاج له مټه راونیوه او د لوبې نه کولو یې ورته وویل.

" زه پوهېږم چې کرکټ سره ډېره مینه لرې، خو فابریکې ته تلل باید له یاده ونه باسو. پلاران به راته په غوسه شي."

" غم مه کوه. دې خرو نه په دیرش دقیقو کې ځان خلاص کړو نو بیا به فابریکې ته لاړ شو." تاج ورته ډاډ ورکړ. رییس ډاډه نه شو خو بیا یې هم په نه زړه ورسره ومنله. کله چې تاج، کریم او رییس غټ هلکانو سره لوبه پیل کړه نو همداسې مالومیده چې لوبه دیرش دقیقو کې نه ختمېږي. اتلس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلن ځوانان تکړه مالومېدل. تاج ورته توپ اچونه پیل کړې وه، هغوی هم منډې جوړولې. لوبه ډېر زر ګرمه شوه.

دواړو ډلو غوښتل چې لوبه خپله کړي. ټولو هیر کړي ول چې لوبه باید دیرش دقیقو کې ختمه شي. دوه ساعتونو نه هم ډېر تیر شول. د پیښور ښار په بله څنډه کې د لمر زیړې وړانګې ښکاریدې.

کریم وویل." اوهو، فکر کوم لوبه بس کړو. دا خو ډېر زر تیاره شوه، لوبه هم ډېره حساسه ده."

" هیڅ خبره نده پاتې لوبه به سبا وکړو." تاج وویل.

ځوان هلک وویل،" مونږ سبا خپل وخت نه ضایع کوو، تاسو کرکټ نه شئ کولای." خو هغوی له خپل ځان نه ډېر راضي ښکاریدل. تاج، کریم او رییس وروسته پاتې شول تر څو خپل سامانونه راټول کړي. تاج له ځان سره بیټ راواخیست.

رییس ناڅاپه وویل،" صبر. دا خو ماښام شو. څو بجې دي؟ څومره وخت راهیسې مونږ کرکټ کاوه؟ زه پوهیدم چې فابریکې ته تلل به مونږ نه هیریږي. پلاران به راسره ګوري. زمونږ پیسو ته ډېر ضرورت دی."

تاج او کریم غلي ول، هغوی نه په ریښتیا هم فابریکه هیره وه. تاج غوښتل چې دې مسلې ته دحل لاره راوباسي. ملګرو یې ورته وکتل ځکه هغه په عمر کې هم لږ ستر و.

" ورونو، هر څه به سم شي. مونږ به د نن ورځې پر ځای اضافي کار وکړو. پلارانو باره کې چرت مه وهئ. بس کرکټ نه خوند واخلئ."

درې واړه په دې ډاډه نه ول چې هر څه به سم شي. رییس ځان نورمال ښوده خو کله چې هغوی نه بیل شو او کور ته روان شو نو لړزې ونیو. تاج او کریم هم وارخطا ول چې څه به کیږي.

کله چې دوی خپلو خیمو ته ستانه شول، د پلار قهرجنې سترګو سره مخ شول. د دوی واړو پلار ته دا مالومه شوه چې تاج او کریم فابریکې ته کار لپاره نه و تللي.



" چیرته تللي وای؟" د تاج او کریم پلار عالم ګل ترې پوښتنه کوله.

دا یو ښه پیل نه و. هغه راولاړ شو، یوه اوږده ساه یې واخیسته او د خپل کشر ورور لپاره یې هم خبرې شروع کړې،

" پلاره! مونږ فابریکه کې وو." هغې په ډاډه زړه دروغ وویل.

عالم خپل ځوی ته په شکمن او ژور نظر وکتل. په داسې ډارونکي نظر زیاتره مور او پلار خپلو بچو ته ګوري تر څو ویې ډار کړي... او دا کار زیاتره وخت نتیجه ورکوي. تاج وډار شو. دروغ یې نه شول ویلای، هغې زر خپله خبره بدله کړه.

" ریښتیا خو دا دي چې... مونږ په کوڅه کې کرکټ کاوه، او فابریکه مو له یاده وتلې وه. مونږ همدا اوس لوبې نه راغلو."

ډېر زر په ریښتیا ویلو پښېمانه شو خو اوس اوبه له ورخه تیرې وې. هغه باید غلې وای. عالم هماغسې ولاړ پاتې شو. او بیا لکه د اتش فشان راوپاریده، خو یواځې د اتش فشاني موادو کمی وو.

" تاسو کار ته نه وئ تللي!!!؟ زه پوهیدم!!! مونږ خو پیسو ته ضرورت لرو!!!"

عالم د تاج بیټ واخیسته او په خپل زنګون یې دوه ټوټې کړ او په ځمکه یې وغورځاوه. د بیټ ماتېدو سره د تاج او کریم زړه هم لکه ټوټه شو. هغوی د بیټ ټوټو ته کتل. په لومړي ځل کریم مسکې نه شو او دا هرڅه ورته ټوکې ښکاره نه شوې.

وړاندې تر دې چې عالم په خپلو زامنو نورې چغې ووهي، د تاج مور راغله او هغه یې له لاسه ونیو ، هغې خپل خاوند یوې خواته کړ او په غوږ کې یې ورته څه وویل. تاج او کریم یو بل ته کتل. هغوی نه پوهیدل چې مور یې پلار ته څه وایي. که هر څه وي خو دوی سره مرسته کوي. د څو شیبو لپاره دواړو سره خبرې کولې او بیا عالم غلی شو. هغې زامنو ته مخ واړوه. تاج او کریم خیمې ته راننوتو سره د خپلې سزا په انتظار ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



" تاسو پوهیږئ چې زه او ستاسو مور تاسو لپاره ډیر خفه یو، تاسې دخپل خوږ هېواد څخه لري راغلي یاست. له بده مرغه مونږ سره بله کومه لاره نه وه. افغانستان کې پاتې له خطره ډک دي.

ډیر خلک هلته جنګیږي. په ټوله نړۍ کې خلک فکر کوي چې مونږ افغانان تاوتریخوالی خوښوو. هلته ډیره غټه جګړه روانه ده او زه نه غواړم چې تاسې په هاغسې یو ځای کې رالوې کړم." هغه یوه شیبه غلی وو تر څو خپل فکر متمرکز کړي،" دلته په کچه ګړۍ کې اوسیدل ریښتیا هم مونږ ټولو ته ستونزمن دي. خو مونږ اوس هم نیکمرغه یو چې خوندي یو. ډیر نور خلک زمونږ په څیر نیکمرغه هم نه وي. که چیرته تاسې غواړئ چې مونږ ژوندي پاتې شو نو تاسو باید خپلو کارونو ته لاړشئ، مونږ پیسو ته اړتیا لرو."

تاج او کریم د خیمې خیرن چت ته کتل. هیڅوک نه پوهیدل چې دا د کوم وخت راهیسې خیرن دي. هغوی خپل مور او پلار ته ملامت ول. د ویلو لپاره نور څه نه ول.

" مونږ پوه شو." هغوی غلي غوندې وویل.

" مونږ به د نن ورځې پر ځای اضافي کار هم وکړو،" تاج ورسره وعده کېښوده.

" سمه ده" پلار یې مسک شو. پلار یې دواړه زامن په شا وټپول. د هغې لهجه په بشپړه توګه بدله شوې وه.

" هو، یوه بله خبره. سر د سبا نه مونږ تاسو دواړه د پاکستاني دولتي ښوونځي کې داخل کړې یاستئ. دا ښوونځی همدلته په کچه ګړۍ کې دی. مونږ نه غواړو تاسو نور کرکټ وکړئ. د خپلو تره زامنو په څیر اووسئ. هغوی تل درس وایي."

د هغوی مور ورزیاته کړه.

" خو مورې!" کریم په منځ کې راټوپ کړل.

" دویمه خبره پکې نشته. کرکټ هسې هم د افغانستان لوبه نده. تاسې باید ښوونځي ته لاړ شئ. تعلیم اول کې دی." مور یې خبره ور پرې کړه.



تاج او کریم دواړو باندې دا خبره ښه ونه لګېده. هغوی لپاره کرکټ له خپل ژوند څخه وباسل ستونزمن کار وو. هغوی اوس روږدي شوي ول. او هغوی اوس غوښتل هم نا چې یو بل بحث رامنځته کړي. د نن شپې لپاره هم دومره بس ول. دواړو په نه زړه د هو لپاره سرونه وخوځول. هغوی به ښوونځي ته ځي او درس به وایي.

د ویده کېدو نه وړاندې تاج د بیټ دوه ټوټې راواخیستې او کتل یې که د جوړیدو امکان یې وي. هغه په دې خوشاله وو چې د بیټ یوه ټوټه اوس هم کار ورکولای شي. د بیټ دا ټوټه اوس د مخکیني بیټ څخه نور هم لنډ شو خو اوس هم ددوی غوښتنې ته مثبت ځواب ویلې شي.

هغې د بیټ اوږده ټوټه له ځان سره راواخسته او اضافه ټوټه یې له خیمې بهر وغورځوله.

" دا معامله لکه چې نوره هم خرابه شي" هغې له ځان سره وویل.

تاج غوښتل چې دا هر څه هیر کړي خو هغه ډیر زیات خفه وو. ددې لپاره وخت ته اړتیا وه. په دې شپه یې ټوله شپه په ویښه تیره کړه. د هغې مور او پلار ولې د کرکټ دومره مخالفت کوي؟ هغې په دې فکر کاوه چې څرنګه مور او پلار دې ته مایل کړي چې دې او کریم ته د کرکټ کولو اجازه ورکړي. کرکټ یوه ارزښتناکه لوبه ده.

د هغې مور او پلار د کرکټ په ارزښت نه پوهیدل. هغوی فکر کاوه چې د بریالیتوب یواځینۍ لاره د درس ویلو ده. نو په پایله کې به یې کریم او تاج درس ویلو ته هڅول. یانې د تعلیم لپاره ملګرتیا او کرکټ د دواړو قربانۍ ته اړتیا وه او یا کېدای شي داسې نه وي. یوه د پام وړ نظریه د تاج ذهن ته راغله.

هغې ته یاد ول چې څنګه د پاکستان لوبډلې نړیوال جام ترلاسه کړ. هغې لوبغاړو د ټول پاکستان استازیتوب کاوه. ټولو خلکو پرې افتخارکاوه. هغوی ستوري ول. او همدارنګه که چیرته مونږ د افغانستان ملي لوبډله جوړه کړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان لوبډله به هم يوه ورځ په نړيوال جام کې ولوبيږي. افغانان به هم خپل لوبغاړي تشويقوي. تاج خپل او د کريم شتمن راتلونکی او د افغانستان ملي کرکټ لوبډلې استازيتوب کتلو. تاج ته دا هر څه روښانه ښکاريدل. هغې ته د پلار دا خبره هم ياده شوه چې هغې ويل چې افغانان په نړۍ کې د تاوتريخوالي په نوم ياديږي. کېدای شي کرکټ د نړيوالو دا نظريه هم بدله کړي. دا يوه په زړه پورې کړنلاره وه او يا لږه ښه وه، او کېدای شي دواړه ورونو ته د کرکټ لوبې کولو اجازه هم ورکړل شي. تاج په ژور خوب ويده شو او د خوب نړۍ ته يې له ځان سره دا فکر يوړ.

راتلونکی سهار وختي، د وعدې مطابق دواړه د پاکستان دولتي ښوونځي ته لاړل. دا ښوونځې يو تش مسجد وو. تاج او کريم په دې هم نه پوهيدل چې ښوونځي ته له ځان سره قلم او کتابچه يوسي خو ددې پر ځای تاج له ځان سره د بيټ ټوټه راخستې وه.

تاج او کريم د ښوونځي مخې ته ودريدل تر څو ځانونه برابر کړي. هغوی ډير ماشومان وليدل او زياتره يې د کيمپ بلد هلکان ول. ټول ماشومان زده کړې ته ليواله ښکاريدل. کريم داسې نه انګيرله چې ګني هغه دې له دې ښوونځي څخه څه زده کړي، هغې اسويلی وکښ.

" وروره، زه خو دی باره کې هيڅ نه پوهيږم. زه خو به ښه يم چې په ډرامو کې کار وکړم که نور څه نه وي خلک خو به زما د باډې صفتونه وکړي" هغې خپل طنزونه بيا شروع کړي ول. تاج سترګو ته وروکتل،" هاهاها. ستا متې دومره غټې نه دي. تا څوک په ډرامو کې نه پريږدي. کېدای شي وروسته. مونږ مور او پلار سره وعده کړې چې مونږ به ښوونځي ته ځو"

" کله چې ښوونځي څخه خلاص شو نو د ورځې په اخر کې يو څه خوندور وکړو."

کريم رنګ راپريښود،" لکه کرکټ کوو!؟"



" هو..." تاج په زوره وويل. هغې د تيرې شپې خوب باره کې فکر کاوه. " او د کرکټ باره کې، ما نه خو هير شول. پرون مې يو بشپړ پلان جوړ کړ. ته خو پوهيږې چې مور او پلار زمونږ برياليتوب غواړي؟"

" هو، همداسې ده، نو ولې؟" کريم هيڅ نه پوهيده چې خبره څه ده.

" هغوی مونږ ته وويل که روښانه راتلونکی غواړئ نو د خپلو تره زامنو په څېر درس کې کوښښ وکړئ. خو د برياليتوب لپاره يواځې يوه لاره نه ده، ماته يوه بله هم مالومه ده."

کريم سره نورې پوښتنې هم پيدا شوې،" وواېه!"

" مونږ کولای شو د افغانستان ملي کرکټ لوبډله جوړه کړو. زمونږ هېواد ته به وياړ راوړي. مونږ مسلکي کرکټ لوبغاړي جوړيدای شو،" تاج ورته تشريح ورکړه او په مسلکي لغت باندې ډير کلک ورغی.

کريم نه پوهيده چې مسلکي څه مانا، خو هغې داسې وانګيرله چې دا لغت د متو غټولو باره کې وي." مسلکي؟ واه! څنګه کولای شو کرکټ لوبډله جوړه کړو؟ په کچه ګړۍ کې خو يواځې مونږ دواړه يو. او زمونږ کور هم افغانستان کې نه دی."

" دا هيڅ خبره نده! مونږ دلته افغانانو سره خبرې کولای شو. آيا ته غواړې لوبډله کې ولوبيږې؟" تاج ترې پوښتنه وکړه که څه هم ځواب ورته مالوم و.

" هو هو هو" کريم ډير زر ځواب ورکړ.

تاج لګيا شو،" نو دا دی زمونږ لومړی غړی پيدا شو. دا به ډير سياليزه لوبډله وي"

کله چې تاج او کريم پاکستاني دولتي ښوونځي ته ننوتل، هغوی د افغانستان لوبډلې باره کې ډير هيجاني ول.

دا ښوونځې د لومړي څخه تر دولسم پورې وو. ټول ماشومان، پرته د لوړو ټولګيو څخه بايد هر کس پاکستاني مضمونونه زده کړي لکه اردو، تاريخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او جغرافیه. د اردو ژبې ساعت وخته شروع شوی وو. ټولو زده کونکو د ټولګې مخې ته خپل بوټان منظم په یو کتار کې ایښي ول.

دننه ټولګې کې ښوونکي خپل ځان پېژنده او د رسمي تعلیم ارزښت یې بیانوه. د هغې نوم قریش وو، خو زده کونکو ورته د احترام له کبله ښاغلی قریش ویل. ښاغلی قریش یو تریخ سړی وو چې ډیسیپلین یې غوښته. ټولګې ته راننوتو سره یې تاج او کریم ته بد بد وکتل ځکه هغوی ناوخته راغلي ول.

ښاغلي قریش په غړمبیدلي غږ وویل،"په وخت راځئ. تاسو دواړه زمونږ درس خرابوئ. ځانته ځایونه پیدا کړئ او شور مه کوئ"

کریم مسکی شو. هغې د خپل ښوونکي په غږ پورې خندل. د ښوونکي غږ د ژړندو ماشوم په څېر وو. ښاغلی قریش د کریم خندا ته پام شو،

" د خندا څه خبره ده؟" هغې په سخته لهجه وپوښتل.

کریم خندا غلې کړه، " نا، ښوونکیه. هیڅ خبره نشته"

" نو بیا کېنه او غوږ ونیسه" ښاغلي قریش بیا وغړمبیده. هغې طنزونه خوښول او ددې امکان هم ډیر لیدل کېده چې هغه او کریم به په راتلونکي کې ستونزې ولري.

کریم کیناسته او ښاغلي قریش د اردو ژبې درس ورکول پیل کړل. تاج په ټولګې کې د نورو هلکانو سره د کرکټ باره کې خبرې پیل کړې. او غوښتل یې تکړه لوبغاړي راټول کړي. همدا کرکټ لوبغاړي به د افغان لوبډلې راتلونکې وي.

تاج په ښوونځې کې د ځان په شمول تر شلو هلکان وشمارل. دا ټول هلکان خوار ول خو د فزیکي کارونو له امله غښتلي ښکاریدل. د شلو هلکانو نه یواځې دری انجونې وې، د انجونو مور او پلار دا نه غوښتل چې خپلې لونې د کیمپ نږدې ښوونځیو ته ولیږي. زیاتره زده کونکو اسلامي کالي پر تن کول. هلکانو به کمیس پرتوګ اغوسته او انجونو به اوږدې جامې اغوستې.



په ټولګې کې د کرکټ وړ کسانو باندې نظر واچوه خو داسې څوک ولیده چې توقع یې نه درلوده. دا رییس وو، چې د ټولګې په بل سر کې ناست وو. تاج او کریم دواړو هغه نه وو لیدلې. کېدای شي هغوی د افغانستان کرکټ لوبډلې خیالونو کې ډیر ډوب تللي ول. تاج غوښتل چې د رییس پام ځانته راواړوي. هغې ورته لاسونه خوځول او لږ پاټې وو چې ورغږ کړي خو بیا وریاد شول چې ښاغلې قریش اوس هم درس ورکوي. تاج غوښتل چې دا ساعت زر پای ته ورسیږي.

ښاغلی قریش د تاج په اشارو پوه شو. هغې ناڅاپه خپل لاسي ساعت ته وکتل او جمله یې نیمایي کې پریښوده.

" اوهو، ریسس(تفریح) وخت شو. لږې دمې وروسته به درس بیا پیل کړو."

هیڅوک نه پوهیدل چې ریسس(تفریح) څه مانا. هغوی ټول په خپلو ځایونو ناست ول، هغوی فکر کاوه که له خپل ځایه وخوځیږي نو ښاغلی قریش به ورته په غوسه شي. په ټولګې کې چپه چپتیا وه. اخر ښاغلي قریش د ریسس په مانا پوه کړل.

"ټول بهر ووځئ! ریسس مانا ده تفریح. دې وخت کې تاسو کولای شئ لوبې وکړئ او یا ساعت تیر کړئ."

زده کونکي ډیر خوشاله شول. هغوی په منډه له ټولګې ووتل. ښاغلي قریش غوښتل چې له زده کونکو وړاندې ووځې خو ماشومانو سرعت لکه چې ډیر وو، چې بهر راووته په زوره زوره یې ساه اخیسته. ټول زده کونکي یو ځای شول او هغې ته په انتظار شول.

" کومه لوبه مو په ذهن کې شته؟" ښاغلی قریش وپوښتیده.

یو زده کونکي په ساده لهجه وویل، " راځئ بوزکشي وکړو! زما مور او پلار ډیر وخت د بوزکشۍ کیسې کوي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې له شکه چې دا زده کونکی هم له افغانستانه راغلی مهاجر دی. بوزکشي د افغانستان ملي لوبه ده او ډېره خطرناکه لوبه هم ده. تر نن ورځې هم ټول افغانان دا لوبه خوښوي.

بوزکشي یانې د اوزې کشول. په دې لوبه کې د لوبې برابرونکي یوه مړه اوزه یا خوسې او یا یوه ګډه د دایرې په منځ کې ږدي. په دې کې دوه ډلې وي چې په اسونو ناست وي او هر یو کوښښ کوي چې دا مړ شې د خپل ګول خط پورې ورسوي. هر یو کولای شي چې خپل سیال په سوک یا لغته ووهي او یا یې د اس نه ښکته راوغورځوي، بس لوبه ګټل دي.

ښاغلي قریش ته د بوزکشۍ لغت نا اشنا ښکارېده. د هغې مخ سپین وتښتېد. هغه نه پوهیده چې د بوزکشۍ وحشي لوبه څنګه زده کونکو ته تشریح کړي.

" نا، مونږ بوزکشي نه شو کولای"

" ولې یې نه شو کولای." یو زده کونکي شکایت وکړ.

ښاغلي قریش دا بحث ختمول غوښتل، " ځکه هغه لوبه ډېره ګرانه ده، مونږ یې نه شو کولای. هغې دپاره ډېر تمرین ته اړتیا ده. او مونږ سره کوم آس یا بل ځناور هم نشته چې هغه لوبه پرې وکړو. آیا بل چا ذهن کې کومه ښه لوبه شته؟"

"کرکټ به وکړو!" ناڅاپه تاج وویل. ټولو هغې ته وکتل.

د ښاغلي قریش غږ لږ نرم شو. " کرکټ ډېر ښه دی. هر څوک یې کچه ګړی کې کوي."

تاج خپل لاس جوړ کړې بیټ ټولو ته وښوده." او زه ډاډه یم چې کرکټ به د افغانستان راتلونکی وي."

ټولو هلکانو د کرکټ باره کې اوریدلي ول ځکه د پاکستان ۱۹۹۲ نړیوال جام ګټل دلته په کچه ګړی کې هم ولمانځل شو. خو هیڅوک نه پوهیدل چې دا لوبه څنګه کیږي. هغه څوک چې په کرکټ نه پوهیدل تاج ورته په ډېر ماهرانه انداز د کرکټ لوبې باره کې وویل.



" دوه ډلې به جوړې کړو. لومړۍ ډله به توپ وهنه کوي او دویمه ډله به توپ نیونه کوي او د توپ نیونې ډلې نه به یو کس بالینګ کوي."

" بالینګ څه مانا؟" یو زده کونکي پوښتنه وکړه.

"بالینګ مانا دا چې یو کس به توپ لاس کې ونیسي او په خپل ټول زور به یې د توپ وهونکي په لور وغورځوي. توپ اچونکی به هڅه کوي چې توپ وهونکی وسوځوي. او توپ وهونکی به هڅه کوي چې توپ ووهي."

" واه! دا خو به ډېر خوند وکړي" یو بل زده کونکي وویل.

کله چې تاج ټول پوه کړل نو کریم ورمخکې شو او ټول زده کونکي یې په دوه مساوي ډلو وویشل. تاج د رییس خواته ورغی او په دې تمه ولاړ و چې کومه لوبډله کې به نیول کیږي.

" سهار مو په خیر وروره! زه او کریم نه وو خبر چې تا هم دې ښوونځي کې داخله کړې0 ده." تاج دا وویل او هغې سره یې سترې مشي وکړه.

رییس ځواب ورکړ،" هو، زما مور او پلار ماته ویل چې نور باید درسونو ته پاملرنه وکړم. هغوی ویل کرکټ هسې فضول کار دی."

" زمونږ مور او پلار هم داسې وویل."

" خو زه غواړم چې کرکټ وکړم" رییس ورزیاته کړه.

" ښه، زه غواړم د افغانستان ملي کرکټ لوبډله جوړه کړم. کریم راسره یوځای شوی او زه د نورو تکړه لوبغاړو په لټه کې یم تر څو لوبډله بشپړه کړم. آیا ته راسره یې؟" تاج وړاندیز وکړ.

" بالکل، زه هم پکې یم! ته او کریم زما ورونه یاست. خو د پیسو پرته به څنګه تمرین کوو؟ مونږ سره خو لا سم بیټ او توپ هم نشته،" رییس وویل.

تاج په دې فکر کې شو چې لوبډلې لپاره پیسې له کومه پیدا کړي. هغې سره لا ددې پوښتنې ځواب نه وو. خو دا ښکاره ده چې لوبغاړي به یوه لاره راوباسي. وړاندې تر دې چې تاج، رییس ته څه ووایي، کریم پرې راچغه کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



" ای کل سری تاج او وچ رییسه! تاسو به ټوله ورځ خبرې کوئ او که کرکټ به هم کوئ؟ مونږ خو وخته لوبډلې جوړې کړې دي."

تاج او رییس هڅه وکړه چې د کریم په ټوکه وخاندي. د هغې ټوکې به کله کله خرابې وې. دواړه ورغلل تر څو لوبه کې ګډون وکړي.

لس هلکان توپ نیونې ته خپاره کړای شول او په نوبت به توپ اچونې ته راتلل.

نور لس هلکان به په نوبت توپ وهنې ته راوتل. دا خو سمه لوبه نه وه خو بیا هم ماشومانو ځینې خوند اخسته. تفریح هم په ختمیدو شوه. تاج، کریم او رییس خوشاله ول ځکه د کرکټ تمرین لپاره یې یو بل وخت هم پیدا کړ. په هر تفریح کې کرکټ کول د ټولو عادت وګرځید. ښاغلي قریش هم غوښتل چې هلکان د تفریح وخت کې کرکټ وکړي. خو بیا هم د درس په وخت کې جدي وو.

یوه ورځ کریم د تاج لاسي جوړ شوی بیټ په لاس کې نیولی او ټولګي کې ناست و. هغې د شپږیزې په خیر بیټ تاو کړ، ښاغلي قریش ورته پام شو، هغې پریکړه وکړه چې کریم به د ټولو ټولګیوالو مخې ته پوهوي،

" کریمه! ته غوږ یې؟"

" هو، هو. زه ټول درس ته غوږ وم" کریم دروغ وویل.

" په اردو کې د کتاب مانا څه ده؟" ښاغلي قریش ورته چیلینج ورکړ.

کریم کوښښ وکړ وړاندې تر دې چې د ښاغلي قریش غوسې ته مخامخ شي، حالات لږ نرم کړي." کتاب د کرکټ غوندې غږ لري"

" ما پوښتنه وکړه چې کتاب ته په اردو کې څه وایي؟" ښاغلی قریش بې صبره شو.

" خبر نه یم، ښوونکیه!"

ښاغلی قریش د کریم په لور وروان شو. ټولو زده کونکو ښوونکي ته او کله کریم ته کتل. کریم نه پوهیده چې اوس به څه کیږي. ښاغلی قریش



ورټیټ شو او په مخ یې کلکه څپیړه ووهه. د څپېړی انګازې ټول زده کونکي وډار کړل.

" زما په اردو ساعت کې به بیټ سره لوبې نه کوې! پوه شوې؟" ښاغلي قریش پرې چغې وهلې.

" هو ښوونکیه پوه شوم." د کریم اوښکې په مخ روانی شوې او ژړل یې. هیڅا باور نه کاوه چې د کریم غوندې غښتلې هلک ژاړي. تاج او رییس په خپل نږدې ملګري زړه سوځیده. هغوی غوښتل چې کریم سره مرسته وکړي خو د ښاغلي قریش له ویرې ددې جرات په دوی کې نه و.

ښاغلي قریش ټولګې ته مخ کړ او ورته وویل،" او همداسې به ټولو سره کیږي، کله چې زه درس ورکوم نو زما خبرې به هیڅوک نه ګډوډوي."

هیڅ زده کونکي ښاغلي قریش ته په سترګو کې نه کتل. هغه اوس په سمه مانا د هغوی لپاره بلا شو. له دې وروسته هیڅ کوم زده کونکي د هغې په ساعت کې خبرې ونه کړې.  تاج خپل د ښوونځي څخه بهر د افغان کرکټ لوبډلې لپاره  د لوبغاړو په لټه کې وو.

لمړی یې د رییس پوښتنې باره کې فکر کاوه چې پیسی به له کومه کوي. رییس هم ریښتیا ویل. لومړی خو باید کرکټ ته سم سامان پیدا کړي. که چیرته لاسي جوړ شوي بیټ او ټوټو توپ سره لاړ شي نو خلک به ورپسې خاندي. تاج به د ښوونځي او کار تر منځ ډیر لږ وخت هم بې ځایه نه تیروه او په دې هڅه کې وو چې څنګه لوبډلې لپاره اسباب برابر کړي.

تاج ټوله کچه ګړۍ او پیښور ښار د سپانسر لپاره ولټول تر څو د کرکټ لوبډلې جوړولو کې ورسره مرسته وکړي. هغه صرف ۱۴ کلن وو نو کوم ملاتړي یې هم نه شو پیدا کولی. په پیښور ښار کې تاج د داخلي کرکټ لیګ ته ورغی او دا په ریښتیا هم یوه غټه معامله وه. دې لیګ به تکړه لوبغاړي له ځان سره یو ځای او خپله لوبډله کې به یې لوبول. هر یو لوبډلې به پیښور شاوخوا سیمې استازیتوب کاوه. او بیا به دې کلبونو په خپل منځو کې لوبې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له څه فکر وروسته تاج فکر وکړ چې د پېښور کرکټ لیګ کې یو لوبډله جوړه کړي چې دا د افغان مهاجرینو استازیتوب کوي او نوم یې ورته د افغان کرکټ کلب کېښود. د افغان کرکټ کلب کې تر اوسه یواځې درې کسان ول، تاج، کریم او رییس. تاج نورو اته افغان لوبغاړو ته اړتیا درلوده تر څو یوه بشپړه لوبډله جوړه کړي. د کافي تجربې وروسته کولای شي افغان کرکټ کلب د ټول افغانستان استازیتوب وکړي.

که څه هم اته کسان برابرول دومره ګرانه خبره نه وه خو بیا هم تاج سره هیڅ کومه مرسته نه وه. زیاتره کورنیو به خپل بچو باندې د درس پر ځای کرکټ ته زړه نه ښه کاوه. تاج د کچه ګړۍ کیمپ خیمه په خیمه وګرځید. هغې به په لیواله لهجه د هغوی مور او پلار سره خبرې کولې او ویل به یې،

" زه د افغان کرکټ کلب جوړوم. مونږ به پېښور کرکټ لیګ کې ډېر تمریني لوبې وکړو. او بیا وروسته به وتوانیږو چې د افغانستان کرکټ ملي لوبډله جوړه کړو. که چیرته ستاسو ځوی غواړي غوره لوبغاړی شي او خپل هېواد ته ویاړ راوړي نو باید زمونږ افغان کرکټ لوبډله کې ګډون وکړي."

مشرانو به په ارامه لهجه هغې ته ځواب ورکاوه،

" دا لوبډله هیڅ کوم راتلونکی نه لري. خپله لیونۍ نظریه دلته مه خپروه که نا پښېمانه به شې."

تاج د هغوی اخطارونو کیسه کې نه و. کله چې یې کچه ګړۍ کې لوبغاړي پیدا نه کړل نو بیا شمشتو کیمپ ته لاړ. شمشتو هم په پاکستان کې د افغان مهاجرینو لپاره یو کیمپ و چې تر ۵۰۰۰۰ افغانانو پکې اوسیدل.

دا کیمپ د پېښور نه په یو ساعت مزل کې لرې پروت دی. د لرې څخه دا کیمپ د یوې خیرنې کمپلې په څیر ښکاریده. دلته هم د کچه ګړۍ په څېر خیرنې خیمې وهل شوې وې. دا لکه پخوانۍ زمانې مونږ ته رایادوی. د شمشتو مهاجرین هم د افغانستان جګړو څخه د خپل ځان د خوندیتوب او یو څه هیلې سره دلته راغلي ول.



عبدالحق همداسې یو سړی و. د څلور لونړ او یو ځوی پلار و. له دې وړاندې د افغانستان شمالي برخه مزار شریف کې اوسیده. هغه د ټیکسي چلونکې او میرمن یې په یوه ښوونځي کې کار کاوه. کله چې په ۱۹۹۰ کال کې طالبان د ببرک کارمل حکومت ړنګ او قدرت یې په لاس کې واخیست، نو طالبانو انجونې هم ښوونځي ته نه پرېښودې. په څو اونیو کې د عبدالحق ژوند سر چپه شو. په یوه چاودنه کې یې یوه سترګه له لاسه ورکړه، میرمن یې خپله دنده له لاسه ورکړه، او طالبانو ورته لونې ښوونځي ته نه پرېښودې. عبدالحق غوښتل چې خپل ټاټوبي کې پاتې شي. هغه پوهیده چې مهاجرینو په څیر ژوند کول څومره ستونزمن دي. له بده مرغه طالبانو د هغوی قانون نه منلو په تړاو څو انجونې وتښتولې او دا خبر ټول مزارشریف کې خپور شو. عبدالحق ته بله لاره نه وه، خپل ټاټوبی یې پرېښود او د پاکستان په شمشتو کیمپ کې یې واړول. هغې یواځې دا غوښتل چې بچیان یې خوندي پاتې شي که هغه خپل کور پرېښودل هم وي. عبدالحق هم نه غوښتل خپل ځوی کرکټ لوبې ته پرېږدي. هغې یو ځوی درلود او د هغې کورنۍ نیکمرغه وه چې تر اوسه یو ځای دي. تاج ډېره هڅه کوله چې خلک قانع کړي او افغان کرکټ کلب سره یوځای شي. په شمشتو کیمپ کې هم خلکو ونه منله. ډېر زر په ټول شمشتو او کچه ګړۍ کې دا خبره خپره شوه چې یو لنډ چاغ سړی غواړي د هغې افغان کرکټ کلب کې ورسره یوځای شي او په راتلونکي کې د افغانستان ملي لوبډلې استازیتوب وکړي.

هاغه خلکو کچه ګړۍ کې د تاج کور مالوم کړ. ډېر ناراضه پلاران دلته راغلي ول، د هغې پلار او ټولې کورنۍ ته یې اخطارونه ورکړي ول.

" زمونږ بچو ته د کرکټ یا بل څه مه وایه. دوی خپل وخت په بې مانا شیانو تیروي."

د تاج او کریم مور خوشاله نه ښکاریده،

" ما او پلار دې تاسو دواړو ته وویل چې نور کرکټ مه کوئ. خپل درسونو، کار او راتلونکي باندې فکر وکړئ،"

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاج وويل،" زه پوهېږم. دا زما غلطي وه. ما يوه لوبډله جوړوله. ما کريم او نورو هلکانو ته وويل چې ما سره په دې لوبډله کې يو ځای شئ.

" بيا داسې مه کوه. دا زمونږ لپاره شرم دی."

تاج ډېره هڅه وکړه چې هغې ته ووايي چې کرکټ څومره مهم دی خو ګټه يې ونکړه. هغې فکر کاوه چې افغانان به دا نظريه خوښه کړي، خو بيا هم د پاکستان غونډې په کرکټ ليوني هېواد کې پراته او خپله لوبډله نه جوړوي. هغوی نه پوهيدل چې يو خارجي لوبه څنګه د افغانستان راتلونکی بدلولای شي. تاج، کريم او رييس خپل ځانونه ناخرګند دهليز کې لا ژور وليدل. تاج هم د افغانستان ملې لوبډلې جوړولو نظريې باندې شکي شو. ټولو مشرانو هغه ډار کړی وو.

هماغسې لکه کله چې يو توپ وهونکی ګوري چې يو توپ په ډېر سرعت ددې په خوا راروان او څه به کوي، تاج او د هغې ملګرو بايد د مشرانو ويره له مغزو ويستلې وه، په خپل دريځ کلک ولاړ وای او د افغان کرکټ لوبډلې خوب يې ژوندی ساتلی وو. د ناکاميدو چانسونه ډېر زيات شوي ول. هغوی به څه کوي؟



۵

# د طالبانو حقيقت

تاج يوه بيړنۍ غونډه راوغوښته. هغې هيڅکله کريم او رييس سره غونډه نه وه کړې. هغوی چې به کله هم يوځای ول نو ساعت به يې تيروه. تاج غوښتل چې پوه شي چې ايا د هغې ملګري هم د افغانستان کرکټ لوبډلې باره کې هم داسې فکر کوي لکه هغه يې چې کوي.

د تفريح په وخت کې درې واړه يو ځای شول. تاج په خپله خوښه د پاکستاني دولتي ښوونځي تر څنګ ځای غوره کړی وو. هغه پوهيده که دې ځای کې غونډه راوبلي نو مور او پلار به پرې شکي نه شي.

" ايا مونږ دلته د ښايست سيالي لپاره رابلل شوي يو؟" کريم رارسيدو سره وويل.

" د ښايست سيالۍ لپاره يواځې ښايسته خلک رابلل کيږي." تاج ورته غاښ ماتونکی ځواب ورکړ.

کريم داسې اکټ کاوه لکه تاج يې چې احساسات ټپي کړي وي. هغې تندې تريو کړ."خو زه هم ښايسته يم."

" ته ښايسته يې...خو وړوکی او کمزوری هلک يې." تاج ورته وويل. هغه پوهيده چې کريم به د خپل بدن غټوالي دفاع کوي.

" ته خبرې کوې، لنډيه!" کريم بيرته پرې خوله خلاصه کړه.

تاج مسک شو، " ارامه ووسه! ټوکې کوم."

رييس هم په چټکۍ هغه ځای ته ځان راورسوه چيرته چې ورته کريم او تاج انتظار کاوه." ښه غواړم تاسو انتظار وکړ. ايا غونډه مو پيل کړې؟"

" نا، اوس يې شروع کوو." تاج ورته وويل. هغه د غونډې باره کې جدي وو. کريم او رييس يې خبرو ته غوږ شول، تاج نيغ ستونزه رامنځته کړه."

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورونو! تاسې مې ځکه دلته راغوښتي یاست چې دلته د افغان کرکټ لوبډلې باره کې خبرې وکړو."

" د کومې ملي لوبډلې باره کې چې دې مونږ ته ویلي ول؟" رییس وپوښتل.

" هو. زه غواړم شروع یې کړم. خو د کیمپ مشران دا نه غواړي چې مونږ لوبډله جوړه کړو" تاج ځواب ورکړ.

" دوی خو د ښاغلي قریش نه هم بد دي." کریم وویل.

رییس او کریم وخندل." ښاغلی قریش ښه سړی دی که ته ورته غوږ ونیسې." رییس ورته وویل.

تاج هیڅ ونه خندل ځکه هغه ډیر جدي ښکاریده." ایا تاسې به بیا هم له مونږ سره یاستئ که چیرته زمونږ مشران مونږ منع کړي؟"

" بالکل" کریم او رییس دواړو ژمنه وکړه.

د تاج لپاره دا ښه خبر وو. هغه لږ ډاډه شو، " سمه ده، نو مونږ باید نور اته افغان لوبغاړي پیدا کړو، د کرکټ اسباب واخلو، او د کرکټ تمرین لپاره ځانګړی وخت بیل کړو.او دا هر څه به په پټه وي"

درې واړو داسې فکر کاوه لکه دوی چې پټ عملیات تر سره کوي. او دا عملیات ټول دې درې واړو پورې اړه لري چې بریالي کوي یې او که نا. په راتلونکو میاشتو کې باید ډیر کار وکړي. هغوی کارونه ووېشل او د بیا راټولیدو پریکړه یې وکړه.

تاج د نوې لوبغاړو پیدا کولو مسولیت په غاړه واخیست. کریم او رییس به د لوبې لپاره سامان اخلي او په راتلونکو دوه اونیو کې به بیا سره غونډه کوي. څنګه چې په پټه دلته راغلي ول همدغه شان بیرته په پټه ښوونځي ته ننوتل.

د ۱۹۹۳ کال په وروستیو کې یې پرته د کچه ګړۍ مشرانو څخه تاج، کریم او رییس د افغان کرکټ کلب جوړ کړ، نوي لوبغاړي لکه حمید حسن، سمیع الله شینواري، محمد نبي، اعظم خان او الله داد نوري یې رایوځای



کړل. دا لمړنی ځل و چې دا هلکان په رسمي ډول کرکټ لوبډله کې شامل شول. دا راز دوی ډیر پټ وساته او د کچه ګړۍ هیڅ کوم کس د افغان کرکټ لوبډلې نوم نه وو اوریدلی. د افغان کرکټ کلب رامنځته شوی وو خو اوس هم د پیسو اړتیا لیدل کېده.

د کرکټ اسباب اخیستلو ته لومړیتوب ورکړل شو. تاج غوښتل چې د کرکټ هر لوبغاړی ځان لپاره کالي او بیټونه واخلي که څه هم هغه پوهیده چې دا به ناشوني وي. کیدای شي که راتلونکي کې دوی کوم سپانسر ولري نو د کرکټ لوبغاړو ته به انعامونه او شخصي بیټونه ورکړي.

کریم او رییس دا وړاندیز کړی وو چې هر څوک د خپل کار پیسو نه یو څه بیلې کړي او ځان لپاره بیټ او نور اسباب واخلي. د کرکټ لپاره پیسی بیلول دا هم امکان لري چې مشران کېدای شي شکي شي او ددې لوبډلې نه خبر شي.

په یوځای دې ټولو هلکانو دومره پیسې جمع کړې چې یو بیټ او یو ټینس توپ پرې واخلي. دواړه شیان یو ډالر قیمت درلود. تاج دواړه شیان د پیښور ښار څخه پیرلي ول. هغې یواځې ځکه تللی وو تر څو پرې خلک پوه نه شي. توپ دومره معیاري نه و خو بیا هم د ټوټو توپ څخه ډیر غوره وو. اوس د افغان کرکټ کلب یو توپ او یو بیټ هم لري او لوبډلې ته په رسمي توګه د پیښور کرکټ لیګ کې د ګډون اجازه ورکړل شوه.

ټول لیګ لوبې به په زړو ټینس توپونو کېدې، د کرکټ په میدان کې هیڅ واښه نه لیدل کیدل. او منځنی پیچ هم د کانکریټ څخه جوړ وو. د پیښور لیګ لوبو پر مهال به د افغان کرکټ لیګ لوبغاړي به یا هم د ښوونځي څخه پټېدل او یا به د کار څخه په وخت راوتل. که ددوی مشران له دوی څخه خبر شوي ول نو کیدای شي ډیر عصباني سلوک یې ورسره کړی وای. هغوی خو کرکټ هېر کړی وو. خو له نیکه مرغه هغوی تر ډیره خبر نه شول.

د افغان کرکټ کلب لومړنۍ څو لوبې ډیرې خواشینونکې وې ځکه دا لوبغاړي د کانکریټ پیچ سره عادت نه ول. تاج او الله داد نوري یو بل سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ نه ول که څه هم دوی دواړه په یوه لوبډله کې لوبېدل. د دوی ترمنځ د مخالفت پیل وو.

الله داد نوري اوږد او نری وو. هغې د قد په څېر اوږد مخ هم درلود. د افغان کرکټ کلب ټول لوبغاړي په دې خبر ول چې الله داد نوري ځان غوښتونکی عادت لري. هغه یو اتثنایي لوبغاړی و او عمر یې هم ۱۶ کاله وو. هغې هم د لوبې سره ډېره مینه لرله خو د تاج هومره نه وه. الله داد نوري په ځان ډاډه وو چې یو ښه لوبډلمشر جوړېدای شي. او تاج هیڅکله نه غوښتل چې د خپلې قیمتي لوبډلې واګې د هغه په لاس کې ورکړي.

تاج او الله داد به د ټیم ښه والي لپاره یو بل سره بحثونه کول. د افغان کرکټ کلب د پخوا څخه ډېر ښه شوی وو. هر چا ډېری تیروتنې کولې. خو تاج به تل دوی هڅول. د هغې په نظر ریښتوني ګټونکي هغه دي چې په تمرین سره خپلې تیروتنې اصلاح کړي. په راتلونکو دوه کلونو کې حیرانونکی بدلون راغی. ټولو لوبغاړو ډېره تجربه ترلاسه کړه. د افغان کرکټ کلب مخ په ښه کېدو وو. د پېښور ښار اړوند سیمو څخه لوبې لپاره وغوښتل شول، د ښه کېدو سره سره یې مشهورتیا هم خپلوله.

دا به ډېره لري نه وي چې د هغوی مشران د لوبډلې باره کې خبر شي. د ۱۹۹۵ کال د مې په میاشت کې ټول خبر شول ځکه د ټورنمنټ په لوبو کې تر پایلوبې ورسېدل. په دې سیالیو کې د پاکستان شمال لوديځ سیمو څخه ډېرو لوبډلو برخه اخیستې وه. هر چا به د ټورنمنټ ګټلو لاپې وهلې. تاج، کریم او رییس او د لوبډلې نورو لوبغاړو به په ویره دا لوبې کولې ځکه د دوی مور او پلار دوی د کرکټ کولو څخه منع کړي ول چې خپل وخت هسې مه ضایع کوئ. او دې هلکانو په هم شکایت نه کوو چې ولې د کورنیو له خوا دې لوبې ته نه پرېښودل کېږي.

کله چې مشران خبر شول چې دوی پایلوبې ته رسیدلي نو ډېر خوشاله ول. د اعظم خان پلار د لوبډلې ستایلو باندې نه مړېده.

"مبارک مبارک! زه پر تاسو ویاړم،" هغې به ټولو لوبغاړو ته ویل.



او بیا د پایلوبې ورځ هم راورسیده. د اعظم پلار د لوبډلې ټول لوبغاړي میدان ته په خپل موټر کې ورسول.

" میدان ته باید د مسلکي لوبغاړو په څېر لاړ شئ." د اعظم خان پلار ویل.

د اعظم کورنۍ په کچه ګړۍ کې د یو څو کورنیو د جملې څخه وه چې یو موټر یې درلود. د هغې پلار ډېرې پیسې ګټلې. د افغان کرکټ کلب لوبغاړي په موټر کې سپاره شول. دا ددوی لمړنی ځل وو چې کرکټ میدان ته په موټر کې وړل کېږي.

د هغوی لپاره یو بل حیرانونکی شی دا وو چې کله میدان ته ورسیدل نو ټولو ننداره چیانو یې انتظار کاوه. د کچه ګړۍ او شمشتو کیمپ نه په سلګونه افغانان د خپلې لوبډلې ملاتړ لپاره میدان ته راغلي ول. هغوی ورته په میدان کې ولاړ ول. تاج، رییس او کریم هیڅ باور نه راتلو چې دومره مینه وال به دلته راځي. هغوی باید سمه لوبه وکړي تر څو ننداره چیان متاثره کړي. کله چې لوبغاړو په خړ میدان کې ځانونه ګرمول نو تاج به هر یو په شا ټپوه او نصیحت به یې ورته کاوه.

" متمرکزه اووسه، دا زمونږ لپاره موقع ده چې خپلې وړتیاوې او مهارتونه خلکو ته وښایو. زه ډاډه یم چې دا خلک به زمونږ لوبه خوښه کړي. هیڅ کوم فشار نشته."

الله داد ریشخندي انداز کې وویل،" فشار څنګه نشته. ته هیله من اووسه چې مونږ یې ګټو. او که نا دا به ستا قصور وي چې مونږ نه دې کم عقلان جوړ کړي ول."

تاج ورسره خبره اوږده نکړه. هغې باید ضروري کارونه کړي وای. د افغان کرکټ کلب په لومړي ځل داسې چیلینج سره مخ شوی دی. که الله داد وي که نه وی تاج کولای شي چې دا لوبه وګټي. پایلوبه د افغان کرکټ کلب او د پاکستانی تکړه لوبډلې سره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبغاړي میدان کې خپاره شول. افغان مینه والو شپیلي او چکچکې وهلې.

" زنده باد افغانستان!"

کریم او رییس لومړني توپ وهونکي ول چې میدان ته راووتل. دوی په لوبډله کې تر ټولو غوره لوبغاړي ول او تاج په دې هم پوهیده چې هغوی به ښه لوبه وکړي. دا یو ښه انتخاب وو. دواړه کریم او رییس وځلیدل.

د لوبې په لومړي توپ رییس شپږیزه ووهله. افغانان مینه والو د خوشالۍ نه ټوپونه وهل.

" رییس! یوه بله شپږیزه ووهه!" خلکو ورته چغې وهلې. کریم، ته وکتل او ویې خندل.

" بس همدا دې زور وو چې توپ دې دلته ورسوه؟"

" دا خو هسې تمرین وو، بله ددې نه هم لرې وهم" رییس ډاډ ورکړ.

ورپسې توپ پسې په ریښتیا هم د زړه د خلاصه تاو شو او توپ یې د ننداره چیانو منځ ته وغورځاوه. د لوبې لیدو څخه ټولو خوند اخسته.

"رییسه! که بله شپږیزه دې ووهله نو زما لخوا یو بسکټ انعام شو." کریم ورته په تیز غږ ووېل.

پاکستاني لوبغاړي حیران ول چې دوی لوبه څومره اسانه اخیسته.

" دا نری هلک ترینه وسوځوئ" هغوی به یو بل ته ویل.

که پاکستاني توپ اچونکو به هر رنګه توپ اچوه خو کریم او رییس پرې نه سوځیدل. د لومړي پړاو تر پایه دواړه لوبغاړي ونه سوځیدل. د افغان کرکټ کلب پاکستاني لوبډلې ته د ۱۶۷ منډو هدف وټاکه. یواځې رییس ۱۱۴ منډې جوړې کړې. هغې په یواځې ۱۲ اورونو کې ۱۳ شپږیزې او ۱۲ څلوریزې ووهلې.

پاکستاني لوبغاړو نه غوښتل چې دا لوبه افغانان وګټي. په دویم پړاو کې هغوی هم یو څو شپږیزې ووهلې. که څه هم هغوی د شپږیزو کوښښ کاوه



خو زیاتره یې کیچ سوځیدل. او پایله کې افغان کرکټ کلب پاکستاني لوبډلې ته ماتې ورکړه. رییس پکې د لوبې غوره لوبغاړی وټاکل شو.

" افغانستان. افغانستان. افغانستان!" افغان مینه والو همدا چغې وهلې.

تاج په ژړا شو او الله داد هم نږدې وو چې وژاړي. هغوی هیڅ باور نه راتلو چې هغوی د ټورنمنټ ګټونکي دي. ټولو افغان مینه والو داسې چغې وهلې چې ټول میدان یې په سر اخیستی وو. کریم، او رییس، تاج ته ورغاړه وتل.

"مونږ وګټله!" کریم ورته مبارکي ورکوله. تاج ویل قسم دی که په دې هر څه مې باور راتلو. هغه لکه بت ولاړ وو. د هغې مخې ته لوبغاړو یو بل ته لاسونه ورکول.

الله داد هم راغی او تاج ته یې لاس ورکړ.

" په قسمت مو وګټله خو داسې به بیا ونه شي. نن دې ښه مشري وکړه. تا دې افغانانو ته ویاړ راوړ." الله داد ومنله.

تاج خپل سر وخوځاوه،" نا، مونږ په ګډه افغانانو ته ویاړ راوړ! مونږ دوی ته وښودله چې مونږ کرکټ کې څومره تکړه یو،"

الله داد پرته د نور څه ویلو روان شو. دا ښکاره وه چې هغه او تاج هیڅکله ملګري کېدای نشي. په هر حال تاج د الله داد خواخوږۍ څخه خوښ شو که څه هم دا ډیر مودابانه نه و خو د هغې نه داسې کار کېدل هم غټه خبره وه.

له دې وروسته افغان لوبغاړي په شیبو کې اوسیدل. په دې فکر کې هم نه ول چې مشران به یې څه وایي، او هیڅا ورسره مرسته نه وه کړې او څنګه په پټه دوی تمرینونه کړي ول. دې ګټې دوی په دې پوه کړل چې ددوی قربانۍ بې ځایه نه وې. افغان کرکټ کلب ته د ټورنمنټ ګټلو په ویاړ یو څه پیسې هم ورکړل شوې. دوی به وکولای شي چې د لوبډلې لپاره نور بیټونه او ټینس توپونه وپیري.

کله چې هر څه ختم شول، افغان لوبغاړي یو ځل بیا د اعظم خان په موټر کې کیناستل. د اعظم پلار هغوی تر کوره ورسول. افغان ننداره چیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبغاړو سره په ګډا تر کیمپ راغلل او تاج ورسره هم د موټر د سر نه ګډا کوله.کله چې ګټونکې لوبډله کچه ګړۍ ته راورسیده نو سلګونه نور افغان مهاجرین ترې هم راچاپېر شول. دا لوبغاړي ناڅاپه ستوري شول. کله چې رییس د موټر نه ښکته شو نو مهاجر ترې راچاپېر شول او چغې یې وهلې،" سچن ټینډولکردی! ډېر ښه!"

سچن ټینډولکر د هندوستان لوبډلې غوره لوبغاړی وو چې په تاریخ کې یې ساری نه درلود. هغه یواځینی لوبغاړی وو چې په نړیوالو لوبو کې یې ۳۰۰۰۰ منډې جوړې کړې وې او رییس هم ۱۱۴ منډو جوړولو سره مهاجرینو ته دا وروښوده چې هغه هم د سچن ټینډولکر نه کم نه دی.

تاج، کریم او الله داد نوري هم تکړه لوبغاړي وستایل شول. د افغان کرکټ کلب ملاتړي پیدا کړل، هغه ملاتړي چې د لوبډلې په جوړولو کې ورسره مخالف ول.

کله چې تاج او کریم د شپې ناوخته کور ته ورسیدل نو مور ورته هم د لوبې بریا مبارکي ورکړه. تاج او کریم هم حیران ول ځکه یو کال وړاندې یې سخت مخالفت ښودلی وو. کیدای شي هغې داسې فرض کوله چې هغه هم د افغان کرکټ کلب مینه واله ده ځکه د کیمپ ټولو مهاجرو د کرکټ صفتونه کول،

" بریا مو مبارک شه!زه لوبې ته درغلې وم. تاسو دواړه ښه لوبغاړي یاست" هغې زامنو ته وویل.

" مننه، مورې!" تاج ځواب ورکړ.

"کله چې زه خبره شوم چې ستاسو لوبډله تر پایلوبې رسیدلې، نو ما ویل چې تاسو ته به ستاسو د سرغړونې جزا درکوم. کله چې ما ولیدل چې تاسو د کیمپ ټول افغانان خوشاله کړل. نو ما پریکړه کړې چې تاسې ته لوبې کولو اجازه درکړم."

نږدی وو چې تاج بیا په ژړا شي. له دې وړاندې هغه هیڅ احساساتي سړی نه وو خو دا ورځ اتثنا وه. هغې نن د کرکټ دوه معجزې وکتلې.



لومړی دا چې د افغان کرکټ کلب پایلوبه وګټله او دویمه دا چې مور یې د کرکټ کولو لپاره دوی وهڅول. کریم د مرغۍ په څېر دواړه لاسونه ښکته پورته کول،

" زه ازاد شوم!!!"هغې چغې وهلې.

مور یې تندی تریو کړ،" ته ازاد نه یې...ته اوس هم ستونزه کې یې.ښاغلي قریش دې پلار ته ویلي چې تاسو په دې اخره کې ډېر ښوونځي ته نه ځئ، دا ولې؟"

تاج نن ډېر خوشاله وو نو هغې پرېکړه وکړه چې هر څه به ریښتیا وایي.

" د افغان کرکټ کلب د پېښور په کرکټ لیګ کې دی. او ډېرې لوبې به د ښوونځي ساعتونو په وخت کې وې. که چیرته مونږ یو څو ورځې صنفونه ول پرېښي نو ننني بریا به مو نه وه په برخه شوې."

مور یې خوابدې شوه،" ما خو تاسو ته د کرکټ کولو اجازه درکړه، نور نو څه غواړئ؟ تاسې باید ددې لپاره ښوونځي پرېنږدئ. زه ډېره خوشاله یم چې تاسو نن لوبه وګټله خو تاسې باید په دې پوه شئ چې تعلیم لومړی راځي. ما تاسو ته څو څو ځله ویلي. افغانستان کې د کرکټ راتلونکی نشته. که چیرته تاسو بیا د کرکټ لپاره ښوونځی پرېښود نو ستاسې د کرکټ شیان به درنه واخلم او ستاسو لیګ سره به اړیکه ونیسم او تاسې به د لیګ نه بهر کړم."

تاج او کریم ته د حالاتو جدیت اندازه ولګیده. هغوی ډېر حیران ول چې مور یې د مبارکۍ نه دومره زر غوسې حالت ته څنګه راغله. خو بیا هم دوی په دې پوه شوي ول چې د کرکټ موضوع څومره حساسه ده،

" مورې، بالکل مونږ به بیا د کرکټ لپاره ښوونځی پرېنږدو. مونږ پوهیږو چې تعلیم ډېر مهم دی." تاج ډاډ ورکړ.

" همداسې؟" کریم وپوښتل.

"هو همداسې به کوو. او مونږ ډېر خوښ یو چې د نن نه وروسته مونږ کرکټ کولو ته پرېږدې." تاج ورزیاته کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاج ډېر زر د مور غوسه راقابو کړه، هغې هم دا موضوع پرېښوده،

" سمه ده. تاسو ورېي یاست؟ تاسو خو نن غټ کار کړی، ټورنمنټ مو ګټلی! ما تاسو لپاره د ملګري ملتونو خیمې څخه بسکټونه راوړي."

بسکټ ترلاسه کول هم څه اسانه کار نه وو.تاج او کريم به په دوه دقیقو کې دا بسکټ ختمول او د خوړلو وروسته به د معدې دردونه پیدا شول.

"نا، زه وږی نه یم، ماته خوب راغلی." تاج وویل.

" بسکټ د سبا لپاره وساته! زه به یې ښوونځي کې وخورم. ماته به کرکټ وخت کې ډېر قوت راکړي." کريم غږ وکړ.

" زه به یې درته وساتم. ځئ ویده شئ. ښه شپه زما خوږو،" مور یې وویل.

" ښه شپه تاسو ته هم" تاج او کريم ځواب ورکړ.

کله چې دواړه هلکان د خوب لپاره په خیمو کې ننوتل نو کريم تاج ته ورو وویل." تا ولې مور ته وویل چې مونږ به ښوونځي ته ځو؟"

تاج هاخوا دیخوا وکتل تر څو وګوري چې مور یې نږدې نشته. " ځکه چې هغې ته ډاډ ورکړو چې مونږ د هغې خبره منو! که داسې ونه کړو نو زمونږ اسباب به رانه واخلي او د افغان ملي کرکټ لوبډلې خوب به مو په اوبو لاهو شي. او د اسبابو او لوبډلې پرته مونږ نړیوال جام نه شو ګټلای."

" ته بیخي سم وای...او ډېر هوښیار یې" کريم هغه وستایه.

" هو زه پوهېږم. اوس ویده شه. سبا به ښوونځي ته هم ځو او کرکټ تمرین به هم کوو."

" اول درته یوه بله خبره وکړم؟" کريم وپوښتل.

" زه خو دې مشر ورور یم. هر څه ویلای شې. ،" تاج ورته وویل

"ښه، زه په پوره ډاډه ویلای شم چې مونږ نړیوال جام ګټلی شو او په ځانګړی توګه که چیرته ته د افغان ملي لوبډلې مشري وکړې." کريم داسې انګیرله.



تاج د خپل صفت په اوریدو ډېر خوشاله وو. " مننه، دا خو د تکړه لوبغاړو برکت وو. نن تا او رییس ډېره ښه لوبه وکړه. که چیرته مونږ همداسې تمرینونه کوو، مونږ به ډېر افغانان خوشاله کړو"

" هو. مونږ به زیات زحمت وباسو. ښه شپه وروره!"

" ښه شپه کریمه!"

د ویده کیدو نه وروسته تاج د تیرې ورځې باره کې فکر کاوه. په کچه ګړۍ کې افغانانو د کرکټ ملاتړ شروع کړ. ددوی په مور کې هم بدلون راغلی وو.

د راتلونکو دری میاشتو پورې د کیمپ مهاجرینو د افغان کرکټ کلب باره کې خبرې کولې. د کرکټ مینه وال زیاتیدل او د ټورنمنټ لوبې ګټلو الله داد هم په دې ډاډه کړ چې د افغان ملي لوبډله باید جوړه شي. هغه پوهیده چې تاج همدا غواړي چې لمړی د افغان کرکټ کلب په نوم تجربه پیدا کړي او بیا د افغان ملي کرکټ لوبډله جوړه کړي. خو دا یې په کیسه کې نه وو. الله داد په دې ډاډه وو چې هغه د تاج نه ښه مشري کولای شي.

د افغان کرکټ کلب دا ثابته کړه چې هغوی د بریالیتوب لپاره ښه وړتیا لري. د الله داد دې ته خیال وو. تاج د ویلو پرته الله داد د افغانستان المپیک کمیټې ته چې په کابل کې موقیعت لري یو لیک واستوه. د افغانستان المپیک کمیټه د ملي لوبډلو جوړولو او د لوبغاړو سره د مرستې مسولیت لري. هره لوبه رسمي کولو وړاندې باید د المپیک کمیټه کې د ملي لوبډلې په څېر راجستر شي.

الله داد وړاندیز وکړ چې د افغان کرکټ ملي لوبډله راجستر کړي. د افغانستان المپیک کمیټه د کرکټ ملي کولو ته ډېر خوشاله شول ځکه له دې وړاندې افغانستان ملي کرکټ لوبډله نه درلوده. د المپیک غړو ډېر زر د الله داد وړاندیز ومانه. د ۱۹۹۵ کال په نیمایي کې هغه د کرکټ ملي لوبډلې مسول وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې تاج خبر شو چې الله داد داسې کار کړی، هغه خپه شو. یو ځلی یې پخوا هم د الله داد سره مخالفت ښودلې وو. تاج کوښښ کاوه چې شخصي ستونزې غلې وساتي او هغې نه غوښتل چې د افغان کرکټ کلب لوبغاړي له دې خبرې خبر شي.

"الله داده! دله! آیا ته په پټه غواړې د افغان ملي کرکټ لوبډله جوړه کړې؟"

"هو. ته نور مهم نه یې، تاجه!د افغانستان المپیک کمیټې ماته د ملي کرکټ لوبډلې واک راکړی دی." الله داد وویل.

تاج غوښتل چې هغه ووهي خو ځان یې کابو کړ ځکه وروستي انجام به یې ښه نه ول. او تاج د الله داد نیمایي قد درلود، " ته ځان غوښتونکې. زما نه پرته دې ولې المپیک کمیټې سره اړیکه نیولې؟ ته ښه پوهیدې چې ملي لوبډله جوړول زما خوب دی."

الله داد په بې پروایۍ وخندل."ته ډیر تمبل یې. نو ما ورسره اول اړیکه ونیوله. تا وبایلله. او دا خو هیڅ فرق هم نه کوي. ته خو هسې هم چاغ پلن او خراب مشر یې"

" زما افغان کرکټ کلب د پیښور لیګ ګټونکی شو. تا څه ګټلي دي!؟" تاج چلینج ورکړ.

" تر اوسه هیڅ نا. خو زه به نړیوال جام ګټم. ښه وخت ولرې خپل افغان کرکټ کلب سره." الله داد روان شو، تاج یې هماغسی د غوسې څخه غاښونه کرنجول او لاسونه یې سره موښل، ولاړ پریښود.

دا د الله داد د نوي واک تر لاسه کولو لمړی قدم و چې د افغانستان کرکټ فیډریشن یې جوړ کړ. دا فیډریشن د الله داد له خوا د المپیک کمیټې نورو غړو سره جوړ شوی وو. ددوی دنده دا وه چې د لوبو مهالویشونه برابر کړي، د کرکټ لپاره پیسې برابرې کړي او رسنیو سره مالومات شریک کړي، خو تر اوسه خو نه لوبې وې چې مهالویش یې جوړ شي او څوک نه ول چې پیسې ځیني واخیستل شي او رسنیو سره مالومات



شریکول اداره کړي. الله داد په دې باور درلود چې د افغان کرکټ فیډریشن به د افغانستان کرکټ لپاره روښانه راتلونکی ولري.

دا د تاج قسمت وو چې الله داد د افغان کرکټ فیډریشن مشر وټاکل شو. دا دلته هم ختمه نه شوه. د المپیک کمیټې الله داد د افغان کرکټ لوبډلې لوبډلمشر هم وټاکه. تاج یې مخې ته ودریده، هغې پریکړه وکړه چې د یوې کړنلارې څخه کار واخلي.

د الله داد پر ضد عکس العمل اخستو لپاره هم دومره وخت نه وو. کله چې الله داد د المپیک کمیټې ته د افغان کرکټ ملي لوبډلې باره کې لیک استولې وو نو دا په هغې وخت کې په کیمپ کې سره د تاج او نورو لوبغاړو مهاجر وو. الله داد په دې زر پوه شو چې د افغان ملي لوبډلې لوبډلمشرۍ سره دا نه شي کولای په پاکستان کې پاتې شي. یوه ملي لوبډله باید په هماغه هیواد کې وي له کوم څخه چې استازیتوب کوي. نو الله داد خپل هېواد ته تلو لپاره تابیه ونیوله. هغه د خپلو ځینو لوبډلې ملګرو سره کابل ته لاړ تر څو د کرکټ تمریني لوبې وکړي. ډیر پکې ددې پلان څخه خوښ نه ښکاریدل او هغوی په دې هم نه پوهیدل چې آیا افغانستان به د لوبې لپاره خوندي وي که نا. هلته لا جګړه روانه وه. او له دې سره سره طالبانو د لا واک اخستو په حال کې ول. تاج د افغان کرکټ کلب لوبغاړو ته ویل تر هغې هېواد ته ستانه نه شي تر څو ارامي نه وي راغلې. هغې الله داد ته هم وویل چې افغانستان ته دومره زر لاړ نه شي.

"څنګه چل دې الله داد! زه پوهیږم چې مونږ په هر څه سره وران یو، او په همدې ته فکر کوې چې زه ستا دښمن یم. خو زه ستا د ګټې لپاره وایم ځکه زه درباندې خپه کېږم. ته باید افغانستان ته لاړ نشې. هلته اوس هم حالات ښه نه دي"

" ښه نو اوس په ما خپه کیږې؟ زه هم ستا همزولی یم. ته یواځې دا کوښښ کوې چې ما پرینږدې چې په ملي لوبډلې کار وکړم" الله داد ځواب ورکړ.

"ریښتیا، زه نه غواړم چې داسې وکړم. زه پوهېږم چې ته څومره غواړې افغانستان ته ویاړ راوړې. خو ته باید له احتیاط څخه هم کار واخلې. طالبانو ډېر واک په لاس کې اخیستی."

الله داد د تاج خبرې بې ارزښته ونه ګڼلې. د افغانستان کرکټ فیډریشن نوي مشر په توګه هغې ځان کې ډېر قدرت کتلو. طالبان به د هغې رتبې ته په درنه سترګه وګوري. هغه به د افراطي ډلو سره کیني او د لوبډلې باره کې به ورسره خبرې وکړي.

په ۱۹۹٦ کال کې الله داد پریکړه وکړه چې بیرته به کابل ته ستنیږي. هغې د افغان کرکټ کلب لوبغاړو ته وویل چې هغوی هر وخت وغواړي کابل ته راتللی شي. د الله داد تلو سره تاج د ارامۍ احساس وکړ. هغې اوس په ارامه کولای شول چې افغان کرکټ ټورنمنټ باندې نورې لوبې هم وګټي.

په حیرانۍ ، تاج په دې پوه شو چې د الله داد پرته هغه په لوبو تمرکز نه شي کولای. هغې په دې فکر کاوه چې الله داد دې ته د کرکټ باره کې څه مشورې ورکولې. د ورځو په تیریدو سره تاج د ملي لوبډلې مشرۍ څخه مایوسه شو. د هغې نیمګړي خوب هغه له دننه څخه خوړه. له هر څه وروسته تاج د خپل مور او پلار سره هم افغانستان ته د تګ خبره وکړه. هغه په ډاډ عالم ګل خواته ورغی

"پلاره، زه غواړم بیرته خپل هېواد ته لاړ شو. د افغان کرکټ کلب چې ما دلته شروع کړی و، ډېر بریالی وو. زما ملګري الله داد نوري په کابل کې د افغانستان المپیک کمیټي ته لیک استولی وو، هغوی هم د ملي کرکټ لوبډلې جوړولو خبره منلې. خو ملي لوبډله پاکستان کې نه شي پاتې کیدای. الله داد نوري هم څو ورځې وړاندې کابل ته لاړ. دا زما خوب دی چې زه د افغان کرکټ لوبډله جوړه کړم، نو زه باید هم کابل ته لاړ شم."

عالم فکر کاوه چې څوی یې خپل ماغزه له لاسه ورکړي



" تاجه! ته پوهېږې چې افغانستان ته بیرته تګ له امکان څخه لرې ده . او بله دا چې ستا مور تاسو ته د کرکټ کولو اجازه هم درکړې ده، له دې څخه ډېر نه شو درکولای"

" دا هغه څه دي چې زه یې باید وکړم. زه غواړم خپل هېواد ته ویاړ راوړم. کرکټ به د افغانستان خلک متحد کړي." تاج په کلکه په خپله خبره ولاړ وو.

" د افغانستان خلک سره بیل شوي. هلته یواځې جګړه ده. ته خپل هېواد ته هله خدمت کولای شې چې ته یو لوړه درجه ډاکټر یا انجینر جوړ شې"

کریم هم غوښتل چې تاج سره مرسته وکړي او کابل ته لاړ شي. د کریم نورو خبرو عالم نور هم په غوسه کړ. هغې د تاج او کریم بله یوه خبره هم وانه واوریده. د بحث نه وروسته تاج افغانستان ته تګ له مغزو وویست، هغې یواځې په دې فکر کوه چې همدلته په کچه ګړۍ کې کریم او رییس سره پاتې کیږي او هماغه افغان کرکټ کلب به پر مخ بوځي.

خو بل خوا هیڅوک نه پوهیدل چې الله داد کابل ته تلو کې څومره ستونزو سره مخ شوی وو. هغه یواځې یو کرکټ بیټ او توپ سره روان شوی وو. دا بیټ او توپ دافغان کرکټ کلب لخوا ورډالۍ شوي ول. الله داد یواځې نولس کلن وو او افغانستان ته بیرته ستنیدو لپاره یې د ملګري ملتونو سازمان څخه مرسته غوښتې وه.

له نیکه مرغه الله داد یواځې نه وو بلکې د کیمپ څخه یو څو مهاجرې کورنۍ هم وې. ځکه دوی ډېر زیات شول او ملګري ملتونه مجبور شول چې دوی ته یو ټرک په کرایه کړي تر څو د پاکستان او افغانستان پولې پورې یې ورسوي. الله داد د ملګري ملتونو لوړ ټرک ته ورختلی وو.

ټول مهاجرین ټرک ته وختل او فکر یې کاوه چې د تل لپاره خپل هېواد ته ستانه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینو خو پکې له ځان سره غواګانې او ګډې هم راروانی کړې وې. د ټرک شاتنی برخه د ځناورو د بوی څخه ډکه وه. الله داد خپله پوزه پټه کړې وه.

د ملګري ملتونو ټرک د یو نظامي ټرک هومره ستر وو. د ټرک یو ټایر د الله داد قد هومره غټ وو. د ټرک رنګ سپین و خو دوړو او خټو یې رنګ وربدل کړی وو. دا یو ستونزمن سفر وو.

له نیکه مرغه د یو ساعت څخه وړاندې ټرک د افغانستان او پاکستان پولې ته راورسیده. الله داد د ځان سره بیټ او توپ لاس کې نیولی د ټرک څخه په خوښۍ راټوپ کړل. تازه هوا پرې ولګیده. ملګري ملتونو باید په خپلو موټرونو کې د ځناورو وړل بند کړي وای. هغې د لرې څخه د افغانستان غرونو ته کتل. هغې نه هیر وو چې څو کلونه وروسته د کچه ګړۍ کیمپ څخه راوتلی وو.

لمر د غرورنو په سر ځلیده. الله داد د بیرته تګ پرېکړه په ۱۹۹۶ کال کې وکړه او په دې وخت کې یې د خوښۍ احساس کاوه. د اکتوبر په میاشت کې په د افغانستان کې حرارت درجه ټیټیږي. په دې ورځ هم د ۴۴ د فارنهایت درجه وه. یوه میاشت یا دوه وروسته به واورې شروع شي او حرارت درجه به منفي ته ورسیږي.

هغې پرېکړه وکړه چې خپل ذهن متمرکز کړي چې څنګه کابل ته ورسیږي. د پولې نه هاخوا نور درې ساعته مزل کابل ته پاتې وو. الله داد بیټ او توپ په لاس کې نیولی او د افغانستان ځمکې ته ورننوت. هغه پوله چې دواړه هېوادونه سره بیلوي د ډیورنډ په نوم یادیږي. دا د نړۍ تر ټولو خطرناکې سیمې ګڼل کیږي.

د پولې دواړه غاړه سیمې رادیکالو مسلمانانو سیمې دي. دا کربنه د پاکستان او افغانستان پښتانه سره بیلوي. له پخوا راهیسی دا دواړه قومونه یو بل ته ګواښیږي نو ځکه ځایي اوسیدونکي ځان سره لاسي ټوپکې، کلاشینکوفونه او چاودیدونکې مواد لري. غیر قانوني کړنې لکه، د وسلو



قاچاق، اپیم روږدي، قیمتي ډبرې، موټرې او داسې نور پکې ډیر تر سترګو کیږي. تښتونې او وژنې پکې هم ډیرې عامې دي.

الله داد په لمرې ځل په دې لاره روان وو. د هغې لپاره ښه خبر دا وو چې د هغې پخوانی کور اوس هم هماغسې وو. د هغې پاتې کېدو لپاره په افغانستان کې یو ځای خو وو. او بد خبر دا وو چې طالبانو ټول کابل د خپلې ولکې لاندې راوستی وو. یو کس په کابل کې وویل چې بنسټ پالې ډلې د افغانستان څلور کې دریمه برخه نیولې.

الله داد چې څنګه مخکې کابل لیدلی وو د هغې نه ډیر بدل ښکاریده. ډیری نوي څلي، او د مخکینو واکمنانو قبرونه او ښایسته باغونه لیدل کیدل. د خوراکي توکو فابریکې، د وریښمو او وړیو میلونه، د فرنیچرو فابریکې او د مرمرو تیږو فابریکو څخه لوګي پورته کیدل. کابل د افغانستان ستر ښار دی چې ددوه غرونو په منځ کې پروت دی. کله چې الله داد کابل ته راورسیده نو ټول سرکونه او کوڅې تشې وې، د طالبانو له ویرې ډیر افغانان له کورونو هم نه راوتل.

کله چې الله داد ته د کابل روان حالت مالوم شو، هغې د افغانستان المپیک کمیټې سره یوه غونډه ونیوله تر څو د خپل رول باره کې ځان ډاډه کړي او د ملي لوبډلې لپاره نور څه کول دي. هغې غوښتل چې دا هر څه زر وشي تر څو هغه وکولای شي چې له هېواد څخه غوره لوبغاړي راټول کړي. د هرې لوبې ازمایښتي بهیر د المپیک کمیټې اجازې پرته نه تر سره کیږي. کمیټې د هغې د ازمایښتي بهیر وړاندیز ونه مانه. د دې وخت غونډه ډیره ښه نه وه. مولوي قلم الدین ددې کمیټې مشر ټاکل شوی وو چې الله داد یې مخکې نوم هم نه اوریدلی. هغې الله داد ته وویل، " سږ کال د المپیک کمیټه د ۱۹۹۶ کال المپیک ته دوه لوبغاړي امریکا ته لیږلي ول. هر چا فکر کاوه چې دا به یوه ستره موقع وي خو سوک وهونکی محمد جاوید امان د سیالۍ مهالوېش څخه وروسته ورغی او منډه وهونکی عبدالبصیر واثقي په سیالۍ کې د ټولو نه شاته پاتې وو. هغوی دواړو افغانستان وشرموه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبې وخت ضایع کونکي دي او همدارنګه د دین اصولو پر ضد دي. نو مونږ پرې بندیزونه لګولي. ښځې هیڅ نه شي کولای چې په لوبو کې ګډون وکړي. د کابل ګولف کلب باید وتړل شي او په ملي لوبه بزکشي هم بندیز ولګیده. یواځې فوټبال، بوکسنګ او والي بال مذهب له لحاظه منونکي دي. هغوی ته به هم محدوده اجازه ورکړل شي. د المپیک کمیټه باور لري چې دوی ډیر اړیني موخې لري. مونږ باید الله ج او طالبان خوشاله وساتو نه باید لوبو کې دومره ورننوځو."

الله داد وارخطا شو،" خو د المپیک کمیټې ماته ویلي وو چې زه کولای شم د افغان ملي کرکټ لوبډله جوړه کړم او زه د کمیټې ځینو غړو په مرسته د افغان کرکټ فیډریشن هم جوړوم. تاسو ولې خپلې خبرې نه واوښتئ؟ ایا ته هم د طالبانو غړی یې؟"

" هو. زه د طالبانو مشر یم، او د مخکیني مشر پر ځای ټاکل شوی یم. هیڅ فرق نه کوي چې تاته مخکې څه ویل شوي. دی کمیټه کې بدلون راغلی. مونږ تاته د کرکټ لوبډلې یا فیډریشن جوړولو اجازه نه درکوو."مولوي قلم الدین په تیز غږ وویل.

الله داد لکه بې خوده شو. طالبانو د افغانستان المپیک کمیټه هم په لاس کې اخیستې بلکې هغوی په هر ځای لاس بري ول. الله داد دا رد نه شو منلای خو بیا هم د افراطي ډلې له ویرې نه یې څه نه شو ویلای. کابل ته راتګ سره یې مخکې هم خپل ځان په خطر کې اچولی وو خو هغه ودریدونکې نه وو. هغې داسې فکر کاوه چې د طالبانو اجازې پرته به ازمایښتي لوبې وکړي.

اخر د یو کال پلان او تیارۍ وروسته په ۱۹۹۸ کال کې الله داد په دې وتوانید چې د افغان کرکټ ملي لوبډله رسمي اعلان کړي.په هاغه وخت کې لس افغان کرکټ لوبغاړي ول. یواځې هغه لوبغاړي ول چې لنډ وخت کې د پاکستان کمپونو نه راغلي ول ځکه نور هیڅوک په دې لوبه نه



پوهیدل. کرکټ افغانی لوبه هم نه وه او د تمرین لپاره اسانتیاوی هم نه وې.

د افغان ملي کرکټ لوبډلې لپاره تمریناتي لوبې د کابل په شمالي برخه کې د وزیر اکبر خان سیمه کې کېدې. زیاتره خارجي سفارتونه لکه د امریکا او کاناډا سفارتونه په دې سیمه کې شتون لري. د طالبانو له کبله زیاتره سفارتونه تړل شوي ول. کوم ځای کې چې دوی تمریناتي لوبې کولې د غر په لمن کې کانکریټي میدان وو. دا ځای په کابل په ټولو کې پراخه او غټ ځای وو.

هیڅ یو لوبغاړي الله داد ته خپله وړتیا ونه ښودلې شوه. وړاندې تر دې چې دوی لوبه شروع کړي له لرې څخه پایکپې موټرې د وزیر اکبر خان په لور راروان وو. الله داد وسله وال ډارونکي سړي د اوږدو ږیرو او تورو پګړیو سره په موټرو کې ناست ول، ولیدل. په دې کې هیڅ شک نه وو چې دا د طالبانو غړي دي. هغوی موټر د میدان منځ کې ودراوه، له موټرو یې راټوپ کړل، ټوپکې یې لاسونو کې نیولې او خوځولې،

" بسم الله! دا خارجې لوبه چې تاسو کوئ، افغانستان کې بنده ده"

الله داد غوښتل چې د طالبانو غړي له مخې لرې کړي،" مونږ یواځې کرکټ کوو. دا خو د افغان ملي لوبډلې لپاره تمریناتي لوبې دي."

په سړو یې اثر ونه کړ. هغوی کرکټ کونکو ته وکتل.

" که بیا مو یو له تاسو څخه دا لوبه کرکټ ده که هر څه نومیږي، ولیده چې تاسو یې کوئ نو نیول کیږئ به."

هغوی تر هغه ولاړ ول چې ټولو دا ځای پریښود او بیرته خپلو موټرو ته وختل او له موټر څخه یې یواځې شین لوګی پریښود. دا داسې لوګی وو چې په ورځ کې به پکې هم سړی ورکیده. الله داد ځمکې ته لغته ورکړه او له ځان سره یې قسمونه خوړل. دوړی راپورته کیږي. هغه اوس هیڅ نه پوهیده چې څه وکړي. هغې دومره غوښتل چې غوره لوبغاړو لپاره تمریناتي لوبې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولو ناهیلیو سره، الله داد د المپیک کمیټې مشر مولوي قلم الدین او نورو طالب مشرانو سره مخامخ خبرې وکړې تر څو هغوی قانع کړي چې کرکټ یوه ښه لوبه ده او دوی ته یواځې د تمریناتي لوبو اجازه ورکړي. خو له بده مرغه طالبان د خپلې خبرې وانه ووښتل. هر یو طالب الله داد ته د غیر مذهبي لوبې اخطارونه ورکړي ول. مولوي قلم الدین، الله داد ته ویلي ول چې بیا د کرکټ نوم وا نه خلي.

الله داد به همدا پوښتنه کوله چې کرکټ څنګه د والیبال، فوټ بال او بوکسنګ څخه بیل دی ځکه دې درې لوبو ته طالبانو اجازه ورکړې وه. او په دې سر بیره کرکټ د افغانانو بیخ ته رسیدلی وو. کرکټ د توپ ډنډې په نوم پېژندل کېده. توپ ډنډه په پراخه کچه کېده خو افغانان پکې تکړه هم ول. مطلب دا چې افغانان به کرکټ کې هم ښه وي. طالب مشرانو دا هم ویلي ول که الله داد همداسې د خلکو مخکې کرکټ کوي نو ښه به ورته نه وي.

لوبې یواځینی شی نه وو چې طالبانو پرې بندیز لګولی وو بلکې دې افراطي ډلې د ماشومانو لوبو سامان، هنر، ټولنیز راجمع کېدل، سندرې، تلویزیون او انټرنټ باندې هم بندیزونه لګولي ول. ښځو ته اجازه نه وه چې ښوونځي ته لاړې شي یا کار وکړي او یا هم د خلکو په مخکې په تیز غږ خبرې وکړي. او که هر چا به دې قوانینو څخه سرغړونه کوله نو هغوی به نیول کېدل، سنګسار کېدل او یا وژل کېدل. د افغانانو ارام او سوله ایز روحونه یې د طالبانو وحشي قانونونو له کبله د وحشت په لور روان ول. انسانان د محیط تاثیر لاندې اغیزمن کېدای شي او هماغه طبیعت خپلولای شي.

هر څومره چې الله داد کابل کې پاتې کېده په هماغه اندازه ناهیلی کېده. وحشت په لوبه کې هم ننوتې وو. د جمعې په ورځ به هم طالبانو سرغړونکي د غازي سټیډیم ته راوستل او د زرګونه خلکو مخکې به یې جزا ورکوله. په افغانستان کې غازي سټیډیم د فوټبال لوبې میدان دی. دا مېدان هم د هغه لږو اسانتیاوو له جملې څخه وو چې پکې واښه هم نه ول او ددې



میدان د واښو راشنه کېدو باره کې دا افواهات هم ول چې په دې میدان کې ډېرې وینې توی شوي دي. دا میدان د لوبو څخه ډېر د سزا ورکولو لپاره استعمالیده که نا د الله داد لپاره دا ښه ځای وو چې باید تمریناتي لوبې یې پکې کړې وی.

یوه جمعې ورځ وه چې الله داد ولیده چې طالبانو یو څو سرغړونکو ته سزا ورکوي. که چیرته دلته د وحشت نړیواله سیالي کېده نو دوی به پکې لمړې مقام ګټه. په زرګونه ماشومان، هلکان او ځوانانو دې سټیډیم ته سزا لیدلو لپاره راتلل. هغوی به هلته ناست ول او کیسې به یې کولې. د اونۍ سزا به دوی لپاره یو ټولنیزه ساعت تیري وه ځکه دوی پکې یو بل لیدل.

ښځې په کورونو کې ساتل شوې وې. هغوی به په تورو حجابونو یا بورقو او یا اوږدو کالیو کې ځانونه د سر څخه تر پښو پټ کړي ول. که چیرته به ددوی لږ ځای هم ښکاره شو نو طالبانو به دخلکو په مخکې وهلې. طالبان ملیشې به پیکپو موټرو کې د کلاشینکوفونو سره د شاته سیټونو څخه راټوپ کړل، موټرې به یې د میدان منځ کې ودرولې.

هغوی دوه بوجۍ ګانې د پیکپو شاته ځای نه راخطا کړې. ټول یو بل سره لګیا ول. په دې بوجۍ ګانو کې به څه وي؟

" مړي به وي!" یو ماشوم وویل.

" نا انسانانو ګوتې به وي!" یو بل ورته وویل.

ددوی دواړو خبره سمه نه وه. طالبانو په بوجۍ ګانو کې درمل بار کړي ول چې په تیره اونۍ کې یې راټول کړي ول. خلکو ته یې خوند ورنکړ ځکه هغوی فکر کاوه چې یو څه حیرانونکي به وي او طالبانو هم نه غوښتل چې خپل ننداره چیان خپه کړي.

یو کس یوه بوشکه راواخیسته او په درملو یې وشیندله. دا پیټرول ول. یو بل کس ورته اور ورکړ. دواړو کسانو په خوښۍ اور ته کتل.

" الله اکبر!" هغوی دا چغې وهلې او بره اسمان ته یې کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظاميانو ننداره چيان هڅول چې هغوی ورسره هم چغې ووهي. دا ددوی ريښتونې لوبه وه او دا ددوی ريښتونې ساعت تيري وه. کله چې دا مواد په بشپړه توګه وسوځېدل نو د موټر دروازې يې خلاصې کړې او درې کسان، يو يو يې د ګريوانه نيول او د موټر څخه راغورځول. ټول ننداره چيان غلي شول. د طالبانو يو خطيب په لاوډ سپيکر کې خبرې شروع کړې،

" دا هغه کسان دي چې دلته مو نن د جزا لپاره راوستي دي. لمړنۍ ميرمن به ۱۰۰ دورې ووهل شي ځکه دا يوه کس سره ولاړه وه چې دهغې خپلوان نه وو. دا هم يو قسم زنا ده. دا ښځه واده شوې نده نو دې ته به ښښنه وشي. که چيرته دا واده شوې وه نو شريعت قانون پر اساس به مو دا ښځه د مرګ شيبې پورې سنګسار کړې وه."

ننداره چيانو کې يو څو ځوانانو ويل چې دا ښځه سهيلا نوميده. دا افوا په ثانيو کې خپره شوه. ټولو غوښتل چې سهيلا کوم سړي سره په خبرو نيول شوې وه. د طالبانو خطيب په بې پروايۍ خبرې کولې.

"او دې دوه سړيو په کابل کې د يو کور نه غلا کړې وه. مونږ ټول پوهيږو چې غلا يوه غټه ګناه ده. نو ددې دواړو لاسونه به پرې کيږي. دوی به تر عمره ونه توانيږي چې بيا غلا وکړي."

طالبانو لمړی سهيلا له موټر نه په بې رحمۍ راښکته کړه، هغه په بې وسۍ په ځمکه پريوته. سهيلا په مشکله په خپلو پښو ودريده او هڅه يې کوله چې تر ډيره ودريږي. د هغې لاسونه په شا پورې تړل شوي ول تر څو بيرته ونه جنګيږي. د هغې مخ اوس هم په چادري کې پټ وو. ټولو ننداره چيانو ته مالوميده چې هغه يوه نرۍ ښځه وه.

کله چې سهيلا د سزا ځای ته ورسيده، نظاميانو هغه په ګونډو کړه. هغې هڅه کوله چې يو څه مبارزه وکړي خو هغه زر پوه شوه چې هيڅ ګټه نه لري. يو پهلوان طالب يو پيړ کمربند له کومه پيدا کړی وو. هغې په سهيلا باندې په خپل زور ګوزار وکړ. کمربند به د سهيلا نرۍ ملا نه تاو شو او په بدن کې به يې يوه څړيکه تيره شوه. سهيلا ژړل. څو نور طالبان ترې



خواوشا ولاړ تر څو د ګوزارونو شمير وساتي. هغوی غوښتل چې ننداره چيان هم ورسره په چغه ګوزارونه وشماري. هغوی ته تر سلو شمير هم ګران ښکاريده خو دې ته يې پام نه کاوه چې په سهيلا به څنګه تيريږي. ځينو به هاخوا ديخوا کتل. په پای کې پهلوان طالب بس کړل او کمربند چې څنګه راپيدا شوی وو هغومره زر ورک شو. هغه له ځايه نه شوه پاڅېدې، کيدای شي بې هوښه وي خو هيڅ فرق يې نه کاوه.

هيچا ونه کتل چې سهيلا ژوندۍ ده که مړه شوې. طالبانو هغه په ځای پريښوده او د موټر په لور لاړل تر څو دوه نور سرغړونکي راولي. دواړه کسان يې د ګريوانونو نه نيولي او د سزا ځای يانې چيرته چې سهيلا پرته ده، راوستل. د دواړو سړيو مخونه پټ ول. ننداره چيان يو ځل بيا غلي شول. درې ډاکټران راغلل او دواړو ته يې د بيهوښۍ ستنې ووهلې. هغوی دواړه د شا په طرف د سهيلا سره خوا کې وغورځېدل، ډاکټرانو د هغوی ښي لاسونه د جراحۍ په چړې ورپرې کړل.

طالب خطيب يو لاس چې همدا اوس پرې شوی و د منځنۍ ګوتې نه ونيو او په هوا کې يې ونيو چې ټول يې وګوري. هغې يو ځل بيا لاوډسپيکر کې خبرې شروع کړې خو دا ځل په مسکا...

" ددې نه پند واخلئ. که چا دا ګناه وکړه نو دا به يې انجام وي. تاسو بايد د خپل پند لپاره دا سزا وګورئ، ددې لپاره نه چې ټولنيز شئ يا مو ساعت تير شي."

کله چې د طالبانو کار وشو نو بيرته د خپلو موټرونو په لور روان شول. هغوی په بيړه پرې شوي لاسونه هملته په ميدان کې خښ کړل او روان شول. هغوی لا د ميدان څخه وتلي نه ول چې ننداره چيانو د ميدان په لور منډې کړې تر څو سړي او سهيلا له نږدې وګوري.

د افغان فوټبال لوبډله ميدان ته تمرين لپاره راغله خو خلکو د بې هوښه کسانو سره د خبرو کولو هڅه کوله. شل دقيقې وروسته په همدې ميدان کې د فوټبال لوبه پيليدونکې وه. سهيلا او دوه سړي بايد له دې ځای څخه لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړای شوي ول. الله داد له حيرانۍ څخه هک پک ولاړ وو. هغې باور نه راتلو چې هغې څه وليدل. د کرکټ لپاره اخري هيله يې هم د خاورو سره خاورې شوه.

له بده مرغه افغانستان داسې يو ځای جوړ شوی وو. طالبانو د شوروي اتحاد وتلو وروسته حالات کابو کړل خو وحشت تر دې اندازې رسيدلی وو. يو ځلې يو ښځې خپل ناروغ ماشوم د روغتون په لور په منډه روان کړی وو. طالبانو پرې ورغبرګ کړ چې ودرېږه، هغې قانون مات کړی وو او له کوره راوتلې وه. ښځه په دې ډاريده که هغوی ته تر څو وايي چې ماشوم يې که ډير پاتې شي نو مړ کيږي نو ډير وخت به تير شي. هغه ونه دريده. دا يې غټه غلطي وه. طالبانو هغه په ډزو وويشته.

د طالبانو په وخت کې انسان ته په دومره سپکه سترګه کتل ددې لامل شو چې نړيوالې اړيکې ورسره خرابې شوې. ملګري ملتونو د طالبانو حکومت په رسميت نه پيژندو ځکه هغوی ټول بشري حقوق تر پښو لاندې کړي ول. پاکستان، سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو د طالبانو حکومت څخه دفاع کوله.
طالبانو غوښتل چې د نړيوالی ټولنې پاملرنه ځانته راواړوي او کرکټ هم هغه لوبه ده چې د نړۍ شتمن هېوادونه يې کوي.

دې افراطي ډلې پرېکړه وکړه چې دا تيوري وازمايي. په ۲۰۰۰ کال کې طالب مشرانو کرکټ کولو ته اجازه ورکړه. دې ډلې غوښتل چې نړيوالو ته وښايي چې دوی مخ پر وړاندې روان دي. په حقيقت کې د استبدادي مشرۍ څخه د ډيموکراتۍ مشرۍ ته اووښتل هم پيچلی کار دی او طالبانو غوښتل چې نړيوالو ته دا وښايي.

الله داد نوري او د کرکټ نور لوبغاړي ډير خوشاله شول. له دې وروسته به د افغان ملي کرکټ لوبډله رامنځته شي. طالبانو يو ځل بيا د افغان کرکټ فيډريشن وټاکه، د المپيک په کميټه بيا کتنه وشوه او الله داد ته يې د ښه راتلونکي هيله وښوده. هر څه د پخوا په څير عادي شول. الله داد يو ځل بيا



د کرکټ ملي لوبډلې مشري په غاړه واخسته. د المپيک کميټې غړو هم د افغان کرکټ فيډريشن ملاتړ اعلان کړ. او له دې وروسته يې د طالبانو سرچينو څخه ګټه هم اخستلای شوه.

پاکستان کې مهاجر هم خبر شول چې طالبانو خپل کړنلارو کې بدلون راوستی دی. هغوی نه پوهيدل چې طالبان څنګه ۱۸۰ درجې په بل لور روان شول خو په دې پوهيدل چې هېواد ته ستنيدلو طلايي موقع ده.

دا هم ښکاره وه چې دولت په بشپړه توګه د کنټرول لاندې دی. د افغان کرکټ کلب لوبډلې زياتره غړي لکه سميع الله شينواری. اعظم خان، رييس احمدزی، کريم صادق او رقيب يې تاج ملک هم له خپلو کورنيو سره کابل ته ستانه شول. محمد نبی او حميد حسن يواځيني لوبغاړي ول چې همثلته پاتې شول. الله داد کابل کې د تاج په ليدو بيا ناکراره شو. د دوی دواړو تر منځ هيڅ بدلون نه وو راغلی.

" الله داده! زه دې ياديدم؟"

" نا! ستا غوندې نه يم، زه د ملي لوبډلې جوړولو کې بوخت وم." الله داد ځواب ورکړ.

تاج به ډير وخته کابل ته راغلی وو که مور او پلار يې ورته اجازه ورکړې وای." لوبډله کې څه پر مختګ شوی؟"

" ډير زيات" تاج ته يې غلط مالومات ورکړل. هغې نه غوښتل چې تاج ته ووايي چې لوبډله همدا اوس د طالبانو له خوا رسمي شوې ده.

" ښه! زه ډير خوشاله شوم. او په څومره وخت کې به نړيوال جام ته لار پيدا کړي؟"

تاج ډيرې پوښتنې کولې. الله داد به ورته لنډ ځوابونه ورکول تر څو د هغې خوله بنده کړي. " ډير وخت به نه نيسي. مونږ به نړيوال جام ته ډير زر لاره پيدا کړو."

" نو بيا مونږ کولای شو په نړۍ کې د افغانستان بيرغ پورته کړو!" تاج ناڅاپه نور هم جدي شو، " زه غواړم تا سره د ملي لوبډلې د لا پرمختګ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته وکړم. مونږ خو کچه ګړی کې یو بل سره وران وو، خو که مونږ یو ځای کار وکړو نو مونږ لوبډلې ته بریا راوړلې شو. پاکستان کې خو مونږ کوچني وو.

ډیر وخت تیر شو. مونږ اوس ۲۳ کلن یو، او مونږ ډیر څه زده کړي. مونږ باید له دې وروسته سره دښمني ونه کړو. مونږ دواړه یوه غوښتنه لرو او هغه دا چې افغانان هم سوله خوښونکي خلک دي، تاوتریخوالی پای ته رسیدلی."

الله داد داسې ښودله چې د تاج وړاندیز ورته هیڅ ارزښت نه ورکوي،" همم، فکر نه کوم. د افغان کرکټ فیډریشن چې ما پیل کړی، مرستې ته اړتیا ولري."

تاج ټینګار وکړ،" فیډریشن څه کړي تر اوسه؟"

" د افغان کرکټ فیډریشن د ملي لوبډلې څخه پورته دی. مونږ لوبغاړو ته پیسې ورکوو، لوبې برابروو او د لوبډلې هر رنګه اړتیاوې په نظر کې نیسو،" الله داد تشریح ورکړه.

" زه د افغان کرکټ فیډریشن کې هیڅ کومې رتبې ته اړتیا نه لرم. کېدای شي زه د لوبډلې سره مرسته وکولای شم،" تاج وویل.

" زه د لوبډلې لوبډلمشر هم یم . خو مونږ د لوبډلې لپاره د یو کوچ په لټه کې یو." الله داد په ډاګه کړه.

" او زه د کچه ګړی وخت نه د کوچینګ تجربه لرم!" تاج ورزیاته کړه.

" مونږ د یو تکړه کوچ په لټه کې یو او له بده مرغه ته یو کمزوری مشر وې."

تاج دفاع کوله " په کابل کې بل هیڅوک نشته چې لوبډلې ته لارښوونه وکړي. زه به یې وکړم. دا زما خوب دی چې د افغانستان کرکټ ملي لوبډله نړیوال جام پورې ورسوم. مونږ دواړه باید په یو ځای کار وکړو.که زه ناکام شوم نو ته هسې هم د افغان کرکټ فیډریشن مشر یې نو زما په پر ځای بل څوک راوله."



الله داد مغروره مسکا وکړه. هغې د قدرت اخستلو څخه خوند اخسته." سمه ده. ته د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې کوچ کیدای شې. زه به دې له نږدې څارم. که لږه ستونزه مې درکې وکتله نو وباسم دې."

تاج او الله داد دواړو باید ډیر کوښښ کړی وای تر څو یو ځای پاتې وای. دوی اوس هم یو بل سره جوړ نه ول خو خلکو ته یې داسې نه ښودل. هغوی دواړو په یو ځای اوس ملي لوبډله پر مخ بیوله. ددوی دواړو موخه دا وه چې کرکټ سختو پړاونو ته یانې نړیوال جام ته روان دی. نور باید ساعت تیر نه کړي.

طالبانو بیا هم په کرکټ ډیر څه اجباري کړل. لمړی دا چې د لوبې په وخت کې باید ټول لوبغاړي کمیس پرتوګ واغوندي. دوهم دا چې لوبغاړي نه شي کولی چې په هیڅ صورت ږیره وخروي. طالبانو دا قانون و چې ټول سړي باید ږیرې پریږدي او کرکټ لوبغاړي پکې هیڅ اثتثنا نه دي. دریم دا چې ننداره چیان نه شي کولای د خوښی پر وخت چکې یا چغې ووهي. د لوبغاړو تشویق لپاره یواځې الله اکبر ویلی شي. ننداره چیانو لپاره دا قانون د هرې لوبې لپاره په ټول افغانستان کې عملي کیدونکی وو. څلورم دا چې د کرکټ لوبه باید د پنځه وخته لمانځه وخت کې ودرول شي. او د ټولو وروستی بندیز دا چې ښځې نه شي کولای په کرکټ کې ګډون وکړي.

تر ۲۰۰۱ کال پورې کرکټ افغانستان کې مشهور شو. الله داد، تاج ته امر وکړ چې ازمایښتي لوبې کابل کې برابرې کړي. د تمریناتي لوبو یې دا دوهم ځل وو. الله داد او تاج باید د ملي لوبډلې لپاره چې څومره زر کېدل تکړه لوبغاړي پیدا کړي. د کرکټ عامول تر نیمایي رسیدلي خو بیا هم د فوټبال، والي بال یا بوکسنګ غوندې مشهور نه وو. دا درې لوبې له ډیر وخت راهیسې دلته رواج وې.

طالبانو الله داد او دهغې ملګري پرېښودل چې د کرکټ برخه کې خپلو ستونزو ته خپله لاره پیدا کړي. هغوی ورته د کرکټ لپاره اسباب یا نورې اسانتیاوې هم برابرې نه کړې. تاج هم هماغه ځای کې ازمایښتي لوبې پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې کله چې په لمړي ځل الله داد کولې او بيا د طالبانو لخوا پرې لوبه خرابه شوه، هماغه د وزير اکبر خان غونډۍ لاندې کانکريټي ځمکه.

تر ټولو ستونزمن کار دا وو چې کرکټ بايد د طالبانو سرچپه قانون چوکاټ کې شوی وای. دې ډلې په دې هيڅ فکر ونه کړ چې دوی ځنګه قوانين وضع کوي. تاج لپاره ډيره ستونزمنه وه چې دا هر څه بيلانس کې وساتي. په تمريناتو کې به تاج د لوبغاړو ازموينه کې دومره ژور لاړ چې د پنځه وخته لمونځ لپاره يې دمه هېره شوه. طالبانو، لوبغاړي له نږدې څارل، د لمونځ وخت رارسيدو کې به چې ونه دريدل نو پنځه دقيقو کې طالبان په خپل پيکپو موټرو کې راورسيدل. طالبانو کانکريټي ميدان محاصره کړ، موټرو ته يې اکسيليټر ورکړ تر څو هغوی وډار کړي. يو طالب د موټر سر نه لاوډسپيکر کې غړيده،

" بسم الله! تاسو ټولو د لمونځ وخت پريښود، تاسو ته به ددې عمل سزا درکړل شي."

کريم، رييس په ځنګل ووهه،

" زما خو نه يادېږي چې دلته کرکټ د کچه ګړۍ غونډې وي. زما متې خو هلته تر ټولو ډارونکي شيان ول." يو طالب خپله کلاشينکوفه په هوا کې وډزوله." غلي شئ!" د کرکټ تمريناتي لوبې يواځې په نوم وې. تاج چې په ځان يې پوره ډاډ درلود، هم له ويرې لړزيده. ځيني لوبغاړي په ژړا شول. او ځيني ددوی په ليدو له دې ځايه وتښتيدل. هغوی نه غوښتل چې د طالبانو سختې سزا سره مخ شي. لمونځ نه کول يوه تيروتنه وه. طالبانو دوه لوبغاړي ونيول او بند ته يې وغورځول. د جزا په څېر يې ددوی سرونه وخرول. راتلونکې اونۍ پورې دواړه لوبغاړي ورېږول شول. طالبانو د نمونې لپاره ددې دوه لوبغاړو سرونه هم وخيرول.

الله داد چې ددې واقعې نه خبر شو نو ډير خفه شو. هغه خو د مخکې نه هم تاج ته په غوسه وو،



" تاجه! دوه کاله وروسته طالبانو مونږ ته د لوبې اجازه راکړې ده. زه بايد تا همدا اوس بدل کړم. ته خپل قانونونه نشې جوړولای. دا قانون تا لپاره نه شي بدلېدای."

" زه ښښنه غواړم. ما نه غلطي وشوه. ما وبښه!" تاج ورته وويل.

" ته د ملي لوبډلې کوچ يې. ته بايد د طالبانو قانون څخه خبر شې. ځه لاړ شه او بل تمريني لوبه برابره کړه. او که تا نورې تيروتنې وکړې نو بيا دې لرې کوم." الله داد ورته اخطار ورکړی وو.

الله داد په ريښتيا د افغان کرکټ فيډريشن مشرۍ رتبې نه ډيره ګټه اخسته. تاج په داسې خبرو يا اخطارونو نه خفه کېده ځکه د هغې يواځينۍ هيله د افغانستان کرکټ لوبډله نړيوال جام ته رسول ول. هغې د دريم ځل لپاره تمريني لوبې مهالوېش وټاکه خو داځلې د ډير احتياط سره. له نيکه مرغه دريم ځل تمريني لوبه په برياليتوب وشوه. د افغان کرکټ کلب لوبغاړي لکه الله داد، تاج، کريم، رييس، اعظم خان، سميع الله شينواري او نور نوي لوبغاړي د افغان ملي کرکټ لوبډلې ته راننوتل.

يو بله ستونزه چې لوبغاړي ورسره مخ ول، هغه دا چې دوی بايد ږيرې پرېښې وای. سړو ته د ږيرې خريلو اجازه نه وه نو د ګرمۍ په موسم کې به ورسره ډير په عذاب ول. ټولو لوبغاړو له دې څخه شکايت کوه.

" مونږ بايد ږيرې پريږدو نو؟"

بالکل به يې پريږدي. تاج هم د طالبانو د قانون ماتولو څخه خبر وو. هغه په خپله ږيره شرميده او ټوکې به يې ورپسې جوړولې او لوبغاړو به هم ورپسې خندل.

" زه غواړم خپل اتل وګورم، شين وارن (د استراليا لوبډلې تکړه توپ اچونکې دی چې په ۲۰۰۶ کال کې يې لوبه پريښې)، د غټې ږيرې سره به څنګه توپ اچونه کوو."

په حقيقت کې يواځې تاج له ږيرې تنګ نه وو بلکې نور ټول ترې همداسې په تنګ راغلي ول خو هيڅ يې نه شول کولای. د وخت په تيريدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره چې طالبانو غوښتل نړیوالې ټولنې پاملرنه ځانته راواړوي نو د کرکټ معیارونه یې یو څه اسانه کړل. ډیره خریلو اجازه ورکړل شوه. طالبانو په بهر کې هم د ملي لوبډلې لپاره لوبې برابرول پیل کړل. په تخنیکي ډول که وواېو نو الله داد او دهغې فیډریشن لوبې برابرولې. د طالبانو له لورې دا یو ښه کمپاین ګڼل کېده. که چیرته به کوم هېواد د طالبانو دولت په رسمیت نه پیژنده نو طالبانو به هماغه دولت سره د کرکټ لوبې کولو اراده وکړه. ځکه کرکټ په نړۍ کې دویمه ستره لوبه ده نو هر هېواد هرومرو یوه لوبډله لري. د طالبانو دې پالیسۍ د نړیوالو اړیکو کې ښه رول ولوباوه.

په هر حال که طالبان د کرکټ ملي لوبډلې څخه ګټه پورته کوي او نړیوالو سره لوبې کوي نو باید د نړیوال کرکټ کاونسل غړیتوب یې هم اخستې وای. کرکټ کاونسل د ټولې نړۍ کرکټ اداره کولو مسولیت لري، لکه نړیوال کرکټ لیګ. طالبانو د افغان کرکټ ملي لوبډلې پر ځای ډیره هڅه وکړه چې د نړیوال کرکټ کاونسل غړیتوب تر لاسه کړي. ډیر کوښښ یې وکړ او په پایله کې یې هغه څه چې غوښتل تر لاسه کړل.

د ۲۰۰۱ کال جولایي په میاشت کې د افغانستان کرکټ ملي لوبډله د نړیوال کرکټ کاونسل غړې شوه. د کرکټ نشراتو ایډیټر ویسډن اوریدلي ول چې په کابل کې د کرکټ ټورنمنټونه او تمرینونه کیږي. هغه هیڅ خبر نه وو چې افغانستان کې هم کرکټ لوبه کیږي، د ملي لوبډلې جوړیدل خو لا پریږده. هغې د نړیوال کرکټ کاونسل درخواست د افغان کرکټ فیډریشن ته یو فارم ولیږه.

دا ایډیټر هیڅ خبر نه وو چې د افغان کرکټ فیډریشن مشر څوک دی. الله داد د اړیکې شمیره هم نه وه ورکړې. ددې پر ځای چې هغه الله داد سره په نیغه توګه اړیکه ونیسي. ایډیټر سریلنکا ته غوښتنلیک ولیږه چې څنګه افغانستان سره اړیکه ونیسي. سرې لنکا رسمي غوښتنلیک د متحده عربي اماراتو سفیر ته ولیږه. د متحده عربي اماراتو یو ډیپلوماټ هغه اسناد پاکستاني سفیر ته ورکړل او هغوی بیا طالبانو ته ورسول.



تاج او الله داد ډیر خوشاله ول ځکه د نړیوال کرکټ کاونسل لخوا ورته غوښتنلیک رالیږل شوی و که څه هم دومره مهم نه وو، افغان لوبډلې لا تر اوسه قبولي نه وه اخستې. الله داد غوښتنلیک فارم د طالبانو په مخ کې ډک کړ او بیرته یې په هماغه لاره ولیږه په کومه چې راغلی و. درې اونۍ وروسته نړیوال کرکټ کاونسل افغانستان په خپل غړیتوب کې ومانه. لکه څرنګه چې افغانستان د نړیوال کرکټ کاونسل نوی غړی وو نو هغوی ورته د کرکټ یو څه اړین اسباب هم راولیږل.

د ۲۰۰۱ کال سپټمبر میاشت پورې طالبانو نور کوښښ هم وکړ چې د کرکټ له لارې نړیوالې اړیکې جوړې کړي. طالبانو یواځې ددې باره کې فکر کاوه. یوه ورځ سپټمبر میاشت کې طالب مشرانو الله داد او تاج ته وویل چې خپل تکړه لوبغاړي تیار کړي. د افغانستان کرکټ لوبډله به د قاید اعظم په نوم ټورنمنټ کې سیالي کوي. دا د افغانان کرکټ لوبډلې لپاره ښه تمرین وو چې په پاکستان کې کېده. تاج د لوبې لپاره ١٦ لوبغاړي غوره کړل.

الله داد او تاج پوهیدل چې طالبانو باید د کرکټ باره کې خپلو نورو قوانینو باندې بیا کتنه وکړي تر څو یې لوبغاړي په نړیوالو سیالیو کې ولوبیږي. دوی دواړه د لومړي ځل لپاره په یو شي سره همغږي ول. په نړیوالو لوبو کې سپین رنګه کالي استعمالیږي. خو دې وخت کې کالي رنګارنګ وي خو پخوا داسې نه ول. تر ټولو مهم بدلون چې د افغان لوبغاړو لپاره وو هغه دا چې د کمیس پرتوګ پر ځای باید د لوبې کالي واغوندي. الله داد او تاج طالب مشرانو سره شپږ ساعتونه بحث وکړ تر څو هغوی قانع کړي چې کمیس پرتوګ پر ځای سپینه دریشي واچوي.

" مونږ کمیس پرتوګ ته ډیر درناوی لرو. خو نړیوالو لوبو کې کمیس پرتوګ اغوستل ښه نه ده." تاج هغوی قانع کول غوښتل خو هغه نه پوهیده چې هغه ځانته کار ګوري.

الله داد، تاج ته د سترګو کونج کې بد وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالب مشران سره وغوريدل،" ته دا ويل غواړې چې کميس پرتوګ د کرکټ لپاره سم کالي نه دي؟"

الله داد غوښتل چې اوضاع بيرته عادي کړي. ښه خبره دا وه چې هغه د افغان کرکټ فيډريشن مشر وو.

" نا نا، کميس پرتوګ د لوبې لپاره ډير ښه کالي دي. خو په ډيره بښنه، چې هره لوبډله په نړيوالو لوبو کې سپين کالي اغوندي. دا د هغوی قانون دی."

طالب مشرانو سره هغه نه ول،" مونږ يواځې خپل قانون منو."

په همدې ترتيب د څو ساعتونو لپاره دا بحث ښکته پورته لاړ. په پای کې طالبان تسليم شول، هغوی ته يې اجازه ورکړه چې ټورنمنټ ته په سپينه دريشی کې لاړ شي. هر څومره چې افغان لوبغاړي ښه ښکاره شي په همغه اندازه به د طالبانو ښه وويل شي. تاج او الله داد ډير خوشاله ول ځکه دوی ته يې د سپينو دريشو اغوستلو اجازه ورکړل شوه.

د قايد اعظم ټورنمنټ لپاره هر څه برابر شول. طالبانو د دريو اونيو لپاره ملي لوبغاړي پاکستان ته وليږل. دا ټورنمنټ ډير مهم و، لوبغاړي به نړيوالو لوبو سره بلد شي او طالبان به نړيوالو ته خپل حکومت وښايي. تاج به هره ورځ د خپلو لوبغاړو سره خپلمنځي لوبې کولې تر څو هغوی ډير تمرين وکړي. د افغان کرکټ لوبو د رسنۍ له لارې د ټولې نړۍ سترګې ځانته راواړولې، همدغه شان څنګه چې طالبانو غوښتل. هيڅ خبريال په دې باور نه کاوه چې د طالبانو حکومت کې دې افغانستان کرکټ لوبډله ولري. هغوی په دې هر څه باور نه راتلو. د ۲۰۰۱ کال اکتوبر مياشت کې د افغان ۱۶ کسيزه لوبډله د قايد اعظم ټورنمنټ ته ورغله. دا لوبه د پاکستان پلازمينه اسلام اباد کې د نوښار ولايت لوبډلې سره واچول شوه. له بده مرغه تاج ددې موقع تر لاسه نه کړه چې په ټول ټورنمنټ کې د افغان لوبډلې مشري وکړي.د کرکټ کوچ دنده د لوبې څخه څو ورځې يا ساعتونه وړاندې وي او د لوبې په دوران کې ډير مسوليت لوبډلمشر په غاړه لري. نو ځکه تاج نه



شول کولای چې لوبډله په نيغه توګه اداره کړي. تاج دا خبره له ذهن څخه ويستلې وه چې اوس لوبډلمشر الله داد دی، او له دې سره هغه د افغان کرکټ فيډريشن مشري هم په غاړه لري.

که څه هم تاج د افغان کرکټ لوبډلې کوچ و خو هغې غوښتل چې مشري هم هغه پر غاړه ولري. د تاج او الله داد ترمنځ دښمني به هيڅکله له مينځه لاړه نه شي. تر کومه چې الله داد د لوبې لوبډلمشر وي نو تاج به د هغې خبره مني. د کابل څخه جلال اباد هوايي ميدان پورې د بس مزل کې الله داد او تاج يو بل سره يوه خبره هم ونه کړه. نور لوبغاړي په سپينو دريشو کې ناست ول. ځينو لوبغاړو تت سپين او يا چا سره چې ډيری پيسې نه وې هغوی ځانته تت ابي دريشۍ اخستې وې، که هر څنګه وي خو بيا هم د کميس پرتوګ نه غوره دي.

د جلال اباد هوايي ډګر څخه تر اسلام اباد پورې په الوتکه کې مزل وو او دا ددوی لمړی ځل وو چې الوتکه کې سفر کوي، هغوی سره هيڅکله دومره پيسې نه وې چې ځانونو لپاره دالوتکې ټکټونه واخلي. په لمړي ځل به يې د الوتکې سفر نه خوند اخيسته. الوتکه د پورته کېدو په وخت کې په لړزه شوه. د الوتکې ځمکنۍ لاره د معياري هوايي ميدان په څېر نه وه. خو بيا هم له نيکه مرغه الوتکه په هوا شوه. اسلام اباد پورې ټول سفر ديرش دقيقې اوږد وو.

کله چې افغان لوبغاړي اسلام اباد هوايي ډګر کې ښکته شول نو خبريالان ترې راچاپير شول. الله داد د نورو څخه ډير حقدار وو چې خبرې يې کړې وی ځکه هغه لوبډلمشر او د افغان کرکټ فيډريشن مشر دی،

" د افغانستان کرکټ لوبډله څه موخه لري؟" يو خبريال پوښتنه وکړه.

الله داد وويل،" مونږ غواړو نړيوالو ته وښايو چې افغانان هم لوبې کولی شي."

يو بل خبريال چې يواځې د مصاحبې لپاره د افغانستان نه راغلی وو، له يو ځيرک مينه وال څخه وپوښتل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



" د افغانستان کرکټ لوبډلې باره کې ستاسو څه خیال دی؟"

" کرکټ افغانستان کې نوی دی. فوټبال او بوکسنګ ډیرې مخکې لوبې دي. که ریښتیا ووایم نو زه ډیر حیران یم چې افغان لوبډله کرکټ هم کوي. که څه هم هغوی دومره تجربه نه لري خو بیا هم ښه دي. زه په دې هم ډیر حیران یم چې دوی د افغانستان په اوسني حالاتو کې دا ۱٦ لوبغاړي د کومه پیدا کړل."

افغان ملي کرکټ لوبډلې لمړۍ لوبه به د مرغزار کرکټ میدان کې کیږي. پاکستان ته راتلو سره ټولو ته پخواني وختونه ورياد شول لکه الله داد، رییس، کریم، اعظم خان، سمیع الله شینواری، چې دوی ډیر وخت کیمپونو کې مهاجر پاتې شوي ول. د نوښار لوبډلې سره لوبې کولو نه وړاندې افغان لوبډلې لمونځ باندې ودریدل. الله داد او تاج نه غوښتل چې د طالبانو له قانون څخه دلته هم سرغړونه وکړي او هغوی خفه کړي. هغوی د کرکټ له لارې یواځې ارامي او بریالیتوب غوښته.

د قاید اعظم لومړۍ لوبه شروع شوه. د کیمپونو مهاجر هم د لوبې لیدلو لپاره راغلي ول. محمد نبي او حمید حسن  دوه لوبغاړي چې تر اوسه له کورنیو سره کابل ته نه ول تللي او هملته په کیمپ کې اوسیدل، هم ښکاره کېدل. افغان لوبغاړي ډیر ډاډه او پر ځان اعتمادي ښکاریدل او کله چې د مخالفې لوبډلې له لورې توپ اچونه شروع شوه او دوی وپوهېدل چې هغوی دومره تکړه نه دي، نو نور ډاډه شول. د توپ وهونکي لپاره ددې نه بله ښه خبره چیرته وي چې توپ اچونکی ورته د شپږیزې لپاره توپ اچوي. د افغان کرکټ لوبډلې لپاره ددې نه ښه خبره نه وه چې هغوی د قاید اعظم ټورنمنټ ګټلای شي. دا لوبډله به بریالۍ شي او نړیوال جام ته لاره پیدا کړي. خو بیا هم هغه توپ چې د ناځرګند دهلیز کې غورځیږي، دهغې باره کې هیڅ نه شو ویلای. توپ وهونکي په دې هم حیران شول چې توپ ځمکې سره لګیدو سره تاویږي. افغان لوبغاړي د ډیرو حیرانۍ سره مخ کېدل، په حقیقت کې هغه وخت کله چې په افغانستان بمباري پیل شوه.



٦

# یو ناځاپي قسمت

د ۲۰۰۱ کال سپټمبر په ۱۱ نیټه پاکستان ته د افغان لوبډلې څخه یوه میاشت وړاندې، ۷۰۰۰ مایله لرې د امریکا په متحده ایالاتو کې یوه تراژیدي رامنځته شوه. دغې غمجنې پیښې یواځې افغانستان نه بلکې کرکټ لوبډله او نوره ټوله نړۍ اغیزمنه کړه. یوې نامالومه وسله والې ډلې د امریکا څلور الوتکې وتښتولې. دې ډلې دوه الوتکې چې د امیریکن ایرلاین فلایټ۱۱ او یونایټډ ایرلاین فلایټ ۱۷۵ په نوم وې، په نیویارک ښار کې یې د نړیوال سوداګریز مرکز په لور رهي کړې. نړیوال سوداګریز مرکز دوه ستری ودانۍ دي چیرته چې تجارت او دولتونه خارجي سوداګري کوي.

همدې تروریستي ډلې دوه نورې الوتکې چې د امیریکن فلایټ ۷۷ او یونایټډ ایرلاین ۹۳ په نوم وې، د امریکا په پلازمینه واشنګټن ډي سي په لور رهي کړې. هوایي کارکونکو په شیبه کې ځمکني پرسونل ته د الوتکې تښتېدو خبر ورکړ. ځمکني پرسونل بیا د څېړنو دوتلي سازمان یا ایف بي آي ته خبر ورکړ. تر څو چې ایف بي آي کوم عکس العمل ښوده نو امیریکن فلایټ ۱۱ الوتکه د نړیوال سوداګرۍ د شمالي ودانۍ ۹۳ څخه ۹۹ پوړ سره ټکر کړه. لمړۍ کې خلکو دا فکر کاوه چې دا یو تصادفي ټکر وو خو شل دقیقې وروسته یونایټډ ایرلاین ۱۷۵ الوتکه د یو توغندي په څېر د جنوبي ودانۍ ۷۵ څخه ۸۵ پوړ سره ټکر شوه. له دویم ټکر وروسته خلکو ته مالومه شوه چې په امریکا حمله شوې.

ډیرې سترې چاودنې رامنځته شوې. ډک او تور لوګي د دواړو سترو ودانیو څخه پورته کېدل. د لرې څخه اور وژنې زنګونه اوریدل او په شیبه کې د پیښې ځای ته راورسیدل. د امریکا دولت د ودانیو بیرنې وتلو امر ورکړ. خلکو د ویرې یوې بلې خوا منډې وهلې. یو بد حالت رامنځته شوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امریکا متحده ایالاتو ولسمشر د پېښې خبرېدو نه شېبه وروسته د تلویزیون په پرده راڅرګند شو او ملت ته یې وینا کوله،" نن مونږ د یوې ملي تراژیدۍ سره مخامخ یو. دوه الوتکو د نړیوال تجارتي مرکزونو سره ټکر شوي او دا ښکاره خبره ده چې دا زمونږ په هېواد یو تروریستي برید دی. ما مرکزي دولت ته امر کړی تر څو د پېښې ځای ته ځان ورسوي او قربانیانو او د هغوی کورنیو سره اړینې مرستې وکړي او په بشپړه توګه ددې برید څېړنه وکړي چې دا عمل چا تر سره کړی. زمونږ مخې ته تروریزم نه شي راتلای."

خو ولسمشر بوش له دې خبر نه وو چې نور بریدونه هم راروان دي. د هغې وینا څخه یواځې درې دقیقې وروسته امیریکن ایرلاین فلایټ ۷۷ د پنټاګون لودیځې لورې سره ټکر شو. پنټاګون د متحده ایالاتو دفاع وزارت دی. له هغې څخه هم تور لوګي پورته شول.

له درې بریدونو څخه وروسته په ټول هېواد کې بیړنې حالت اعلان شو. په لمړي ځل دولتي هوانوردۍ اداره امریکا ته راتلونکو او تلونکو پر مخ وتړل شوه. پولیسو هغه نورې ودانۍ لکه سپینه ماڼۍ او پلازمینې ودانۍ چې د برید اټکل کېدای شول، صفا کړې.

په همدې وخت کې اورونو دواړه نړیوال سوداګریز مرکزونه کمزوري کړي ول. ژغورونکو ډلو کوښښ کاوه چې هر څومره خلک کولای شي له پېښې ځای څخه وباسي. هغوی نه پوهېدل چې دا ودانۍ به نور څومره وخت ولاړې پاتې شي خو هغوی نه سترې کېدونکې هلو ځلو کې ول تر څو ډېر نه ډېر خلک وژغوري. خو لا تراوسه هم څلورمه الوتکه یونایټډ ایرلاین فلایټ ۹۳ اوس هم په هوا کې ورکه وه. ژغورونکو د هغې باره کې فکر کولو لپاره هم کافي وخت نه درلود. هغوی د لوېدونکې ودانۍ رالوېدو وخت سره لاس او ګرېوان ول. د ټکر څخه اووه څلویښت دقیقې وروسته جنوبي ودانۍ په خپل ځای کېناسته.

د څلورمې الوتکې ځای مالوملو څخه اته دقیقې مخکې دا ودانۍ په بشپړه توګه ویجاړه شوه. د څلورمې الوتکې مسافر چې د درې نورو الوتکو له



حال نه خبر شول نو خپلو کورنیو ته یې د خدای پامانۍ لپاره زنګونه ووهل. هغوی ډېر بیزاري شوي ول او غوښتل یې چې څلورم برید مخه ونیسي. له دې مسافرو څخه ډېر پاڅېدل او تروریستانو مخې ته ودرېدل. تروریستانو د الوتکې کنټرول له لاسه ورکړی وو او د پنسلوانیا په یو پټي کې یې راکوزه کړې وه.

شل دقیقې وخت نور هم تیر شو، او په پای کې شمالي ودانۍ هم نور د ودرېدو نه وه، هغه هم راونړېده. دوه سوه زره ټنه مواد په سړکونو راوغورځېدل. د امریکا متحده ایالت ډېر حیرانه وه. ژغورونکو ډلو پاتې ورځ د ژوندیو په لټه کې شوه. هر څه برباد شول. د ورځې په پای کې د امریکا ولسمشر بوش یو ځل بیا د تلویزیون په پرده راڅرګند شو، " ماښام پخیر. نن زمونږ هېواد وال، زمونږ د ژوند طرز، زمونږ خپلواکي د تروریستي بریدونو لاندې شوه. زرګونه خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړل. ودانیو سره د الوتکو ټکر، اورونه اوغټو ودانیو ړنګېدل زمونږ عقیده کمزورې کړه، ژور خفګان او زمونږ غوسه یې راوپاروله. دې غیر انساني بریدونو غوښتل چې مونږ وډار کړي او زمونږ ملت په ویره کې واچوي خو هغوی ناکام شول. تروریستي بریدونه کولای شي چې زمونږ سترې ودانۍ ولړزوي خو د امریکا بنسټ لمس کولای هم نه شي. نن ورځ زمونږ ملت د یو شیطاني عمل شاهد وو چې د ټول انسانیت پر خلاف عمل ګڼل کېدای شي. زمونږ لومړیتوب دا دی چې ټپیانو سره مرسته وکړو او خپل هېواد وال په کورونو او په نړۍ کې له داسې تروریستي بریدونو څخه وساتو. څوک چې ددې شیطاني عمل تر شا وي ډېر زر به یې پیدا کړو. ما د استخباراتو او قانون ټول زور په دې لګولی چې دا خلک پیدا کړي او عدالت ته یې راکش کړي. هغه چا چې دا کار کړی او چا چې پناه ورکړې، زمونږ لپاره یو شان دي. مونږ به د تروریزم پر وړاندې جګړه کې سره یو ځای ودرېږو"

د امریکایانو احساسات د غیر عقیدګۍ نه د تروریستانو برید په لور شول چا چې د سپټمبر ۱۱ بریدونه کړي. قربانیانو د برید غږ اغستل غوښتل. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرتکبینو رانیولو عملیات پیل شول. د متحده ایالاتو استخباراتو د ثبوتونو پر بنسټ دې پایلې ته ورسیدله چې دا بریدونه تروریستي ډلې القاعده تر سره کړي. د القاعده مشر عثامه بن لادن نومیده.

د ټولې نړۍ دولتي چارواکو عثامه بن لادن پېژنده. د هغوی خوبونه یې هم حرام کړي ول، ځکه هغه د پیړۍ تر ټولو خطرناک تروریست ګڼل کېده. بیا دا څرګنده شوه چې عثامه تروریستي ډلې له افغانستان څخه بریدونه کړي. د طالبانو او القاعده اړیکې ټینګلې شوي خو په بدل کې د القاعده جنګیالي او اقتصادي مرستې طالبان دې ته اړ کړل چې القاعده کولای شي د افغانستان په هر ګوډ کې روزنیزې هډې جوړې کړي. د القاعده غټه موخه دا وه چې مسلمانان سره یوځای شي او په ټوله نړۍ کې اسلامي بنسټ جوړ کړي.

د متحده ایالاتو راټول شوي مالوماتو څخه وروسته ولسمشر بوش ډېر زر عکس العمل وښوده. د سپټمبر ۱۱ څخه نهه ورځې وروسته هغې په ژوندۍ بڼه تلویزیون مخې ته وویل چې طالبان دې د القاعده ټول مشران زمونږ په حواله کړي او په افغانستان کې دې تروریستي روزنځایونه بند کړي. که نا طالبان به د سختې پایلې سره مخ شي.

" د القاعده د نړۍ بدلولو ژوندی مثال مونږ په افغانستان کې وینو. د افغانستان خلکو سره ډېر ظلم شوی. زیاتره یې وږي دي او ډیرو نورو خپل هېواد پرېښی. ښځې ښوونځي ته نه شي تللی. د یو تلویزیون په لرلو یو کس بند ته کش کول کیږي. په افغانستان کې یو کس په دې هم زندان ته کشول کېدای شي که چیرته د هغې ږیره اوږده نه وه.

امریکا د افغانستان خلکو ته ډېر احترام لري، که څه هم مونږ باید ورسره انساني مرستې وکړو خو مونږ د طالبانو کړنې غندو. دا د ټولو نړۍ لپاره خطر دی ځکه دوی تروریستانو ته پټنځایونه ورکړي.

د امریکا متحده ایالات د طالبانو څخه لاندینۍ غوښتنې لري: په افغانستان کې چې د القاعده څومره مشران وي، امریکا ته دې وسپاري. د



امریکایانو په ګډون ټول بهرنیان خوشې شي چې په څه نه څه بهانه زندان کې پراته دي. بهرني ژورنالستان، ډپلوماټان او مرسته کونکي باید خوندي وساتل شي. په افغانستان کې د ټولو تروریستي ډلو روزنځایونو د تل لپاره بندول او هر یو تروریست او څوک چې ورسره مرسته کوي مربوطه چارواکو ته وسپاري. د متحده ایالاتو ته د تروریستانو لټولو لپاره پوره واک او اختیار ورکړي تر څو مونږ پوه شو چې اخرنی ترورویست هم له مینځه ویسو. دا غوښتنې انتهایي دي او په دې کې د نور بحث ځای نشته. طالبان باید ځواب راکړي او ډېر زر یې راکړي. یا باید هغوی تروریستان مونږ ته راکړي او یا دې خپل راتلونکي ته په تمه شي."

طالبان دې ته تیار نه ول چې د ولسمشر بوش غوښتنې دومره زر او په اسانۍ ورپوره کړي. هغوی متحده ایالاتو نه وغوښتل تر څو د سپټمبر ۱۱ برید ټول شواهد دوی ته تسلیم کړي تر څو دوی پوه شي چې دا پیښه ریښتیا هم القاعده تر سره کړی. ولسمشر بوش ورسره بیا بحث ونه کړ.

د غچ په څېر طالبانو د امریکا غوښتنو ته مثبت ځواب ونه وایه. امریکایان د طالبانو مقاومت ته په موډ کې نه ول. هغوی پریکړه وکړه چې ځوابي برید به کوي.

افغان کرکټ لوبډلې د قاید اعظم ټورنمنټ لپاره تمرین کاوه چې دا لوبغاړي د طالبانو او امریکا تر منځ کړکیچ څخه خبر شول. هغوی د راتلونکي برید افواهاتو نه هم خبر شول. د برید خبر دوی وارخطا کړل.

تاج به د لوبې تر منځ لوبغاړو ته ویل،" د راتلونکي باره کې فکر مه کوئ. په دې تمرکز وکړئ چې اوس څه روان دي. دا ډېر مهم دي. مونږ د افغانستان لپاره دا لوبه ګټو."

د بیا لپاره دوی یو هم د راتلونکي جګړې باره کې فکر ونه کړ. هغوی باید په خپلو لوبو تمرکز کړی وای. د ۲۰۰۱ کال اکتوبر میاشت کې افغان کرکټ لوبډله پاکستان ته د قاید اعظم ټورنمنټ په لور روانه شوه او بله خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا د تروریست پر ضد جګړې اعلان وکړ چې په دې کې القاعده، طالبان او په منځني ختیځ کې بله هر یو سازمان شامل وو.

متحده ایالاتو د اسلامي تروریستي ټولو ډلو پر خلاف جګړه پیل کړه. یواځې القاعده نه بلکې هره یوه اسلامي تروریستي ډله د خاورو سره خاورې کوي. د متحده ایالاتو جیټ الوتکو په هر امکاني ځای باندی بمباري او مزایل ورول پیل کړل. طالبانو د هوایي برید زور نه درلود. امریکایي ځواکونه کابل ته راورسیدل او د طالبانو پاتې غړي یې پلازمینې څخه بهر کړل.

د القاعده مشر عثامه بن لادن په یوه عربي تلویزیون چینل کې راښکاره شو او متحده ایالاتو ته یې اخطارونه ورکول چې امریکا ښه ونه کړل. هغې ویل چې دا په اسلام باندې نه هیرونکی برید دی. بن لادن اسلامي جنګیالیو ته امر ورکړ چې د طالبانو او القاعدې دښمن پر ضد جګړې ته راپاڅي. امریکایي ځواکونو د عثامه خبرو ته غوږ ونه نیوه او په افغانستان کې یې خپلو بریدونو ته یې دوام ورکړ.هغوی اسلامي جنګیالي ختیځې پولې پورې وزغلول. عثامه بن لادن او نورې تروریستي ډلې به د هېواد غریزې سیمې توره بوره کې پټ ول. عثامه راګیر شوی وو او په همغې وخت کې یې امریکایانو ته پیغام ولیږه چې هغه تسلیم دی او خپله د پاکستان هېواد ته وتښتید. القاعده مشران، طالب مشران او همداسې په سلګونه اسلامي جنګیالي ورپسې وتښتیدل. ځیني طالب مشران خو الله داد او تاج د پولې هاخوا هم ولیدل. الله داد خو ډېر حیران شو چې هغوی یې ولیدل

" تاسو پاکستان کې څه کوئ؟" هغې وپوښتل.

" ولې مونږ ته ددې اجازه نشته چې دلته راشو او د خپلې خوښې لوبه وګورو؟"

" اوس خو هیڅ هم نشته" الله داد ورته وویل.



د افغان کرکټ لوبډلې د نوښار لوبډلې پر وړاندې خپل لمړی لوبه بایللې وه. ټول لوبغاړي بړوس ول. چې حالات نور هم خراب شي، طالب مشرانو ورته د برید په هکله خبر ورکړی وو.

" تاسو په هوا کې الوتکې ونه لیدلې؟"

" هو! دلته خو به ډېر زیات لیدونکي وي. زما په خیال دا ټول دلته لوبې لیدلو لپاره راغلي ول." کریم ځان سره فکر کاوه.

" الوتکې ستاسو لوبې لیدلو ته نه دي راغلي. دې الوتکو په افغانستان برید کړی"

تاج د حیرانی نه خوله وازه پاتې شوه،" څه؟ چا برید کړی؟ مونږ به چیرته ځو؟ مونږ به څه کوو؟ هلته به اوس هم خوراک لپاره څه پاتې وي؟"

رییس هغه غلی کړ،" وروره، افغانستان کې مخکې هم جګړه شوې. هر څه به سم شي. مونږ باید خپلو کورنیو سره اړیکه ونیسو او هغوی ته ووایو چې ځانونه خوندي ځایونو ته ورسوي."

" هغوی سره اړیکه شونې نده. هوایي بریدونو به زیاتره بریښناکوټونه له مینځه وړي وي. نیمایي افغانستان کې خو هسې هم بریښنا نشته. مونږ هیڅ خبر نه یو چې بیګناه وګړي به په دې بریدونو کې وژل شوي وي." طالب مشر ورته وویل.

رییس په مختلفو لارو فکر وکړ،" که په پاکستان هم داسې برید وشي نو بیا؟ مونږ باید ټورنمنټ پریږدو او بیرته افغانستان ته لاړ شو، لږ تر لږه خپله کورنۍ خو به خوندي وساتو"

په ښکاره نورو هیوادونو هم پاکستان ته زړه نه ښه کاوه. نیوزلینډ او سریلنکا هېوادونو لوبډلو پاکستان ته خپل سفرونه پریښودل ځکه په افغانستان کې د امریکا برید زور اخستی وو. الله داد د هغې د ټورنمنټ پریښودلو نظریه رد کړه. هغه په دې باور درلود چې افغانستان لوبډله له نورو توپیر کوي،" مونږ باید د ټورنمنټ پاتې لوبې پرینږدو. مونږ د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



استازیتوب کوو. دا زمونږ موخه ده چې نړیوالو ته د کرکټ له لارې وښایو چې مونږ سوله خوښونکي یو."

افغان لوبغاړو تاج ته وکتل. هغوی غوښتل چې هغه به الله داد سره نور بحث وکړي خو هغې داسې ونه کړل. دا دویم ځل وو چې دوی دواړه په یوې خبرې سره همغږي شول. کېدای شي هغوی د تېر وختونو توپېرونو ته ځیر شوي ول.

" هو، مونږ باید د جګړې ځپونکو افغانانو لپاره خپلو لوبو ته دوام ورکړو،" تاج یې خبره تایید کړه.

طالب مشرانو کرکټ لوبغاړو ته نیکمرغي وغوښته،" خو ټول قوانین په یاد ولرئ. الله به درنه خوشاله شي. تاسو به افغانستان ته ویاړ راوړئ. بیا به درسره په اړیکه کې شو." هغوی لاړل تر څو ځانونه پټ کړي.

افغان کرکټ لوبغاړي یو څه قانع شول. په یوځای هغوی د قایداعظم ټورنمنټ لوبو ته دوام ورکړ. خو پایلې یې غمجنې وې. افغانانو هره لوبه په سلو منډو وبایلله. دا ډېره د شرم خبره هم وه چې یوه ملي لوبډله دې د یو ولایتي لوبډلې څخه په دومره ډېرو منډو ماتې وخوري. که بله هره ملي لوبډلې داسې لوبه بایللې وه نو بیا به یې هیڅکله لوبه نه وه کړې. خو بیا هم هېواد کې بیا راولاړېدنکی تاوتریخوالی او پرله پسې بایلل، خو افغان کرکټ لوبډله بیا هم خوشبینه ښکاریده. کله چې ټورنمنټ ختم شو نو خبریالان یو ځل بیا په لوبغاړو راچاپیر شول.

" په افغانستان د اوسني برید په هکله څه فکر کوئ؟"

الله داد چې د لوبې لوبډلمشر و یو ځل بیا د ټولې لوبډلې په استازیتوب خبری شروع کړې،

" دا خو ډېره خفه کونکې ده، مونږ ښه مسلمانان یو، ددې مطلب دا نه دی چې مونږ تروریستان یو." هغې د خپلو خیالاتو اظهار وکړ.

" تاسو فکر کوئ چې که طالبانو حکومت ړنګ شي نو تاسو به د هغوی مرسته تر لاسه نه کړی شئ؟"



" لوبې باید سیاست سره یوځای نه شي" هغې په زیږه لهجه وویل.

هغه له ځان سره ډېر وارخطا وو، که طالبانو مرسته نه وي نو څنګه به کرکټ ملي لوبډله  پر مخ وړي. دا حالات هیڅ باوري نه ښکاریدل. هغې باید صبر کړی وو او ددې پرېکړه یې وخت ته پریښې وای. د افغان کرکټ ملي لوبډله باید د ټورنمنټ وروسته بیرته افغانستان ستنه شوې وه. خو د امریکا بمبارۍ افغانستان ته ټولې الوتنې د نامالوم وخت لپاره ځنډولې وې.

هلته د تلو لپاره بله کومه لاره هم نه وه. د افغانستان او پاکستان په منځ کې ډیورنډ کرښه له پخوا څخه اوس نوره هم خطرناکه شوې وه.زیاتره القاعده تروریستان او طالب مشران په هماغه ځای کې پټ ول. هغوی د امریکایي ځواکونو له ویری هلته تښتیدلي ول. الله داد لوبغاړو ته وړاندیز وکړ، تر څو چې بمباري پای ته رسیږي نو کچه ګړۍ کې پاتې شي. تاج نه غوښتل چې هلته لاړ شي.

"زه بیرته افغانستان ته ځم، زه د لوبډلې کوچ یم. او باید لوبډلې لپاره کار وکړم"

"کومې لوبډلې ته کار کوې؟" الله داد ترې وپوښتل. ژمی راروان دی او ټوله لوبډله هم کچه ګړۍ ته ځي."

" په افغانستان کې نور لوبغاړي هم شته. زه به هغوی پیدا کړم او د راتلونکي ټورنمنټ لپاره به هغوی تیار کړم تر څو مونږ لوبه وګټو" تاج ځواب ورکړ.

" ښه وخت...که ته چیرته افغانستان د یخنۍ او بمب څخه ژوندی ورسیږې نو ته به ۲۴ کالو پورې نور ژوندی پاتې شې.

زه به کچه ګړۍ کې خوندي یم او هلته په راتګ سره به د افغان کرکټ فیډریشن مشري بیا پر غاړه واخلم." الله داد ورته په زیږه لهجه وویل.

تاج خپل ورور کریم او نږدې ملګري رییس ته غاړه ورکړه، " افغانستان کې بیا ګورو" هغه یواځې پاتې شو، د اسلام اباد څخه کابل ته په موټر کې روان شو. کله چې د ډیورنډ کرښې څخه تیریده نو په لاره کې یې سلګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبانو او القاعده غړي وکتل چې په تېښته ول. په ښکاره تاج په ډېر خطر کې وو. کابل ته په لاره کې د طالب ضد کیمپونو کې پټ شو تر څو د امریکایانو او اسلامي جنګیالیو په نښته کې ونه وژل شي.

کابل ته په رسیدو تاج ښه وژړل. هوایي بمباریو ښایسته ښار د خاورو سره خاورې کړی وو. داسې لکه یوې زلزلې چې ځپلی وي. په هر ځای کې ملکي وګړو د مرستې لپاره غږونه کول. دا حالت د کورنۍ جګړې یا شوروي جګړې څخه هم خراب وو. تاج لپاره دا ښه خبره وه چې د هغې مور او پلار ژوندي ول.

تاج پوه شو چې طالبان د کابل او د هېواد ډېرو سیمو څخه تښتیدلي. ددې افراطي ډلې واک پای ته رسیدلې وو. یو ښه خبر دا وو چې طالبان له مخې لرې شول او نور به په کرکټ محدودیتونه نه وي. خو بد خبر دا وو چې کابل په بل مخ اوړیدلی وو.

د طالبانو وروسته حامد کرزی د افغانستان نوي ولسمشر په توګه وټاکل شو. تاج پرېکړه وکړه چې د ولسمشر کرزي حکومت لاندې د افغان کرکټ فیډریشن کې اصلاحات راولي. لکه څرنګه چې الله داد مخکې ویلي ول چې لوبه باید سیاست سره ګډه نه شي. تاج غوښتل چې کرکټ طالبانو دورې سره ختم نه شي. الله داد په کچه ګړۍ کې وو نو تاج یو ځل بیا ملي کرکټ لوبډله تنظیم کړه. هغې د موقع نه ګټه واخسته، ولسمشر کرزي سره یې ولیدل او هغې ته یې د افغان کرکټ لوبډلې جوړولو خبر ورکړ.

په لمړي سر کې ولسمشر کرزي د کرکټ لوبډلې سره بې میلې وښوده. هغې غوښتل چې د طالبانو هر څه له مینځه یوسي. د یو څه بحثونو وروسته تاج بریالی شو چې ولسمشر کرزی اړ کړي چې ددې لوبې اجازه ورکړي. تاج په رضاکارانه غوښتل چې د لوبډلې کوچ پاتې شي. هغې ولسمشر کرزي ته د کرکټ روښانه راتلونکي باره کې وویل.



ولسمشر کرزي او تاج دا پرېکړه وکړه چې د کرکټ داخلي جوړښت ته د افغانستان کرکټ بورډ وویل شي. دا نوم د افغان کرکټ فیډریشن پر ځای وو. د افغانستان کرکټ بورډ د نوي پړاو پیل وو.

په کرکټ کې چې کله یو توپ وهونکی توپ ته ګوري چې توپ اچونکی یې راغورځوي، ایا توپ تاویږي که نیغ ځي نو توپ وهونکی خپله ستراتیژي توپ ته په کتو برابروي. توپ وهونکي باید دا هم په ذهن کې وساتي چې هغه کړنلاره چې دوی برابره کړې، کیدای شي زیان اړونکې وي. د ناڅرګند دهلیز ساحه کې توپ اچول د توپ وهونکي لپاره چټک فکر او تیز ځواب ته اړتیا لري. هیڅ شی چې څنګه ښکاري هغسې نه وي. په همدې ترتیب د افغان کرکټ لوبډلو فکر کاوه چې هغوی د بریالیتوب په لور روان دي. د بریالیتوب دا لاره څو ځایونو کې تاوه شوې، ښکته بره شوې، او له نورو ځایونو څخه تیرېده. هر څه چې له دې وروسته کیږي، وړاندوینه یې ناشونې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷

# چټک خوځښت

کله چې بمباري يو څه کمه شوه نو په ۲۰۰۱ کال نومبر مياشت کې الله داد، رييس، کريم، اعظم خان، سميع الله شينواری او پاتې نور لوبغاړي کابل ته راستانه شول. ژمی هم نيمايي ته رسيدلی وو. الله داد داسې فکر کړی وو چې راتلونکې درې مياشتې پسرلي پورې د افغانستان کرکټ فيډريشن او افغان کرکټ لوبډلې لپاره نوی موخې وټاکي. ډېر ټکي بايد په پام کې ونيول شي تر څو يوه لوبډله په ريښتوني ډول برياله شي. د قايد اعظم ټورنمنټ يې ژوندی مثال دی. هيڅوک به داسې بايلونکې لوبډلې سره لوبه ونه کړي.

الله داد په کابل کې د المپيک کميټې غړو سره اړيکه ونيوله.

" زه غواړم تاسو سره وګورم. مونږ د قايد اعظم ټورنمنټ کې ډېره خرابه لوبه وکړه. د افغان کرکټ فيډريشن او لوبډله کې بايد بدلونونه راشي. که نا مونږ به هيڅکله پرمختګ ونه کړو" الله داد ورته وويل. الله داد لا نه وو خبر چې د هغې کرکټ فيډريشن له منځه تللی. د افغانستان المپيک کميټې ورته بد خبر واوروه،" ته نه يې خبر؟ د افغان کرکټ فيډريشن له منځه تللی. تاج د هغې پر ځای د افغانستان کرکټ بورډ جوړ کړی."

کله چې الله داد پوه شو چې تاج څه کړي نو ډېر په غوسه شو. "تاج!؟ هغه هيڅ واک نه لري. زه د افغان کرکټ فيډريشن مشر يم."

" طالبانو خپل واک له لاسه ورکړی. ښاغلی کرزی اوس د هېواد ولسمشر دی. مونږ اوريدلي چې ولسمشر کرزی د کرکټ په شمول د طالبانو هر څه له منځه وړي. خو تاج ولسمشر قانع کړ چې کرکټ ښه لوبه ده. هغې ويلي چې کرکټ به د افغانستان کرکټ بورډ نوم لاندې له سره پيل شي. دا د افغانستان



کرکټ فيډريشن سره هيڅ تړاو نه لري. ولسمشر کرزي، د تاج افغانستان کرکټ بورډ ومانه" د کميټې غړي ورته وويل.

د افغانستان کرکټ فيډريشن او د نوي افغانستان کرکټ بورډ ترمنځ هيڅ ښکاره توپير نه ليدل کېده، پرته له دې چې الله داد خپله مشري له لاسه ورکړه. چې له دې هرڅه يې ډېر ځوروه. الله داد فکر کاوه چې هغه يو موثره مشر دی. او دا خاص ددې برکت وو چې افغانستان د کرکټ لوبډله هم لري. تاج هغه کس وو چې ولسمشر کرزي ته يې د کرکټ نظريه ورکړې وه، نو تاج ته د کرکټ اړوند ټول واک ورکړل شو. الله داد اوس يواځې د لوبډلې لوبډلمشر پاتې کېدای شي که هغه هم ددې قسمت وو.

د تاج لنډ مهاله موخه دا وه چې کرکټ د ټول افغانستان کې په خلکو وپيژني. که څه هم افغانستان يوه ملي لوبډله لرله خو زياتره خلکو لا تر اوسه نه پيژندله.د افغان کرکټ ملي لوبډله د ټولې نړی لوبډلو څخه وروسته پاتې وه نو ځکه مينه وال راجزبول ستونزمن کار وو. تاج غوښتل چې کرکټ د طالبانو د وخت سزا غوندې چې هره جمعه ورځ به يې خلکو ته په غازي سټيډيم کې ورکوله، عام کړي. له نيکه مرغه پاکستان رامخته شو او دې سره هدف رانيولو کې مرسته وکړه.

د پاکستان کرکټ لوبډلې د افغان لوبډلې سره د مرستې وړانديز وکړ. که څه هم دا هرڅه وړيا نه ول. وړاندی تر دې چې تاج له پاکستانيانو څخه کومه مرسته تر لاسه کړي، هغې بايد پاکستانيانو ته ښودلې وه چې د دوی لوبډلې ترشا ورسره ولسمشر کرزی او د افغان حکومت ولاړ دی. هغوی د ولسمشر کرزي ملاتړ لپاره يو رسمي ليک واستوه.

د بمبارۍ، جګړې او سياسي کړکيچ پر مهال ټول ليکونه افغانستانه پرېږ کيدل. د کرکټ لوبډلې يو کس بايد په خپله پاکستان ته تللی وای او ليک يې هلته رسولی وای. الله داد چې تاج سره د مشرۍ پر سر شخړه وه، بيا هم تيار شو چې دا ليک د پولې هاخوا واړوي. هغې دا فکر کاوه که چيرته هغه په داسې کړکيچنو حالاتو کې داسې قرباني وکړي او ليک تر پاکستانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسوي نو د لوبډلې ملګري به يې دې ته رايه ورکړي او دا به يو ځل بيا د افغانستان کرکټ بورډ مشر شي.

اعظم خان چې د الله داد ملګری وو، دې ته تيار شو چې الله داد سره تر پاکستانه لاړ شي. تاج، کريم او رييس ډېر خوشاله شول چې دا خبره يې واوريده، ځکه سفر کې بل ملګری يوځای کېدل ښه وي. تاج، رييس او کريم يو هم دا نه غوښتل چې تاج سره په دې سفر کې ملګري شي. هغوی له الله داد څخه کرکه کوله. نو دا ډېر ښه کار وشو چې اعظم خان ورسره تلو ته غاړه کېښوده.

تاج، الله داد ته يوه خيرنه زېړه لفافه ورکړه چې په کونجونو کې شکيدلې هم وه.

" الله داده! دا ليک بايد د پاکستان کرکټ بورډ غړو ته وسپارې. هغوی خبر دي چې دا ليک مونږ ورليږو. ډېره اسانه ده."

" ډيورنډ کرښه په بشپړه توګه بنده ده. هيڅ موټر هغې غاړې ته نه پرېږدي ځکه امريکايي ځواکونه په هاغه لاره د القاعده او طالبانو په لټه کې دي." الله داد وويل.

تاج وخندل، هغه د الله داد په څير هيڅ وارخطا نه ښکاريده. " هيڅ خبره به نه وي. مونږ خو دا د افغانستان لپاره کوو! ويره هغه څه دي چې ته يې بايد مخې ته پرېنږدې. ستا پښې خو هسې هم اوږدې دي، که چا ويشتلې نو ښه منډه وهلی شې."

الله داد لفافه د تخرګ لاندې کړه" ته بايد له ويرې څخه ونه ډارېږې. زه له هيڅ نه ډارېږم."

پرته د نور څه ويلو د خپل ملګري سره روان شو. هغوی دواړه له کابله روان شول. الله داد او اعظم خان د يو ليک لپاره يو اوني سفر ته روان شوي ول.

" ته باور لرې چې تاج وويل چې دا ليک رسول دومره اسانه کار وي؟ که چيرته د پولې دروازه تړل شوي وي نو مونږ به دا ليک څنګه هلته رسوو؟



تاج ډېرې خبرې کوي، خو خپله هيڅ کار نه کوي. هغه ډېر چاغ دی." الله داد پرې ريشخند وهه.

اعظم خان سر خوځوه ياني هغه يې اوري. که څه هم الله داد، تاج سره وران وو خو بيا يې هم هغې ته ډېر احترام درلود. د مثال په ډول لکه تاج غوښتل پرځای ددې چې جګړه خوښه کړي، هغې غوښتل چې کرکټ په ټول افغانستان کې عام کړي. دا يواځينۍ وجه وه چې هغې غوښتل چې افغان کرکټ سره خپله مرسته جاري وساتي.

وړاندې تر دې چې الله داد او اعظم خان د ډيورنډ کرښې ته ورسيږي، هغوی بايد د ساتونکو څخه اووښتلو لپاره نورو لارو څخه کار اخيستې وای. هغوی په ډېر لارو سوچ وکړ، پايله کې هغوی پرېکړه وکړه چې د خيبر پاس له لارې لاړ شي تر څو لوی لارو څخه لرې وي. او د خيبر پاس لارې ته دومره د خلکو پام هم نه وو.

ځواکونو په لوی لارو ډېره څارنه ځکه کوله چې پرته ددې لارې بله د موټر لاره نه وه. که خلک ځان وژني نو د خيبر پاس له لارې دې پياده لاړ شي. خيبر پاس لاره د منځنې ختيځ سيمو کې تر ټولو خطرناکه لاره وه چې کابل يې د پېښور سره نښلوه. دا لاره ۳۳ مايله اوږده او ۳۵۰۰ فيټه لوړه وه، په ځينو ځايونو کې خو دا لاره ۱۰ فيټو پورې نرۍ وه.

خيبر پاس لاره يو طرفه وه ځکه يو ځل چې پرې روان شوې بيا تاويدل پکې نشته. دا لاره د هندوکش غرونو لړۍ سره پرې کوي. هندوکش د هندو وژونکي مانا ورکوي. دې لارې ته ځکه هندوکش ويل کيږي چې ډېر خطرناک موسمي حالات لري.

په حقيقت کې د هندوکش لاره د ډېر يخوالي له کبله خطرناکه ګڼل کيږي. کله چې الله داد او اعظم خان له دې لارې تيريدل نو د نومبر مياشت وه او موسم دومره سوړ نه و. خو بيا هم د مني په اخره کې هوا توديږي. الله داد او اعظم خان دې حالاتو ته هم تياری درلود. دوی دواړو سره ډېر زر خوراکي مواد کم شول او يواځې يو ليک ورسره پاتې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله داد روان و، هغې اوبو یا خوراک ته اړتیا نه درلوده. هغې خپل ذهن کې دا خبره نیولې وه چې د هغې لوبډلې ملګري به ورته د افغانستان کرکټ بورډ مشرۍ لپاره رایه ورکړي. د خیبر پاس لارې تلو سره به هغه ملګرو ته وښایي چې هغه د تاج نه څومره زړور دی.

اعظم خان هڅه کوله چې الله داد سره روان وي. په نړۍ کې به هیڅوک داسې ملګرتیا چا سره په داسې یو میشن کې برخه وانه خلي. الله داد دمې لپاره هم نه دریده. هغه په غرونو ختلو او کوزیدلو.

" مونږ باید د کرکټ تمرین لپاره د خیبر پاس په لاره منډه وهو." الله داد په سختۍ سا اخسته. دا ځل ختل ورته لږ ستونزمن تمام شول.

" دا خو ډیره ستونزمنه ده." اعظم خان ورسره همغږی شو او ډیر په زوره یې دا قیمتي هوا تنفس کوله.

" ته څه فکر کوې چې تاج به په دې غرونو ختلې وای؟" الله داد د هغې چاغ بدن په ذهن کې راوست چې څنګه به دې غرونو ختلو. هغې دومره وخندل چې ټوخې پرې ولګیده.

اعظم خان هم ورسره خندل. د خیبر پاس په لاره تلل ورته ډیره مشکله شوه. دواړو مسافرو په زوره زوره سا اخسته. تر څو چې ډیورنډ کرښې ته رسیدل دواړو خپله انرژي له لاسه ورکړې وه.

" زه فکر کوم چې ما ځان سره زیاتې وکړ، زه باید په ورو راغلی وم." هغه پښېمانه ښکاریده. هغې نور مزل هم نه شو کولای.

" ته باید کینې او دمه وکړې تر څو مونږ پاکستان سیمې ته اوړو." اعظم خان ورته وویل.

الله داد ونه منله،" نا، هیڅ خبره نشته. دمې لپاره وخت نشته. مونږ باید لومړی دا لیک ورسوو."

ددې جملې ویلو څخه نیمه دقیقه وروسته پرته د څه ویلو، راوغورځیده. اعظم خان غوښتل چې الله داد ونیسي خو هغې ونه شو



نیولای. الله داد په یو درز سره په ځمکه راپریوت. اعظم خان ورخطا شو. هغه هیڅ نه پوهیده چې څه وکړي او د مرستې لپاره چا سره اړیکه ونیسي.

" الله داده! پاڅه وروره! ته باید وروسته ویده شې." هغه لګیا وو، هغې الله داد خوځوه خو هغه بې حاله پروت وو.

الله داد د اوبو نشتوالي له کبله بې هوښه شوی وو. د خیبر پاس په لاره پرته د دمې او اوبو تلل همدا پایلې لري. اعظم خان ته هم ځان ډیر کمزوری ښکاره شو. هملته خواکې د مسافرینو لپاره خیمې وهل شوې وې، چې لوی لارې سره نښلوي. اعظم خان هلته لاړ، دا خطر یې هم هیر کړی وو چې ځواکونه به یې وګوري.

د خیمو څښتنانو د مسافرینو لپاره اوبه او خوراک ورکوه. هغوی زیاتره په مایوسه خلکو لکه د اعظم خان په څیر خلکو متکي وي. اعظم خان په بیړه یو ډبې جوس او درې نارنجان خپل ځان او ملګري لپاره راوړل. هغې دعا کوله چې دا جوس او نارنجان به دې او الله داد ته پوره اندازه انرژي ورکړي.

اعظم خان خپل ملګري ته جوس ورکړ او هغه په هوښ کې راغی،

" ډیره مننه، تا زما ژوند وژغوره. مونږ باید دا لیک اوس ورسوو. " هغې په سخته وویل.

اعظم خان، الله داد غلی کړ" شش...د کرکټ لیک باره کې خبرې مه کوه او تشویش هم مه کوه. یواځې ارام وکړه"

که څه هم هغوی خوراک، څښاک او دمه وکړه خو الله داد بیا هم ودریدی نه شو. اعظم خان فکر وکړ چې بله کومه لاره لري. هغوی دواړه باید په پښو لاړ شي، له لوی سرکونو څخه لرې پاتې شي او لیک ورسوي. هغوی به هله روانیږي چې الله داد د بیرته پاڅیدو توان پیدا کړي.

ددوی لپاره ښه خبر دا وو چې د پاکستان کرکټ بورډ ځیني غړي پیښور کې هم شته دي. پیښور د پولې نه دومره لرې نه دی او الله داد او اعظم خان هلته نږدې ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعظم خان هاخوا ديخوا کتل چې د لرې څخه يې يو بوډا سړی وليد چې يو قچره ورسره وه. کېدای شي الله داد په قچره بوخت شي. اعظم خان په منډه د بوډا سړي خواته ورغی او ويې پوښتل چې که قچره يې په کرايه وي.

" سلام! زما ملګری ډېر کمزوری شوی او نور په پښو مزل نه شي کولی. مونږ پېښور ته روان يو او غواړو يو اړين ليک هلته ورسوو. دا د افغانستان ملي کرکټ ليک دی. آيا خپل قچر مونږ ته په کرايه راکولی شئ چې زه پرې خپل ملګری ورسوم؟"

بوډا سړی زړه نا زړه شو،" سلام! دا زما شخصي قچر دی. او دا د کرايه لپاره نه استعمالوم."

" زه درته کرايه پيسې هم درکوم. دا لږې افغانۍ دې بس دي؟ همدا راسره دي. دا قچر به مونږ پېښور ته بوځو او سبا ته به يې درته بيرته راولم."

بوډا سړي د اعظم خان په خبرو فکر کاوه. هغې پرېکړه وکړه چې په اعظم خان به باور وکړي.

" زه به تاسو ته خپل قچر درکوم خو سبا همدا وخت به يې بيرته راوړئ."

اعظم خان ډېر خوشاله شو. هغې زوړ سړي سره وعده وکړه چې ددې احسان بدله به يو وخت درکوم. اعظم خان قچر د الله داد په لور روان کړ چېرته چې هغه په ځمکه پروت وو.

" مونږ به په دې ځو پېښور ته!" اعظم خان ډاډ ورکړ.

هغې الله داد سره په راولاړيدو کې مرسته وکړه. بيا هغې خپل دواړه لاسونه جوړه کړل او الله داد ته يې دختلو لپاره ونيول تر څو پرې هغه پښه کيږدي او وخيژي. الله داد پښه کېښوده او د قچر پر شا کيناسته. قچر وخريده. الله داد قچر په شا وټپوه او الله داد ته يې وکتل،" تيار يې؟" هغې وپوښتل.

" تيار يم" الله داد ورغبرګه کړه.



اعظم خان د قچر پړی ونيو او خواکې ورسره د پېښور په لور روان شو. پېښور ته رسيدو سره يې ليک د افغان حکومت له خوا د پاکستان کرکټ بورډ غړو ته وسپاره. هغوی دواړه دمې لپاره خپلو مخکينو ملګرو حميد حسن او محمد نبي سره هم وليدل.

" ته بايد هم کابل ته راشې! افغان ملي لوبډله ستاسو غوندې تکړه لوبغاړو ته اړتيا لري"الله داد ورته وړانديز وکړ.

" زه به درشم خو چې يو ځل خپل وزن کم کړم. زما وزن اوس ۲۶۸ پاونډه دی او زه سمه منډه نه شم وهلی" حميد ورته ځواب کې ووېل.

الله داد د تشويقولو نه ډک وو. هغې باندی حميد حسن ګران وو، " نو ته خو ډېر تيز توپ اچونکی يې. بس په ياد لره چې هر وخت کولای شې د افغانستان لپاره کرکټ وکړې. زه به درسره مرسته وکړم"

له دې وروسته بايد کابل ته د خيبر پاس له لارې تللي ول. الله داد ښه شوی وو. هغوی قچر خپل څښتن ته وسپاره. الله داد او اعظم خان دواړه پرته د کومې حادثې کابل ته ورسيدل.

تاج کابل کې اعظم خان او الله داد ته منتظر وو.

" په خير راغلئ! سفر مو څنګه وو؟" تاج وپوښتل.

" ستا له سوچ څخه ډېر ګران وو." الله داد وغمرېيده.

" ليک مو ورسوه؟"

"هو"

تاج پوښتنې پرېښودې. هغې نه غوښتل چې الله داد نور وچيړي ځکه هغه همدا اوس رارسيدلی وو.

" بس ښه خبره دا ده چې مونږ د پاکستانی لوبډلې مرسته تر لاسه کولای شو. زمونږ لوبډله به هم زر د هغوی په څېر نړيواله شي." تاج داسې انګيرله.

" او مونږ به نوی نسل د تاوتريخوالي پر ځای کرکټ ته وهڅوو" الله داد ورپسې اضافه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغان لوبډلې ګټل ۲۰۰۳ کال کې پيل شول. دا ډېره غټه خبره ده چې څنګه دې لوبغاړو الله داد، تاج، کريم، رييس، اعظم خان، سميع الله شينواري او نور لوبغاړي سره يو ځای شول او د طالبانو حکومت وروسته يې کرکټ يو ځل بيا په پښو ودروه تر څو نړيوال جام ته لاره پيدا کړي. هغوی هيڅکله ونه ډار شول چې ځان باندې سخته تيره کړي او له نورو مرسته وغواړي. ژوندی مثال يې د پاکستان کرکټ بورډ ته د مرستې لپاره ورتلل وو. او بيا يې د نړيوال امنيت مرستندويه ځواک ځان سره يو ځای کړ.

د افغانستان امنيت او د طالبانو څخه خلاصون لپاره زرګونه ايساف ځواکونه افغانستان ته راغلي ول. يو سرتيری چې تورن اندريو بينکس نومېده چې د کرکټ سره يې ډېره مينه وه. دا سرتيری د بريتانيې وو، هغه ځای چېرته چې کرکټ د هر څه په سر دی. کله چې هغې ته وويل شول چې افغانستان ته لېږدول کيږي نو هغه غمجن شو، ددې لپاره نه چې هغه به هلته جنګيږي بلکې ددې لپاره چې هغه به د کرکټ لوبې څخه لرې شي. په بريتانيه کې کرکټ ډېره نامتو لوبه ده. افغانستان ته راتګ سره تورن بينکس داسې انګيرله چې هغه به بيا کرکټ ونه شي کولای يا يې وګوري او ترې خبر شي.

يوه ورځ يې  کتل چې افغان ماشومان  د کابل په کوڅو کې کرکټ لوبه کوي. همدارنګه د افغان ملي لوبډلې جوړېدو باره کې يې هم اوريدلي ول. تورن بينکس فکر کاوه که افغانستان لوبډله درلودی نو دا به هرورمرو خبر وای. کېدای شي د کرکټ پر ځای توپ ډنډې لوبډله ولري. توپ ډنده هم د کرکټ په څېر افغانۍ لوبه ده. هغې پرېکړه وکړه چې په دې به ځان پوهوي.

تورن بينکس يو افغان پلټونکی وګماره تر څو د افغان ملي لوبډلې باره کې ځان ډاډمن کړي چې ايا په ريښتيا هم داسې لوبډله شته. تر ټولو سخت کار دا وو چې پلټونکی څنګه پوه کړي چې کرکټ څنګه لوبه ده. تورن



بينکس ورته د کرکټ ځيني زاړه انځورونه او ويډيوګانې وښودې تر څو هغه پوه کړي. پلټونکی پوه شو چې دا څنګه لوبه ده.

پلټونکی د دې لوبې په لټه شو. پلټونکی د افغانستان المپيک کميټې سره په اړيکه کې کړ. د المپيک کميټې دا تاييد کړه چې د کرکټ ملي لوبډله شتون لري، هغوی دا وعده هم وکړه چې دوی به دکرکټ ځيني استازي تورن بينکس سره ليدلو لپاره واستوي. خبره په دې وشوه چې دا غونډه به د بريتانيي سفارت کې ترسره کيږي.

د المپيک کميټې غړو دا خبره تاج سره شريکه کړه. هغوی ورته وويل چې تورن بينکس غواړي د کرکټ لوبغاړو سره وګوري. کېدای شي دا غونډه د يوې بلې لوبې لپاره ښه موقع وي. تاج هيڅ نه پوهيده چې بريتانيې سفارت څه دی او چيرته دی. هغې پرېکړه وکړه چې غونډې ته به ځان سره کريم او رييس هم بيايي.

الله داد ډېر زر د المپيک کميټۍ ته د تاج بد نيتۍ باره کې وويل.

" تاسو اوريدلي؟ تاج غواړي تورن بينکس سره ليدنې لپاره کريم او رييس بوځي...ځکه هغه يې ملګري دي. کريم او رييس د لوبډلې مشران هم نه دي. تاج ته دا هر څه ټوکې ښکاري."

کميټې غړو ورته وويل،" کريم او رييس ډېر ښه لوبغاړي دي. هغوی د کلونو راهيسې په دې لوبډله کې دي. د هغوی پر ځای به څوک لاړ شي؟"

الله داد خپلې وريځې پورته واچولې او د المپيک کميټۍ غړو ته يې په سپکه نظر وکتل." د لوبډلې لوبډلمشر استازيتوب کوي" د هغې غږ کې هم سپک نظري پرته وه.

د کميټۍ غړو ورته وويل،" مونږ به تاج سره وغږيږو."

هغوی سمدستي تاج سره اړيکه ونيوله او هغې ته يې د الله داد باره کې وويل. " تاج! الله داد په غوسه وو چې ته هغه ولې تورن بينکس سره ليدلو لپاره نه بوځې"

" هغې خو ماته نه دي ويلي چې زه درسره ځم." تاج وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



" ښه ! ستا خپله خوښه ده. الله داد فکر کوي چې هغه باید لاړ شي ځکه هغه د لوبډلې مشر دی. مونږ درته هغه څه ووېل چې هغې مونږ ته ویلي ول." تاج غوښتل چې یواځې کریم او رییس سره لاړ شي خو بیا یې د الله داد هغه کار رایاد کړ چې لیک یې تر پاکستانه رسولی وو. هغې بس همدومره کولای شول. هغې الله داد ته ووېل چې لیدنې لپاره ځان تیار کړي.

دواړو رقیبانو غوښتل چې دا موقع له لاسه ورنکړي. هغوی د خلکو پر وړاندې خپل تصویر څنګه پرېږدي؟ دواړو له دې وړاندې بریتانیې سرتیري سره نه وو لیدلي. تاج داسې انګیرلې وه چې تورن بینکس به یو شتمن او خطرناک سړی وي. تاج د لیدنې لپاره دریشي واغوسته، چې زیاتره به یې په ځانګړو لیدنو او محفلونو کې اغوستله. له بل اړخه الله داد په کمیس پرتوګ کې روان شو.

" زه به تورن بینکس ته افغاني کالي وښایم." هغه لکه پر ځان چې ویاړي. یو خو الله داد ډېر لوړ وو او بیا تنګ کمیس پرتوګ کې بد ښکارېده. تاج فکر کوه چې دې باره کې څه وواېي که نا. هغې داسې انګیرله چې تورن بینکس به په الله داد ملنډې ووهي. تاج او الله داد په ګډه د بریتانیې سفارت په لور روان شول. هغوی ذهن ته زرګونه خیالونه راغلل چې تورن بینکس سره لیدل به څومره ګټور وي.

د بریتانیې سفارت د کابل په لوی سیمه کې یو څو بېلې بېلې ودانۍ وې. دا ټولې ودانۍ یو بل کې ورننوتې وې. د سفارت اصلي ودانۍ د غونډۍ په سر د ونو منځ کې واقع وه. دا ډېره ښایسته سپینه ودانۍ وه چې لامبلو حوض او نڅا پوړ یې هم درلود خو د شوري یرغل وخت کې دا ودانۍ د مجاهدینو له لاسه ویجاړه شوه. نو ځکه بریتانیې ځان لپاره یو وړوکې غونډې ځای پیدا کړی وو.



تاج او الله داد په اسانۍ د بریتانیې سفارت پیدا کړ. د ننوتو لارې په طرف روان شول. یو غټ ساتونکی دروازې مخې ته ولاړ وو. د هغې سر ښېړې کل وو.

دې ساتونکي له لرې څخه تاج او الله داد ته کتل چې دا خلک به څوک وي چې دېخوا راروان دي. ددې ساتونکي دنده دا وه چې هر نابلده سفارت ته رانږدې کېږي، هغه یې په خپل شکل ډاروي. خو د هغې دا اکټ په دوی دواړو هم ناکام شو. تاج هغې ته په داسې ټولنیز انداز کتل لکه د ماشومتوب ملګری یې وي.

" سلام! مونږ د افغان ملي لوبډلې غړي یو. مونږ راغلي یو چې تورن بینکس سره وګورو."

ساتونکي لا هغې ته کتل. ساتونکي فکر کاوه چې په داسې لیدلو سره به هغه تاثیر لاندې راولي خو هغه نه وو خبر چې تاج تاثیر لاندې راوستل څومره ستونزمن کار دی.

د څو شیبو لپاره ټول چپ ول، وړاندې تر دې چې تاج ساتونکي ته ورنږدې شي او هغه وخوروي، یو ځل بیا یې ووېل" ښاغلیه؟ تاسو زما خبره واورېده؟"

ساتونکي باید دا ځل ځواب ورکړی وای، هغې سره بله لار نه وه.

" هو، ستاسو پوښتنه څه وه؟" هغې وپوښتل.

" مونږ د ملي لوبډلې لوبغاړي یو. تورن بینکس مونږ ته بلنه راکړې ده."

ساتونکي تاج ته ښکته بره وکتل. او د الله داد خواته ورغی او همداسې یې وروکتل.

" آیا تاسو ډاډه یاست چې تاسو د کرکټ لوبغاړي یاست؟" هغه شکي وو.

" هو، مونږ مسلکي یو!" تاج ورته زر ووېل.

د ساتونکي هیڅ باور نه راتلو. خو بیا هم هغې د تاج مسلکي لغت اوریدو سره لږ باوري شو. کله چې هغه ریښتیا وایي دهغې په غږ کې ډېر باور پروت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



" ډېر ښه. زه به لاړ شم او تورن بينکس ته به ووايم چې تاسو رارسيدلي ياست. دلته منتظر اووسئ." ساتونکي ورته وويل.

ساتونکی ودانۍ ته ننوت. په تاج او الله داد دواړه د ګرمۍ خولې راماتې وې. هغوی داسې فکر نه کاوه چې غونډه به په دې شکل شروع کيږي.

دننه سفارت کې ساتونکي تورن بينکس ته ويلي چې دوه ريشخندي کسان راغلي او ځانونه د افغان ملي کرکټ لوبډلې لوبغاړي معرفي کوي. تورن بينکس موسکی شو. هغه د ساتونکي مبالغې څخه متاثره شو.

" زه جدي يم. صبر وکه چې ته يې خپله وګورې چې هغوی څنګه ښکاري. هغوی لکه چې سرکس نه راغلي" ساتونکي ورته وويل.

" هغوی مسلکي لوبغاړي دي. زه ستا په خبرو شکمن يم چې ته وايې چې هغوی دې ماته ليونيانو غوندې راوپيژندل." تورن بينکس خپل د سپينو زرو لاسي ساعت ته وکتل" رانباسه يې. زه بايد ورسره اوس وګورم."

" ايا ته ډاډه يې چې دا هماغه کسان دي؟" ساتونکي د خبرې تاييد غوښت.

" بالکل." تورن يې خبره تاييد کړه.

کله چې ساتونکي تاج او الله داد ځان پسې ودانۍ ته روان کړل، تورن بينکس پوه شو چې ولې يې په هغوی ملنډې وهلي. دوی دواړه د يوې زاويې نه هم لوبغاړي نه ښکاريدل. د ساتونکي خبره چې دوی ريښتيا هم لکه د سرکس نه راغلي وي. اول سړی پلن او چاغ وو، هغه داسې کاليو کې راغلې وو لکه واده ته چې روان وي. د هغې نيکټايي هم د کميس سره هيڅ ورته والی نه درلود. دويم کس لوړ او نری وو. هغې افغانی لباس په تن وو. هغه داسې ښکاريده لکه د يو جومات ملا. کالي پکې ډېر تنګ ول. هغې خپل ويښته شاته اړولي ول، کېدای شي هغې د کوم ستايل وهلو کوښښ کاوه.

کله چې الله داد او تاج، تورن بينکس وليده نو ويې پيژنده. هغه سپين سړی او شنې سترګې لرلې. د مخ ځينې برخې يې د لمر له کبله سرې



اووښتې وې. هغې سره خولۍ او د ايساف يونيفورم يې پر تن وو. د هغې نوم په تارونو کميس باندې ليکل شوی وو.

" تورن بينکس!" تاج او الله داد په يو ځای ورچغه کړه.

هغوی ورغلل او هغې ته يې لاس ورکړ. دواړو د هغې پام راړولو لپاره په يو وخت خبرې کولې. تورن بينکس د تاثير لاندې راغلی وو. هغوی دواړو موسل.

تورن بينکس يو ناڅاپه په خندا شو، هغې دومره وخندل چې لږ پاتې وو په ځمکه پريوځي. تاج او الله داد د تورن بينکس په خندا مغشوشه شول. هغوی خبرې کول بند کړل. تورن بينکس د خندا منځ کې وويل،" تاسو دواړه خو اميګوس(ملګري) ښکارئ!"

تاج او الله داد نه پوهيدل چې اميګوس څه مانا لري خو بيا هم هغې سره په خندا شول.

کله چې درې واړه د خندا نه وزګار شول او ځانونه يې کابو کړل نو تورن بينکس تاج او الله داد هغوی خپل دفتر په لور روان کړل.

" ډيره ښنه غواړم. زه تورن بينکس... د بريتانيې پوځ افسر او امنيت سپيشلسټ."

دواړو بيا په يو وخت کې ځواب ورکړ. دوی دواړه دومره بې ترتيبه ول چې ځانونو ته يې پام هم نه وو چې دواړه په يو وخت کې غږيږي.تاج څو ځله الله داد ته اشاره وکړه تر څو چپ شي او هغه تورن سره خبرې وکړي.

" مونږ ته دعوت راکولو نه ډيره مننه. مونږ د افغانستان ملي لوبډلې لوبغاړي يو. زه د لوبډلې کوچ او د افغانستان کرکټ بورډ مشر يم." هغې الله داد ته وکتل او بيا يې اضافه کړه،" او الله داد د لوبې لوبډلمشر دی."

" زه پوهيږم چې څنګه ځان معرفي کړم." الله داد په ورو وويل خو چا وانه وريدل.

" بالکل. تاسو هر وخت دلته راتلای شئ،" تورن، تاج ته ځواب ورکړ."
تاسو سره ليدلو نه خوښ شوم. زه کرکټ سره ډيره مينه لرم نو ځکه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل تاسو سره دلته د کرکټ باره کې خبرې وکړم. راځئ، زما دفتر کې به خبرې وکړو"

دواړه ورپسې او د تورن دفتر چې د سفارت په يو کونج کې و، ورننوتل. دفتر کې يواځې درې څرخي چوکۍ ايښې وې او نور ټول دفتر خالي وو.

" ډېر ښايسته دفتر دی" تاج ووېل.

" ډېره مننه، زما پکې ښايسته شيان نه خوښېږي نو ځکه دا خالي او ساده دی. زه ډاډه يم چې ستاسو دفتر به دې نه ښه وي" تورن بينکس ووېل.

" مونږ خپل دفترونه نه لرو" تاج ورته ووېل.

تورن بينکس ډېر حيران شو،" څه وای! تاسو يو ملي لوبډله پر مخ بوځئ او دفتر نه لرئ؟"

" اړتيا ورته نشته. مونږ يواځې کرکټ کوو."

" ښه. تاسو ماته د ملي لوبډلې باره کې نور څه ويلای شئ؟ کله چې زه خبر شوم چې افغانستان کرکټ لوبډله لري نو ډېر خوشاله شوم. خو زه ډېر څه نه خبر نه يم." تورن بينکس ووېل.

الله داد دا ښه موقع وګڼله چې هغې ته ووايي چې څنګه يې دا لوبډله رامنځته کړې.

" هو، هو. ماته د افغان کرکټ پلار ويل کيږي. د طالبانو په وخت کې په ۱۹۹۵ کال کې ما په لمړي ځل د افغانستان کرکټ فيډريشن رامنځته کړ. زما موخه دا وه چې مونږ نړيوال جام ته لاره پيدا کړو او راتلونکي نسل ته وښايو چې د ټوپک پر ځای بيټ لاس کې واخلي."

تاج، الله داد ته په ډېر بد نظر وروکتل. لکه هغه چې ټول دروغ وايي. دا خو د تاج خوب و چې افغان کرکټ لوبډله نړيوال جام ته ورسوي. هغې به لمړی دا لوبډله راجستر کړې وه که چيرته ترې الله داد د هغې نظريه نه وه پټه کړې. تاج پرېکړه وکړه چې الله داد ولوبوي، نو تورن ته يې ووېل،



" کله چې امريکايانو طالبان له افغانستان څخه وشړل نو الله داد ډېر ډاريده او دلته نه راتلو. ما دهغې لپاره لوبډله بيا راټوله کړه تر څو مونږ وښايو کرکټ د سياست سره هيڅ تړاو نه لري."

تورن د دوی ترمنځ سړې جګړې څخه نه و خبر او په دې ځای کې هم پوه نه شو چې يو بل باندې ګوزارونه کوي.

هغې د دواړو هڅې وستايلې،

" تاسو دواړه ډېر څه کړي. او تاسو به راتلونکې کې ډېر څه ترلاسه کړئ."

تاج او الله داد ورسره د همغږۍ سرونه وخوځول. وړاندې تر دې چې څه خراب واقع شي، تاج خبره بدله کړه.

" ډېر څه شته چې بايد ورته خوشاله شو. کرکټ په افغانستان کې په چټکۍ روان دی. سلګونه ماشومانو او ځوانانو ورسره بلدتيا پيدا کړې. هغوی د تاوتريخوالي پر ځای د کرکټ په لور روان دي.دوه کاله وړاندې مونږ قايد اعظم ټورنمنټ کې هم ډېر مينه وال پيدا کړل. څوک پوهېږي چې راتلونکی به څنګه وي!"

" نا څرګند دهليز،" تورن بينکس ووېل.

تاج يې په خبره پوه نه شو" څه؟"

" نا څرګند دهليز" تورن بينکس دا ځل په تيز غږ ووېل.

" ناڅرګند دهليز څه مانا ورکوي؟" تاج ورځيني وپوښتل. دا جمله خو يو څه اشنا ښکاريده.

" ښه، نا څرګند دهليز خو د کرکټ يو لغت دی. دا هغه ځای ته بال کول دي چې د ويکټو آف خواته وي. په دې وخت کې توپ وهونکي لپاره ډېره سخته وي چې توپ ووهي که نا. که توپ ووهي کيدای شي وسوځي پرې او که چيرته قسمت ورسره مل وي نو کېدای شي شپږيزه پرې ووهي."
تورن بينکس ورته خبره واضح کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ښه..." تاج اوس هم ډاډه نه وو چې ولې ناڅرګند دهليز دومره مهم دی او د کرکټ راتلونکي سره څه اړيکه لري. " تاسو دا خبره (ناڅرګند دهليز) وروسته د هغې وکړه چې ما درته په افغانستان کې د کرکټ راتلونکې باره کې وويل. تاسو دا په غلطۍ ونه ويل؟"

" اوهو، نا. ما د همدې لپاره درته وکړه. ستاسو حالت ماته د ناڅرګند دهليز حالت رایاد کړ. تاسو د کرکټ لوبډلې سره ډېرو ستونزو سره مخ ياست، او راتلونکی ستاسو لپاره يوه معما ده.دا لوبډله کېدای شي په بشپړه توګه له منځه لاړه شي. او يا په باور او قسمت سره دا لوبډله يوه شپږيزه ووهي او نړيوال جام ته لاره پيدا کړي." د تورن خبرى ريښتيا کېدای شوې.

تاج وويل،" ښه! تاسو دا وايې چې افغانستان هم د توپ وهونکي په څېر د ناڅرګند دهليز حالاتو سره مخ دی."

" هو. لږ يا ډېر." تورن بينکس سر وخوځوه.

تاج ځان سره فکر کاوه چې نا څرګند دهليز څخه به څنګه تيرېږي. " توپ وهونکي به نا څرګند دهليز څخه څنګه په برياليتوب تيريدای شي؟"

" تمرين، تمرين او ډېر تمرين. که چيرته ستاسو لوبډله وغواړي نړيوال جام ته لاره پيدا کړي نو تاسو بايد ډېر زيات تمرين وکړئ." تورن بينکس ورته مشوره ورکړه.

" مونږ تمرين کوو. خو يواځېنې مشکل دا دی چې مونږ سره مناسب سامان نشته. او زه فکر کوم تاسو پوهيږئ چې کرکټ لپاره اسباب اخيستل اسانه خبره نده. دلته خلک ډېر غريب دي. زمونږ ملي لوبډله ځان لپاره معياري اسباب نه شي اخيستی. نو مونږ به پرته د مناسب سامان څخه پرمختګ وکړو؟"

تورن بينکس سر خوځوه او په دې يې فکر کاوه چې څه بايد وکړي" ته سم وايې. زه خبر يم چې انګلستان لوبډله ځيني وخت اضافي شيان لري.



بريتانيه کې کرکټ ډېر عام دی. زه به انګلستان لوبغاړو سره خبره وکړم که چيرته ستاسو لوبډلې سره يې مرسته کولای شوه."

" مننه، ستاسو مرستې څخه مننه." تاج وويل.

" زه به ډېر خوښ شم چې تاسو سره مرسته وکړم. که چيرته مې له هغوی لخوا څه تر لاسه کړل نو يو څو ورځو کې به تاسو سره اړيکه ونيسم؟"
تورن ورسره وعده وکړه.

له دې سره تاج او الله داد، تورن سره خدای پاماني وکړه او هر يو په خپله مخه روان شو. يوه ورځ تيره شوه او تاج د تورن بينکس نه يو ښايسته پيغام تر لاسه کړ،

" انګلستان لوبډله اضافي اسباب لري چې تاسو ته يې درکړي! بيټونه، توپونه، پيډونه او هر څه چې تاسو يې پيژنئ. زه به هغه ټول شيان تاسو لپاره راټول کړم. او بيا به يې ستاسو لوبډلې ته په رسمي ډول وړاندې کړم."

تاج نه خبرې هيرې شوې، هغه د تورن بينکس له سخاوت څخه ډېر خوشاله شو.

" تورن بينکس! کله چې مونږ چا نه تشکري کوو نو وايو "ډېره مننه". او زه فکر نه کوم چې سل ځله مننه ستا احسان لپاره کافي وي. زه ډېر خوشاله يم... او په ښتني سره چې زه څه نه لرم چې په بدل کې يې تاسو ته درکړم."

" هيڅ خبره نده، تاجه! زه کرکټ سره مينه لرم، نړيوال جام ته رسيدو لپاره به ستاسو لوبډلې سره هر رنګه مرسته وکړم. مونږ په ګډه کولای شو کرکټ په ټول افغانستان کې عام کړو."

تاج وغوښتل چې تورن بينکس په يو څه ونازوي،" زه يو نظر لرم! ته کولای شې د افغانستان کرکټ بورډ پرمختګ مدير شې. بيا تاسو کولای شئ مونږ سره نړيوال جام ته رسيدو کې مرسته وکړئ او کرکټ هم دلته عام کړئ."

د کرکټ باره کې تورن بينکس هيڅ له لاسه نه ورکول. د افغانستان کرکټ بورډ پرمختګي مدير له لارې هغه کولای شي چې لږ تر لږه د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښې لوبې سره په اړیکه کې پاتې شي. که څه هغې ځان ددې پوست لپاره وړ کس نه باله.

" ستا د وړاندیز نه ډیره مننه. دا ماته هر څه دي. زه به په دې پوست ډیر خوښ شوی وای... خو زه په دې برخه کې هیڅ تجربه نه لرم. ته باید وړ کس وټاکې. زه یواځې د کرکټ لوبغاړی یم، د کرکټ سفیر نه یم."

" ښه نو ته کولای شې یو آل راونډر جوړ شې!" تاج ورسره ټوکه وکړه،" هیڅ خبره نده، مونږ یو هم تجربه نه لرو. لس کاله وړاندی مونږ کرکټ هیڅ نه پیژنده. زمونږ نه تاته ښه پته ده. نو ته به د افغان کرکټ سفیر شې."

له دې وروسته تورن بینکس د افغان کرکټ سفیر شو.

د ۲۰۰۳ کال اپریل میاشت کې تورن بینکس یوه غونډه جوړه کړه چې له لارې به یې افغان ملي لوبډلې ته د کرکټ سامانونه ورکړي. که څه هم یو لیک هم نه وو استول شوی خو تورن بینکس په خپله خرچه هغه سامان د بریتانیې نه په سي ۱۳۰ نظامي الوتکه کې افغانستان پورې راورسول. دا الوتکه خړ رنګې وه چې څلور بمباري ځایونه یې درلودل. تورن بینکس بیټونه، توپونه، پیډونه، دوه مصنوعي پیچونه او نور اړوند سامان تاج ته په ډیره مهربانی وړاندی کړ.

تاج د تورن بینکس نه یو ځل بیا مننه وکړه. هغه د کرکټ لوبغاړو مخې ته وغږیده." د افغانستان کرکټ بورډ مشر په حیث زه له تورن بینکس څخه ډیره مننه کوم. هغه زمونږ لپاره ملګری او ورور دی."

ټولو لوبغاړو د تاج په خبره چغې کړې او شپیلي یې وهل. کریم، رییس وسکونډه،

" ته فکر کوې چې تورن بینکس له ما غښتلی دی؟"

" کیدای شي. هغه یو سرتیری دی. که هغه تا نه غښتلی نه وي نو تا نه هوښیار دی."



کریم په ټوکه کې هغه په مټ ووهه،" زه فکر کوم تورن بینکس نه دا هیر شوي چې هغه یو سرتیری دی.هغه ډیر ښه سړی دی. سرتیري خو ښه نه وي."

"هو... مونږ ډیر خوش قسمته یو چې مونږ ته یې د کرکټ اسباب راکړل،"

افغان لوبډلې لوبغاړو څه اسباب ځان سره وساتل او اضافي یې کابل کې ماشومانو ته ورکړل تر څو هغوی هم کرکټ سره بلد شي. دا ډیره اړینه وه چې کرکټ درس همداوس شروع شي او خپور شي. که چیرته افغانستان غواړي نړیوال جام تر لاسه کړي نو راتلونکي نسلونه هم باید کرکټ باندې ډیر کار وکړي.

تاج چې به کابل کې هر خالي ځای پیدا کړ نو تمریني لوبې به یې پکې کولې. لوبغاړو ته به یې ښار کې منډه ورکوله تر څو ښه سټیمنا پیدا کړي. تمریني میتودونه که څه هم په مهالوېش برابر نه ول خو بیا هم د نشت نه ښه ول. د وخت په تیریدو سره به پکې پرمختګ لیدل کېده.

اوس چې ملي لوبډلې معیاري اسباب پیدا کړل نو تورن بینکس غوښتل چې وګوري چې لوبډلې څومره پرمختګ کړی. هغې تاج سره اړیکه ونیوله او د لوبې چیلینج یې ورکړ.

" تاجه! ما خو ستاسو لوبډلې لپاره اسباب برابر کړل نو په بدل کې ماته د خپلې لوبډلې وړتیا راوښیې؟ د ایساف سرتیري غواړي تاسو سره لوبه وکړي. هغوی دعوه کوي چې ستاسو لوبډلې ته به ماتې ورکړي."

تاج د تورن بینکس ټوکو ملنډو باندی پوه شو،" مونږ ښه تمرین کړی دی. مونږ به یې ګټو. تا نه هیر شوي؟ د افغان ملي لوبډله به نړیوال جام ته ووځي."

تورن بینکس باور درلود چې افغانان په دې لیوالتیا کولای شي نړیوال جام ته لاره پیدا کړي. خو بیا هم کېدای شي لسیزې ونیسي. یوه ملي لوبډله

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځته کول او د هغې بنیاد جوړول ډیر پیچلی بهیر دی. په دې وخت کې د افغان ملي کرکټ لوبډله د نړۍ وروسته پاتې لوبډله وه.

" ښه نو دا لوبه به تاسو لپاره د نړیوال جام وتلو ته ښه تمریني لوبه وي او دا په افغانستان کې لومړنۍ نړیواله لوبه هم وي چې افغانستان یې کوربه توب کوي. د ایساف یو سرتیری هم له دې ځای څخه نه دی."

" همم. ښه سمه ده. مونږ به ایساف سرتیرو ته په خپل هېواد کې تاریخي ماتې ورکړو. بس راځه نو چې دا لوبه تیاره کړو." تاج ورسره ومنله.

د نړیوال امنیتي ځواک کرکټ لوبډله د بېلا بیلو هېوادونو خلکو څخه جوړه ده. هغوی د خوند لپاره په داسې لوبو کې برخه اخلي. دا به د هغوی لومړنۍ نړیواله لوبه وي او د افغان لوبډلې لپاره به هم دویمه نړیواله لوبه وي. دواړه خوا لوبغاړي وارخطا ول.

په افغانستان کې تر دې وړاندې هیڅ نړیواله لوبه نه ده شوې. خو داسې ځای چې امریکایي ځواکونو نه وي بمبار کړی، پیدا کول یې ستونزمن کار وو. هغه ځای کې چې افغان لوبغاړو تمریني لوبې کولې هم ویجاړ شوی وو. تورن بینکس او تاج پرېکړه وکړه چې دا لوبه د کابل پارک یانی چمن حضوري کې تر سره کړي.

دا ځای هم دومره ښه نه وو، وچ واښه خو هوار مېدان وو. د دوړو نه ډک وو. ددې میدان شاته غریزه سیمه وه.

د ۲۰۰۳ کال اوړي په موسم کې د افغان ملي لوبډلې او ایساف تر منځ لوبه وټاکل شوه. دواړه لوبډلو سهار وختي په چمن حضوري کې سره ولیدل. دواړو ډلو مشرانو د ویکټو ځای او د فیلډ ساحې وټاکلې، د میدان په کونج کې د شوروي اتحاد یو ویجاړه شوې چورلکه هم پرته وه. په ۱۹۸۰ کال کې چې کله روسي ځواکونو غوښتل چې افغانستان تر خپلې ولکې لاندې راولي نو په هماغه وخت کې دا چورلکه د مجاهیدنو له خوا راپرځول شوې وه.



د لوبې شروع کیدو نه مخکې تاج لوبغاړو ته غږ کړ تر څو لمونځ وکړي. که څه هم د طالبانو زور نه وو خو بیا هم دوی لمونځ وکړ. هغوی په دې باور درلود چې لمونځ ښه قسمت پرانیزي. د لوبې تر منځ لمونځ کول هم دوی خپل اصل ګرځولی وو.

د لمونځ وروسته ټولو لوبغاړو سره لاسونه ورکړل او یو بل ته یې ښې چارې وغوښتې. تاج د کوچ په حیث رامخته شو. تورن بینکس هم توپ له ځان سره راوړ. افغان لوبغاړو چې توپ وکته نو ټول حیران شول. کریم خو په ټوله لوبډله کې ټوکي لوبغاړی وو. هغې خپل ویښته ونیول او کش یې کړل.

افغان لوبغاړي وارخطا شول ځکه تورن بینکس سره یې کلک توپ ولید. تر اوسه دوی په کلک توپ لوبه نه وه کړې.

هغوی لا دومره شتمن نه ول چې لوبډلې لپاره معیاري کلک توپ وپیري. دا کلک توپ به د ټینس توپ سره ډیر توپیر ولري. ددې توپ وهل او نیول به هم ستونزمن شي.

کریم، تاج ته ګیله وکړه،"وروره! زه په دې توپ لوبه نه شم کولای. دوی ټګي کوي."

" دوی ټګي نه کوي! هغوی په اصلي کرکټ توپ لوبه کوي. مسلکي خلک په همدې توپ لوبه کوي. ته باید توپ په زوره ووهې او دا تا لپاره ښه ده... ته به د خپلو متو زور هم وښایې." تاج ځواب ورکړ.

" او که توپ مې ونه وهه نو بیا؟ نو زه باید کرکټ کول پریږدم؟" کریم وپوښتل.

" په الله ج باور ولره. مونږ خو لمونځ هم کړی، خدای به خیر کړي" تاج نورو لوبغاړو ته هم ډاډ ورکړ. د کوچ کېدلو په دوران کې دا د هغې لپاره تر ټولو غټ خنډ وو. افغان لوبډلې پچه وګټله نو تاج پرېکړه وکړه چې لمړی توپ وهنه ایساف ته ورکړي. د هغې فکر ساده وو. دویم ځل توپ وهنه ددوی لپاره ځکه ښه وه چې افغان لوبغاړي به توپ سره بلد شي. همدا رنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اټکلي څېړنو دا څرګنده کړې کله چې توپ وهونکي د هدف څخه خبر وي نو ښه توپ وهنه کولای شي.

لوبه پيل شوه. الله داد او بل افغان توپ اچونکي په ګرانه خپله ليکه پيدا کړه. کله چې لوبه يو څه وشوه نو لوبغاړي يو څه ډاډه شول. هغوی د کلک توپ سره بلد شول. تاج پوه شو چې نور د وارخطايي کومه خبره نشته.

په راتلونکي نيم ساعت کې افغان توپ اچونکو د ايساف ټول توپ وهونکي وسوځول. ايساف لوبډلې په ګډه ۵۶ منډې جوړې کړې. د تاج کوچنګ ته نوره اړتيا نه ليدل کيده. هغه يوې غاړې ته ولاړ او د هغوی معنوي ملاتړ يې کاوه. لوبه به تر غرمې وړاندې پای ته ورسيږي.

دويم پړاو کې افغان لوبغاړو توپ وهنه شروع کوله چې اسمان برګ شو. برېښنا سره يوځای تندر هم شروع شو. باران هم پرته له ځنډه خپل زور ورکړ. کېدای شي دې باران د ايساف لوبغاړو په زړونو کې ويره واچوله. د افغان لوبغاړي د لوبې تږي ول او هغوی بايد ډېر څه ثابت کړي ول. هغوی سره سخت زړه توب پرته هيڅ نه ول.

دې باران د څو ساعتونو لپاره لوبه وځنډوله، موسم بيرته ښه شو او افغان لوبغاړي يو ځل بيا بيټونو سره ميدان ته راننوتل. کريم او الله داد لمړني توپ وهونکي ول. ايساف توپ اچونکو ځانونه ګرم کړل. لوبې کولو لپاره ټول چمتو شول.

کريم او الله داد په بيړه د توپ اچونکو په سور پوه شول. په څلورم اوور کې هغوی ټولې منډې جوړې کړې او لوبه يې وګټله. کريم ځان ته حيران و چې هغې څنګه ۴۰ منډې جوړې کړې. هغه پوه شوی وو چې کلک توپ وهلو کې کومه ستونزه نه لري. د لوبې ګټلو لپاره لمونځ يې ښه نتيجه ورکړه.

تاج د ليونو په څېر ميدان ته رامنډې کړې. د هغې کوچينګ پر مهال دا د افغان لوبغاړو لومړنی بريا وه. کېدای شي په راتلونکي کې همداسې نورې برياوې هم ولري. ددې لوبې څخه تاج دا زده کړل چې افغان لوبډله په هر رنګه حالاتو کې خپله وړتيا ښودلی شي.



د لوبې په پای کې لوبغاړو يو بل ته لاسونه ورکړل. د لوبې بريا په انعام کې ايساف ځواکونو د افغان لوبغاړو لپاره د کرکټ نور اسباب وپيرل. تورن بينکس هم ددې لوبې شاهد وو. کرکټ په ورو ورو خپل حرکت پيل کړی وو. که څه هم دا دومره ستره بريا نه وه خو په دې بريا يې د خلکو سترګې ددوی په لور واووښتې.

تاج، کريم، رييس، الله داد، سميع الله شينواري او اعظم خان نور هم وهڅول شول. ددوی مشرانو به دوی ته د کرکټ کولو لپاره پيسې هم ورکولې او کار نه يواځې ددوی لپاره بلکې د ټول افغانستان راتلونکی پکې نغښتی وو.

افغان  ځوانانو وکتل چې ملي لوبډله څومره مخ پروړاندې روانه ده. هغوی هم غوښتل چې دې پرمختلونکې ډلې سره يو ځای شي. تاج ټول ځوانان وهڅول چې تمريني لوبو کې ګډون وکړي. کله چې هغه يو ځل بيا کچه ګړی ته لاړ نو هلته يې د افغان کرکټ کلب ملګری حميد حسن وکتلو،

" حميده! الله داد ماته ويلي چې تا ويلې چې ډېر وزن له کبله کرکټ نه شم کولای. ته غلط وايې. کابل ته راځه. ته به ملي لوبډله کې تر ټولو غوره توپ اچونکی شې." تاج ورته وويل.

حميد ډېر غټ وو. هغه ريښتيا هم ډېر غټ و، قد يې هم ۶ فيټه او ۵ انچو ته رسيده. تاج سوچ کاوه که هغه لوبې ته برابر شي نو څومره چټکه توپ اچونه به کوي. کيدای شي حميد هم بايد کريم غوندې خپلې متې جوړې کړي. کريم به هم ډېر خوشاله شي چې يو ملګری ورته پيدا شي."

" که چيرته زه لوبې کولو ته زړه ښه کړم نو زما پلار ما نه پريږدي" حميد وويل.

" ستا پلار چيرته دی؟ زه به ورسره خبره وکړم" تاج ټينګار کاوه.

حميد پلار سره اړيکه ونيوله چې تاج سره وګوري. تاج نيغ ټکي ته راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



" سلام. زما نوم تاج ملک دی او زه د افغان کرکټ ملي لوبډلې کوچ یم. زه تاسو ته وړاندیز کوم چې حمید ماسره پرېږدئ. هغه غواړي افغانستان ته لوبې لپاره لاړ شي."

د حمید پلار، تاج ورته" پرېخه پوزه دې ورکه نه شي. حمید زما ځوی دی. زه هغه هیچرته نه پرېږدم. راتلونکې لس ورځو کې د هغې ازموینې پیلیږي."

تاج نه هیر ول چې حمید اوس هم ښوونځي کې دی. حمید ۱٦ کلن وو، تاج نه نهه کاله کشر وو.

" هغه د مسلکي لوبغاړي وړتیا لري." تاج ټینګار وکړ.

" نا، هغه یې نه لري. د هغې وزن ته وګوره."

" ایا تاسو حمید نه پوښتنه کړې چې هغه څه غواړي؟"

د حمید پلار وویل،" دا هیڅ فرق نه کوي. حمید له ځان سره واخله او له دې ځایه ځه. که چیرته په هغې څه وشول نو ذمه وار یې ته یې."

تاج راهیښ شو،" نا، زه دا مسولیت نه شم اخیستی!"

" ته غواړې هغه ځان سره کابل ته بوځې نو همدا ته یې مسول یې." د حمید پلار خپله اخري خبره څرګنده کړه.

حمید د دواړو ترمنځ راټوپ کړل. " بحث پرېږدئ! تاجه، ماته سرک کې ودریږه زه درځم."

حمید خپلې مور ته لاړ او کیناسته،" مورې، زه غواړم تاج سره افغانستان ته لاړ شم او هلته کرکټ وکړم خو پلار مې نه پریږدي. زه څه وکړم؟"

د حمید مور هغه ارامه کړ،" د تاج مور چې دلته وه، ما پیژنده. هغه دلته راغلې وه چې د افغان کرکټ کلب لوبې وګوري. هغې ماته وویل چې ته ښه لوبغاړی یې. دا ستا خوښه ده او ستا پرېکړه ده. که چیرته خپل راتلونکی کرکټ کې ګورې نو لاړ شه. او که چیرته خپل راتلونکی پکې نه ګورې نو ولې خپل وخت او ژوند فضول تیروې؟"



حمید پوهیده چې هغه کرکټ کې خپل راتلونکی ګوري. هغه به افغانستان کې ډیر کار وکړي تر څو یې ثابته کړي. د خپلې مور څخه اجازې وروسته تاج سره روان شو. راتلو وړاندې یې پلار ته هیڅ ونه ویل.

کله چې تاج او حمید ډیورنډ کرښې ته راورسیدل نو حمید ټیلیفون ته ودرید چې خپل پلار ته زنګ ووهي.

" پلاره! ما وبښه، تاته له ویلو پرته راروان شوم. زه کابل ته روان یم. خیر دې خفه کیږه مه. زه وعده کوم چې یوه ورځ به ستاسو سترګې جګې کړم."

"کله چې بیرته راغلې بیا خبرې کوو. دا ستا ژوند دی. خو هیڅکله داسې ونه وایې چې ما تا لپاره هیڅ نه دي کړي." پلار یې دا ځواب وو.

کله چې تاج او حمید افغانستان ته راواوښتل نو له شا څخه یې یو غټ اواز تر غوږ شو،

" ای!"

حمید شاته وروکتل. دا د هغې تره وو.

" دلته څه کوې؟" تره یې پوښتنه وکړه.

" زه کابل ته روان یم،" حمید ځواب ورکړ.

" په دې اوږه دې څه ایښي؟"

حمید په اوږه بیټ ایښی وو.

" دا د کرکټ بیټ دی."

" کرکټ یې لا څه دی؟" تره ترې وپوښتل.

" دا یوه لوبه ده، چې په بیټ او توپ کیږي."

د هغې تره پوه شو چې حمید دروغ وایي،" دا خو لکه د ډول لرګی ښکاري. ته اوس سندرغاړی شوې؟"

" نا، زه سندرغاړی نه یم."

تره یې ورته په مخ کلکه څپیړه ورکړه،" ته لیونی یې. ځه بیرته کچه ګړی ته لاړ شه."

تاج په غوسه شو. حمید تره ته یې بد وکتل،" ای! دا د ولې ووهه؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



" ځکه چې دا زما وراره دی. زه حق لرم چې ترې وپوښتم چې دا چیرته روان دی."

حمید، تاج ته په ورو وویل،" تره ته مې نور څه مه وایه. بس پریده یې."

د حمید تره دواړه د ډیورنډ کرښې څخه هاخوا بوتلل. " همدا اوس بیرته کچه ګړۍ ته لاړ شئ"

تاج او حمید دواړو بیرته په شا روان شول. تاج، حمید ته اشاره وکړه او ویې پوښتل،" د وزن کمولو لومړي تمرین ته تیار یې؟"

"څه وکړم؟" حمید وپوښتل.

" تره نه دې تښتو!"تاج چغه کړه او د ډیورنډ کرښې افغانستان ته واوښت. حمید ورپسې وو. هغوی د موټرو او کچرو څخه تیر شول. تاج او حمید تر هغې منډه ووهله چې سم ستړي شول. د حمید تره هیڅ نه ښکاره کېده.

تاج او حمید د کابل په لور روان شول. حمید په کچه ګړۍ کې زیږېدلی او افغانستان ته تر اوسه نه وو تللی. کچه ګړۍ مهاجرو ورته ویلي ول چې افغانستان ډیر ښایسته او شین دی.

حمید ډیر ناهیلی شو ځکه د کابل باره کې چې یې څه اوریدلي ول، سم نه ول. کابل زرغون نه وو، بلکې خړ او له دوړو ډک او له کاره لویدلې فابریکې وې. دا ښار د بمبارۍ له کبله ویجاړ شوی وو. که هر څنګه وو خو حمید غوښتل چې خپل کرکټ ته دوام ورکړي.

د افغان کرکټ کلب وروستی لوبغاړی محمد نبي هم کابل ته ستون شو. تاج هغه هم وهڅوه چې څومره خلک دلته کرکټ کوي.

په د ۲۰۰۶ کال کې افغان ملي لوبډلې د اسیایي کرکټ کاونسل ټورنمنټ کې هم برخه واخیسته. دا لوبې ملیشیا کې تر سره کېدې او اسیایي هیوادونو پکې ګډون کاوه. نړیوال کرکټ کاونسل افغان لوبډلې سره مرسته وکړه تر څو هغوی په دې ټورنمنټ لپاره ملیشیا ته لاړ شي. په دې ټورنمنټ



کې افغانستان تر نیمه پای لوبې ورسیده . افغان لوبغاړي خوښ نه ول ځکه هغوی تر پای لوبې نه ول رسیدلي.

تاج ډېر خوشاله و،" نیپال هېواد سره مو یوه لوبه پاتې ده! حوصله له لاسه مه ورکوئ. تورن بینکس ویل چې افغان لوبډله ناخرګند دهلیز کې واقع ده. دا لوبډله به یا بریالۍ شي او نا به ووځي او که مونږ حوصله له لاسه ورکړو نو مونږ به حتمي ووځو او یا به هم نړیوال جام ته لار پیدا کولو خوب په یوې شپږیزې ریښتیا کړو.که چېرته مونږ عقیده لرو نو خطرونو سره مخ شئ او ډیر زحمت وباسئ."

افغان لوبغاړي به نیپال لوبډلې سره لوبیږي. هسې هم هیڅ له لاسه ورکول نه وو. کریم او محمد نبي د یوې پسې بله شپږیزه ووهله. افغان لوبغاړو په ګډه ۲۷۰ منډې جوړې کړې. په دویم پړاو کې نیپالي لوبډلې یواځې ۱۱۵ منډې جوړې کړې.

د لوبې وروسته ټول ډیر خوشاله ول، الله داد وویل،" مونږ دریم ځای خپل کړ. خو د اول راتلو پورې باید ونه لمانځو"

په همدې وخت کې د ټورنمنټ جوړونکی راغی او هغوی ته یې مبارکي ورکړه.

" مبارک شه! تاسو دریم شوئ. او بله ښه خبره دا ده چې تاسو نړیوال کرکټ جام پنځم ډیویژن ته لاره پیدا کړه.

الله داد ډیر حیران شو. تاج، کریم او رییس وخندل. نور ټول هم خوشاله ول. نړیوال کرکټ کاونسل په شپږ ډیویژنونو وېشل شوی دی. هغه لوبډلې چې نوی رامنځته شوې وي په اخري یا شپږم ډیویژن کې وې. کله چې لوبډلې ښه لوبه کوي نو همداسې پنځم او بیا اخره کې لمړي ډیویژن ته رارسیږي.

په ۲۰۰۸ کال کې د لمړي ځل لپاره نړیوال کرکټ کاونسل د افغانستان لوبډلې ته چې د پنځم ډیویژن سیالۍ په جرسي ټاپو فرانسه کې موقیعت لري، دعوت ورکړ. که چیرته افغانستان د پنځم ډیویژن ټورنمنټ کې لمړی یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم راشي نو دا لوبډله به څلورم ډیویژن ته لار پیدا کوي. که چیرته کومه لوبډله څلورم یا پنځم راشي نو هماغه پنځم ډیویژن کې به پاتې کیږي. د پنځم ډیویژن ټورنمنټ کې ۱۲ لوبډلې لوبیږي چې په دې کې د متحده ایالاتو، ناروې، جاپان او جرمني لوبډلې شاملې دي.

تاج او د افغان کرکټ لوبغاړي په جرسي کې سیالۍ لپاره ډیر خوشاله ول. کابل کې هر چیرته ځای پیدا کړ نو تمرین به یې کاوه. هغوی ډیر ډاډه ښکاریدل. یواځینی شی چې هغوی ډاډه نه ول هغه دا چې نیو جرسي په کوم هېواد کې دی.

" زه هیڅ باور نه کوم چې مونږ د امریکا نیو جرسي ته کرکټ کولو لپاره ځو!" د تمرین لوبې په دوران کې کریم وویل. هغه به هر وخت فکر کاوه چې امریکا به څنګه ځای وي.

" مونږ به تورن بینکس نه مشوره واخلو چې هلته مونږ څه وکړو." تاج وویل.

له دوی څخه یو هم د اسیا نه لرې نه ول تللي. لرې ځای یې ملیشیا و چې په ۲۰۰٦ کال کې اسیا جام ته لار پیدا کولو لپاره هلته تللي ول. کله چې یې تورن بینکس ولیده نو د پوښتنو باران پرې شروع شو.

" د نیو جرسي موسم څنګه دی؟" رییس پوښتنه وکړه.

" ته جرسي یادوې؟ نیو جرسي خو د امریکا ایالت دی او جرسي په اروپا کې د بریتاپې یو وړوکی ټاپو دی." تورن بینکس ټول پوه کړل.

" اوهو! ښه هغه ستاسو هېواد کی دی؟" تاج په حیرانۍ وپوښتل.

"بس نږدې دی." تورن بینکس سر وخوځوه.

" هلته افغانانو سره څنګه سلوک کوي؟" الله داد وپوښتل.

" هغوی به تاسو سره مساوي سلوک کوي."

" جرسي کې ښځې څنګه وي؟" کریم وپوښتل.

تورن بینکس مسکی شو" هغوی ډیرې ښایسته دي.زه ډاډه یم چې ستا متې به یې خوښې شي. خو په یاد لره چې ته هلته کرکټ لپاره ځې."



کریم سر وخوځوه،" کرکټ ماته له هر څه مهم دی."

افغان لوبغاړي نور هم خوشاله شول کله چې هغوی خبر شول چې د امریکا لوبډله لا تراوسه هم پنځم ډیویژن کې پاتې ده نو هغوی پرېکړه وکړه چې امریکا ته به ماتې ورکړي که نورې وبایلي هم خو دا ورته ډیره اړینه وه.

"مونږ به امریکا ته وښایو چې مونږ کرکټ کې څومره تکړه یو!"

تاج د ټورنمنټ شروع کېدو نه وړاندې په چغه وویل، د هغې لوبغاړي ډیر جزبه کې ول.

جرسي د افغانانو لپاره یو نه اټکلېدونکی ځای و. هغوی ډیر حیران ول کله یې چې د جرسي شینوالی او ډیرې موټرسایکلې ولیدې.هغوی د خلکو کالیو هم حیران کړل. په افغانستان کې کرکټ لوبغاړي هم یواځې هغه کالي اغوندي چې د بدن یو ځای یې ترې هم نه ښکاري. او اخر دا چې جرسي کې خوراک هم توپیر کاوه. ډیرو لوبغاړو یواځې میوو باندې ګوزاره کوله.

خو تاج د لوبډلې توجه لوبې خواته راړوله.

" زما ورونو، لکه څنګه چې تاسې ته مالومه ده چې خپلې ملي لوبډلې لپاره لوبه کول دومره اسانه نده. نورې ټولې لوبډلې شتمنې دي. خو مونږ سره روح دی. خو په یاد ولرئ چې په جزبه به لوبه کوئ. دا لوبه د خپل هېواد او خلکو دپاره ده."

نړیوال کرکټ کاونسل د ټورنمنټ لپاره کلک قانونونه جوړ کړي. لمړی دا چې ټول افغان لوبغاړي باید خپل عمرونه باوري کړي. زیاتره لوبغاړي کچه ګړۍ کې زیږیدلي او د زیږیدو اسناد هم نه لري چې دوی څو کلن دي. هغوی ټول وایي چې مونږ ۲۲ کلن یو. یوه پخوانۍ ټوکه ده چې وایي پښتانه نه زړیږي. دویم دا چې نړیوال کرکټ کاونسل د مېدان ساحې هم وټاکلې. افغان لوبغاړي به زیاتره وخت د باونډرو څخه په غلطۍ هاخوا اووښتل. هغوی ډیر وخت کوڅو کې لوبې کړي او هلته دا هیڅ خبره نه وه. امپایرانو به افغان لوبغاړو ته ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



" مهرباني وکړئ، د باونډریو څخه هاخوا مه ودرېږئ. یواځې دننه ودرېږئ."

" وبښئ ښاغلیه!" هغوی ښه غوښته.

تاج ډېر خوشاله وو،" نن د افغانستان لپاره ډېره ښایسته ورځ ده" هغې خبریالانو ته ویل." دا زمونږ هېواد لپاره یوه ستره ډالۍ ده ځکه زمونږ هېواد د جګړې او تاوتریخوالي پرته هیڅ نه وو لیدلي."

جرسي کې لوبې وروسته افغان لوبډله څلورم ډیویژن ته ورسیدله. څلورم ډیویژن ددې نه هم سخت وو. په دې ډیویژن کې څلور لوبډلې وې، چې پکې فیجي، هانګ کانګ، ایټالیه، او تانزانیه دي. د ۲۰۰۸ کال اکتوبر میاشت کې افغان لوبډلې تانزانیه سره په څلورم ډیویژن کې سیالي وکړه. هغوی د اخري راونډ پورې ښه ولوبیدل.

ایټالیه سره پایلوبه کې باران وریده، افغان لوبډلې لمړنۍ توپ وهنه وکړه. ټول لوبغاړي په ۸۰ منډو وسوځیدل. کله چې ایټالیه لوبډله دویم پړاو پیل کړ نو موسم ښه شو. هغوی په ډېره اسانۍ په ۹۰ توپونو ۲۸ منډې جوړې کړې. که چیرته ایټالیه دوی ته ماتې ورکړه نو دوی دوه مخکښو لوبډلو کې راشي او که نا ددوی خوبونه به خاورې شي.

تاج لوبډلې ته ډاډ ورکاوه." کېدای شي باران شروع شي. بس باور لرئ الله ج به مونږ سره مرسته وکړي."

کرکټ لوبغاړو د کرکټ نه ډېر وریځو ته کتل. حمید بیا توپ اچونې ته راغی. که څه هم لمر ښکاریده خو کله چې هغې بل توپ واچوه نو باران شروع شو.

امپایرانو خپلو کې سره مشوره کوله چې څه باید وکړي. پرېکړه یې وکړه چې لوبه به بندوی. راتلونکې ورځ به بیا کیږي. ایټالیانو شکایت کوه چې ټوله لوبه د سره کول غلطه خبره ده. امپایرانو دوی ته هیڅ کوم انتخاب پرینښود.



په راتلونکې ورځ افغانستان ته موقع ورکړل شوه او هغوی ایټالیه وشړموله. افغانانو هغه لوبه په ۱۰۰ منډو وګټله. رییس ٦٨ منډې جوړې کړې او د لوبې غوره لوبغاړی وټاکل شو.افغان لوبډله دریم ډیویژن ته راورسیده.

د دریم ډیویژن ټورنمنټ په ارجنټینیا کې وشو. په دې ټورنمنټ کې یوګانډا، پاپ نیو ګیني، کایمان ټاپو او ارجنټینا شامل ول. د اته میاشتو په اوږدو کې افغانستان لوبډلې له څلورم څخه دویم ډیویژن ته راورسیدل.تر اوسه هیچا د یوې لوبډلې داسې چټک پرمختګ نه دی لیدلی.

د ملي لوبډلې په بریا سره کرکټ په ټول افغانستان کې خپور شو. د ښوونځې په نصاب کې هم کرکټ شامل شو. د یو کال څخه کم وخت کې د کابل او نورو کلیوالي سیمو کې لکه کندهار څخه ۱۲۰۰۰ لوبغاړي راپیدا شول.کرکټ د ولسمشر کرزي او حکومت یې کرکټ ته بودیجه بیله کړه. ملي لوبډلې په ډېره اسانۍ ۵۰ پرله پسې لوبې وګټلې.

د افغان لوبډلې چټک پرمختګ ددې لامل شو چې نړیوال کرکټ کاونسل د ۲۰۰۹ اپریل نړیوال جام کوالیفای ته دعوت کړل شول.که چیرته افغانستان د نړیوال جام کوالیفای لوبو کې څلورم ځای خپل کړي نو د ۲۰۱۱ کال نړیوال جام ته هم لاره پیدا کولای شي. تاج، کریم، رییس، الله داد، حمید، سمیع الله شینوری، اعظم خان او محمد نبي او نور لوبغاړي د افغانستان ستوري شول.

افغان لوبغاړي له هر رنګه حالاتو څخه تېر شوي ول او هغوي هیڅ غلطي هم نه کوله ځکه هغوي په سمه ستراتیژۍ روان ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸

# نړيوالې ماتې سره مخ کېدل

د ۲۰۰۹ کال نړيوال جام کواليفاى لوبو کوربه توب جنوبي افريقا کاوه. په دې ټورنمنټ کې کاناډا، ايرلينډ، نيدرلينډ، کينيا، سکاټلينډ، متحده عربي امارات، نميبيا، عمان او ډنمارک هېوادونو لوبډلو ګډون کړى و.

ايرلينډ په لمړي ځل نړيوال جام کواليفاى لوبو کې ګډون کړى و. افغان لوبغاړو باور درلود. هغوى دې ټورنمنټ ته په ډېر جرات سره راغلي ول. هر څه د دوى د پلان مطابق روان ول. د څو پرله پسې لوبو ګټلو وروسته هغوى په دې باوري ول چې ايرلينډ نه به يې په اسانۍ ګټي.

خو په همدې وخت کې د هغوى د بريا له کبله په افغان لوبډله فشار وارد شو.زرګونه کرکټ مينه وال له هېواد څخه د کرکټ ملاتړ کاوه.کرکټ د هغوى پېژند جوړ شوى وو. ملي کرکټ لوبډلې هغوى ته د په خپل هېواد وياړ لپاره يو څه ورکړي ول او لوبغاړو ته هم خپل ځانونه د رول ماډلو په څېر ښکاريدل.تاج له دې هر څه وړاندې خبر و. نو ځکه هغې به لوبغاړو د ناځرګند دهليز باره کې مسابقې لپاره ويل. او دا هغه څه ول چې ډېر فرق يې کاوه.

" د تورن بينکس خبرې هيڅکله مه هيروئ. زمونږ حالت د ناځرګند دهليز په څېر دى. مونږ بايد باور ولرو چې مونږ يې ګټو. دا ټولې لوبډلې مونږ سره لوبې کولو څخه ډارېږي! د لوبډلو کوچنونه ډارېږي چې د هغوى لوبغاړي به ورمات کړو. مونږ دلته د هرې لوبډلې سره جنګيدلاى شو."

افغان لوبغاړو د هرې لوبډلې سره په ميړانه لوبه وکړه. په لمړي دوه لوبو کې يې ډنمارک او برموډا ته په اسانۍ ماته ورکړه. تر څو چې دوى خبريدل نو دوى د سوپر اته لوبډلو کې شمېرل کېدل. دا د غوره اته لوبډلو پړاو وو. د سوپر اته لوبډلو ټورنمنټ کې يې لومړۍ لوبه د ايرلينډ په خلاف وه.



ددې لوبې لپاره افغان لوبډلې له پخوا انتظار کاوه. دا لوبه ددوى لپاره ډېره اړينه هم وه تر څو نړيوال جام کواليفاى ته بريالي ووځي.د افغان لوبډلې کوچ تاج د بريا لپاره چمتو وو. افغانستان کرکټ بورډ چې به هر څومره لږې پيسې جمع کولې نو تاج د لوبډلې لپاره ريکارډې کمره واخسته. دا کمره د افغان کرکټ يادونو لپاره اخستل شوې وه تر څو د ايرلينډ پر خلاف زړه راښکونکې لوبې يادونه پکې راونغاړي.

په افغانستان کې د کرکټ ټول مينه وال د راډيو او تلويزونونو خواته ناست او ددې لوبې څخه يې ځانونه خبرول. هغوى د خپلې لوبډلې لپاره دعاګانې کولې. آيرلينډ پچه وګټله او لومړۍ توپ اچونه يې غوره کړه. د لوبې په ټول لومړي پړاو کې تاج د باونډرۍ پړې سره نيغ ولاړ وو او د لوبې شيبې به يې کمره کې راخستې.

رييس يو ځل بيا د ايرلينډ پر خلاف پنځوسيزه ووهله.تاج د رييس د بيټ پورته کولو ريکارډ هم وکړ. تاج ويډيو کمره شاوخوا وګرځوله او ټولو رييس ته چغې وهلې.

" شاباش رييس! شاباش!"

افغان لوبډلې ۲۱۸ منډو هدف وټاکه. تاج سره بيا هم کمره وه او د ايرلينډ توپ وهنې ريکارډ يې کوه. هغوى ثابته کړه چې هغوى ولې دې ټورنمنټ لپاره دومره ليواله ول. ايرلينډ لوبډلې ته ۳۲ منډې په ۴۸ توپونو پاتې وې او پنځه ويکټې يې هم په لاس کې وې.

تاج اوس همت له لاسه ورنکړ. هغې کتل چې حميد، الله داد سره خبرې کوي.

" مشره! توپ ماته راکړه."

الله داد، حميد ته توپ ورکړ،" ته څه کوې؟" هغې وپوښتل.

" بس ګوره چې زه څه کوم." حميد ډېر ډاډه غږيده.

" ته ښه يې حميده؟"

" هو، زه بيخي ښه يم. ته غواړې چې لوبه وګټې؟" حميد وپوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



" بالکل زه غواړم چې لوبه وګټو. دا خو د افغانستان لپاره ډېره غټه خبره ده.خو اوس هیڅ هم نه کیږي." الله داد لاندې وکتل.

" وروره، مونږ په ټوله کې یوه لوبډله یو. بس په الله ج باور ساته او په ما. زه به خپل پوره کوښښ وکړم" حمید وعده ورکړه.

تاج د باونډرۍ نه ورغږ کړ،" ډېر ښه حمیده! ته د افغانستان غوره توپ اچونکی یې!"

حمید لومړی توپ وغورځوه. له دې وړاندې یې داسې توپ نه و غورځولی. هغې خپل لاس ته کتل لکه شکمن چې وي همدا توپ ما وغورځوه. هغې ورپسې توپ وغورځوه.

دا توپ یې دومره تیز و چې توپ وهونکي تر څو بیټ پورته کوه نو ویکټه په هوا کې وه.

" حمید!!!" تاج د باونډرۍ نه چغه ووهله.

حمید دریم توپ غورځوه. توپ یو ځل بیا د ویکټو په لور لاړ. یو بل توپ وهونکی هم وسوځید. افغان لوبغاړو داسې وانګیرله چې لوبه ګټونکې ده. ایرلینډ سره یواځې درې ویکټې پاتې شوې. د لوبې مخ یو ناڅاپه بدل شو.

حمید څلورم توپ وغورځوه خو دا ځل یې یواځې یوه منډه ورکړه. په پنځم توپ سره یو ځل بیا ویکټه په ځمکه وغورځیده. افغان لوبغاړو حمید په غېږ کې پورته کړی و. هغې د ایرلینډ درې لوبغاړي سوځولي ول.

همداسې یو څه افغانستان غوښتل. په دې په زړه پورې لوبه کې ایرلینډ ته ماتې ورکړې. د ایرلینډ ټول لوبغاړي په ۱۹۶ منډو وسوځیدل او افغانستان په ۲۳ منډو لوبه وګټله. تاج له ځان سره کمره واخسته او د هر لوبغاړي نه یې له نږدې عکاسي وکړه، لوبغاړو به خندل، چغې وهلې او په میدان کې یې لکه د زمریانو منډې وهلې.

آیرلینډ ته د ماتې ورکولو وروسته افغان لوبډله تر ټولو بره وه. نړیوال جام ته د وتلو خوب په ریښتیا بدلیدونکی وو.



حمید د دې لوبې غوره لوبغاړی وټاکل شو. ایرلینډ لوبغاړو هم حمید ته شاباسې ورکړ چې څنګه یې د فشار په وخت کې ښه لوبه وکړه.

" مونږ د حمید په څیر توپ اچونکی لا تراوسه نه دی لیدلی. هغه د کرکټ په نړۍ کې تر ټولو ښه او تیز توپ اچونکی دی."

افغانستان باید اوس هم نه وای لمانځلی ځکه هغوی باید درې نورې هم ګټلې وی تر څو د ۲۰۱۱ کال نړیوال جام کوالیفای لوبو ته لار پیدا کړي. د دوی ورپسې لوبه کاناډا سره وه. کاناډا څلور ځله مخکې هم نړیوال جام کوالیفای لوبو ته لار پیدا کړې وه. خو آیرلینډ ته ماتې ورکولو وروسته افغان لوبغاړي ډېر ډاډه او ارامه ښکاریدل.

لوبه ښه پیل شوه. افغانستان لومړنۍ توپ وهنه وکړه او د ۲٦٥ منډو هدف یې وټاکه. دویم پړاو کې کاناډا توپ وهنې ته راووته، خو دا ځلې په افغان لوبډله کې بې تفاوتي تر سترګو شوه، هغوی سمه توپ نیونه نه کوله او اسانه کیچونه یې هم غورځول.

که څه هم دوی داسې لوبو سره عادت شوي ول خو بیا هم هغوی د داسې حالت سره مخ شول. هیڅوک نه پوهیدل چې څه وکړي، هغوی یو بل ته غوسه ول.

کریم او سمیع الله شینواري هم یو بل سره خبرې کولې. تاج، هغه څوک چې د فشار پر مهال هم خپل کنټرول له لاسه نه ورکوي، د باونډرۍ یو کونج کې ناست او سګرټ یې څکول.

" تا کله نه سګرټ څکول شروع کړي؟" کریم ترې وپوښتل.

" د کله نه چې مونږ بایلل شروع کړل. دې کرکټ خو زه لیونی کړم" تاج ځواب ورکړ.

" کرکټ خو د چانس لوبه ده. ځینې لوبې خو بایلل کیږي."

" زه یې ډېر جدي اخلم. بس اوس مې یواځې پریږده." تاج وویل.

په راتلونکو څو ساعتونو کې افغان لوبغاړي د یو بل دښمنان وګرځیدل. هغوی د کاناډا څخه ماتې خوړلو سره د ۲۰۱۱ کال کوالیفای لوبو څخه بهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول. د هغوی خوبونه لاهو شول. افغانانو دا هم زده کړل چې ځنګه په یوه شیبه کې هر څه بدلیدی شي. یووخت کې هغوی ایرلینډ ته ماتې ورکړې وه او په لومړي ځل یې نړیوال جام ته لاره پیدا کولو خوب په ریښتیا کېدو و خو اوس هغوی بې وسه ول، کاناډا څخه یې لوبه وبایلله.

خلک په دې شکمن شول چې کېدای شي افغان کرکټ لوبډله هیڅکله نړیوال جام ته لاره پیدا نه کړي. دوی سره لږی پیسې او لږې اسانتیاوې وې.افغانانو د ټورنمنټ نورو لوبو کې هم خپل احساسات له لاسه ورکړي ول. هغوی لکه د ماشینونو په څېر لوبه کوله. په پای کې هغوی پنځم شول او نړیوال جام کوالیفای څخه ووتل. کاناډا سره لوبې یې هر څه بدل کړل.

په دې ډیویژن کې ۱۲ څخه پنځم ځای خپلولو افغانانو لپاره هیڅ مانا نه ورکوله. هغوی یواځې په دې خفه ول چې ولې یې لومړي څلورو کې ځای خپل نه کړ. لنډه دا چې هغوی نړیوال جام ته رسیدو هدف ته ونه رسیدل. دا لوبډله ددې ټورنمنټ څخه وروسته هماغه شان پاتې نه شوه. پر ځای ددې چې هغوی په ځانونو ویاړ وکړي، دوی یو بل ملامتول.

که څه دوی د نړیوال جام کوالیفای لوبو ته لار پیدا نکړه خو پنځم راتلو سره یې د یوه ورځیني لوبو سټېټس تر لاسه کړ. نړیوال کرکټ کاونسل له لورې د یوه ورځینی لوبو سټیټس لوبډلې کولای شي چې یو بل سره رسمي لوبې وکړي. د پیاوړو لوبډلو سره لوبې کولو وروسته افغان لوبډله کولی شي جې د ۲۰۱۵ کال نړیوال جام کې ولوبیږي.

د کاناډا پر خلاف بایلې د کابل اړوند اخبارونو او رسنیزو چینلونو د افغان لوبغاړي ملامتول. د افغانستان کرکټ بورډ د لوبې ماته د تاج له کبله ګڼله. هغوی ویل چې تاج غیر مسلکي او تجربه نه لري. د بورډ یو کس خو دا هم وویل چې تاج د لوبې پر مهال سګرټ څکول.

" دې نه دا څرګندیږي چې تاج څومره غیر مسلکي دی" هغې په زغرده وویل.



د افغانستان کرکټ بورډ ټولو په ګډه دا رایه واچوله چې تاج به د کوچی نه لیرې کړي. د افغان کرکټ اوس په پورته سویه وو او هغوی باید نور تجربه کار او مسلکي کسان پیدا کړي ول. له هغه وروسته چې افغانستان د یوه ورځینی لوبو سټېټس پیدا کړ نو نړیوال کرکټ کاونسل افغانانو ته داسبابو او اسانتیاوو برابرولو کې مرسته کوله. چې په دې کې د نوي کوچ لپاره میاشتینی پیسې هم وې.

کله چې تاج خبر شو چې د افغانستان کرکټ بورډ هغه د کوچی نه لرې کړی نو ډیر په غوسه وو. دا دهغې لپاره تر ټولو ستره جزا وه. که څه هم هغه ۳۲ کلن و خو کرکټ د هغې ژوند وو. کریم، رییس، حمید، محمد نبي او الله داد هم د تاج په لرې کولو خفه ول. تاج هغه کس دی چې د افغانستان کرکټ بورډ یې رامنځته کړی وو. دا به ډیره بده وي چې هغه داسې وباسي. تاج د ملي لوبډلې به جوړولو کې، یوځای کولو کې، او په ټول افغانستان کې د کرکټ نفوذ خپرولو کې ډیر کار کړی دی.

د افغانستان کرکټ بورډ د تاج پر ځای یو بل مشهور کوچ کبیر خان وټاکه. کبیر خان د پاکستان ملي لوبډلې پخوانی لوبغاړی وو. هغه په خپله غټه ږیره پیژندل کېده. د کرکټ بورډ غړو ویل چې کبیر خان د افغان کرکټ کوچ لپاره ښه ټاکنه ده ځکه د هغې پلار یو افغان وو. کبیر خان هم پښتون و، نو په اسانی به د افغان لوبغاړو سره خبرې کوي.

داسې ګومان کیده چې حالات به سم شي خو لوبغاړو کبیر خان ملامتوه. هغې د کرکټ څخه یو بل شی جوړ کړی وو، خو په دې یې فکر نه کوه چې دوی یې په کومو شرایطو کړي. تاج خو کرکټ ته د یو خوند او ساعت تیرې په سترګه کتل. د کبیر خان مشرۍ لاندې کرکټ کول ستونزمن شول.

کریم، رییس، او الله داد په غوسه شول، هغوی اعتصاب وکړ. الله داد د کرکټ اړوند ټولې چارې ودرولې او په کابل کې یې افغان ماشومانو ته د کرکټ درس ورکاوه. رییس هم د کرکټ څخه خپل تقاعد اعلان کړ که څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم هغه يواځې ۲۵ کلن وو. کريم هم تر هغې لوبه نه کوله تر څو د افغانستان کرکټ بورډ خپله بی عدالتی کړنلارو کې بدلون رانه ولي.

تاج د کريم، رييس او الله داد څخه هغې سره ودريدلو نه مننه وکړه.

" تاسو پوهيږئ، زه ستاسو د دعاګانو او قربانيو نه ډير منندوی يم"

" ما ستاسو مينه وکتله او ستاسو له برکته دا لوبډله څومره پر مخ لاړه. خو زه پرې وړاندې پوه نه شوم. له تا پرته به په افغانستان کې هيڅ کرکټ نه وو" الله داد ځواب ورکړ.

" تاسوهر يو ددې پړاو ته رارسيدو لپاره ډيرکار کړی دی. مونږ د يوه کورنۍ په حيث يو. او مونږ به يوه ورځ نړيوال جام ته لاره پيدا کړو." تاج وويل.

د کرکټ دې انقلاب ژورنالستان اړ کړل چې د افغان ملي کرکټ لوبډله کې نور هم ژور لاړ شي. هغوی غوښتل چې پوه شي چې ستونزه چيرته ده. ژونالستانو بيلا بيلې کيسې جوړې کړې. يو ژورنالست خو داسې راپور ورکړ چې د افغانستان کرکټ بورډ فساد کې ښکيل دی. هغه پيسې چې نړيوال کرکټ کاونسل د افغان لوبغاړو ته ورکوي، کرکټ بورډ يې هغوی ته نه ورکوي. يو ژورنالست دا وويل چې کرکټ تبعيضي شوی. د کرکټ ټول لوبغاړي د پښتون قوم څخه دي او بل هيڅ قوم پکې ځای نه لري.

يو څه بايد شوي ول. د افغان کرکټ لوبډله په پټه بدنامه شوه. محمد نبي د افغانستان هغه تکړه لوبغاړی چې د پخوا راهيسې دې لوبډله کې دی، رامخته شو. هغې خپله لوبډله د اوسني حالاتو په نظر کې نه نيولو سره پر مخ بوتله، هغوی يې وهڅول چې دا ستونزې يوې غاړې ته کړي او نړيوال جام ته رسيدو لپاره کار وشي او خپل هدف تر لاسه کړي.

" غوږ ونيسئ هلکانو! په تيرو اته کلونو کې مونږ ډيرې برياوې خپلې کړې، مونږ د کچه ګړۍ کيمپ څخه تر دې ځايه راورسيدلو. که څه هم هغه وخت مونږ له ډيرو ستونزو سره مخ وو، هغه کيمپ مونږ ته دا احساس راکړی وو چې زمونږ هېواد که هر څنګه وي خو امن کې دې وي. خو بيا هم مونږ



خپل ځان په خطر کې واچوه او دلته افغانستان ته راغلو تر څو خپله ملي کرکټ لوبډله پر مخ بوځو.

هغه يو ستر خطر وو خو مونږ غوښتل خپل هېواد ته وياړ راوړو. مونږ غوښتل چې نړيوالو ته دا ثابته کړو چې افغانستان يواځې د جګړې او تاوتريخوالي ځای نه دی. په دې ټول سفر کې مونږ له ډيرو ښو او بدو شيبو سره مخ شو. ښه خبره دا وه چې مونږ د پنځم ډيويژن څخه نړيوال جام کواليفای لوبو پورې راورسيدو. خو اوس بد وخت دا دی چې مونږ نړيوال جام ته لاره پيدا نکړه، د رسنيو منفي اړخونو ووهلو او خپل يووالی مو له لاسه ورکړ. خو په دې دښتو به يو ځل بيا اوبه راشي.

د باران وختونه به هم راشي. دا ستونزمن وختونه ډير وخت ښې پايلې لري. په ياد ولرئ چې تورن بينکس څه ويلي ول. زمونږ حالت د ناځرګند دهليز په څير دی، که هر څه راتلونکي وي خو مونږ بايد خپله حوصله او دريځ پريښږدو. خو زه دا وايم چې خپلو خلکو او هېواد ته وګورئ. او زه د الله ج نه دا دعا کوم چې زمونږ مخې خندېونه له منځه يوسي."

د نبي دا خبرې د هرچا نه ښې وې. افغان لوبغاړي هم په دې پوه شول چې دا خو دومره ستونزه نده چې د کبير خان مشرۍ لاندې لوبه ګرانه وي. ډير زر لوبغاړو، کبير خان سره همغږي پيل شوه. کريم هم د کبير خان سره خپلې مسلې ختمې کړې. رييس او الله داد د نړيوال کرکټ صحنې څخه بيرون پاتې شول.

په همدې وخت کې تاج هم په کور کېناست او هغه لوبه چې ډيره يې خوښه وه، ورنه بيل شو. خو هغه بيا هم د کرکټ په مسير روان و، که څه هم هغې د نشتوالي احساس کاوه. هغې دا نه شو زغملای چې څنګه د خپلو لوبغاړو څخه لرې پاتې شي. د تاج مور په دې پوه شوې وه.

" ګرانه! تا د کرکټ لپاره ډيره قرباني ورکړې ده."

" خو زه څه کولای شم؟ زه نه غواړم چې پريږدم، زه يې رابهر کړم، دا زما قصور وو چې مونږ نړيوال جام ته لاره پيدا نکړه." تاج په خفګان وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



" خپل ځان مه ملامتوه. دا خو د ټولې لوبډلې قصور وو. خو په کور کیناستلو سره به دوی نړیوال جام ته لاره پیدا نکړي. څه لاړ شه او کبیر ته ووایه زه اوس هم ملي لوبډله کې ګډون کولای شم."

د هغې مور ورته وویل.

د مور په خبرو تاج وهڅول شو تر څو کبیر خان سره اړیکه ونیسي او هغې نه وپوښتي که چیرته ملي لوبډله کې کوم خالي پوزیشن وي. کبیر خان، تاج ته د کوچ مرستیال ځای ورکړ، یواځې ددې لپاره چې ملي لوبډله یووالي کې وساتي. افغانستان کرکټ بورډ هم د تاج مرستیال کوچ رتبه ومنله یواځې په دې شرط چې هغه باید مسلکي واوسي یانې د لوبې په دوران کې سګرټ ونه څکوي.

په افغان ملي کرکټ لوبډلې یو توپان وروسته یو ځل بیا راپورته شول. کبیر او تاج په ګډه د یوه ورځینۍ لوبو لپاره لوبډله چمتو کړه او د نړۍ نورو غښتلو لوبډلو ته یې وړاندیزونه ورکړل. نبي د لوبډلې پر مخ بیولو لپاره د لوبډلې لوبډلشمر وټاکل شو.

محمد نبي د افغان لوبډلې تر ټولو الهامي او ښایسته لوبغاړی وو. هغه سپین غاښونه او لنډ سټایلي ویښته لري. همدارنګه هغه آل راونډر هم دی یانې توپ وهنه او توپ اچونه دواړه کولای شي.

په ۲۰۱۳ کال کې افغان کرکټ لوبډله د ایرلینډ سره یوه ورځینې سیریز لپاره ایرلینډ ته لاړل. نبي دا خپل ورځینی روټین ګرځولی وو چې هره ورځ خپل مور او پلار سره اړیکه ونیسي او هغوی ته د لوبې باره کې ووایي. د تېر په څېر ۲۱ د مې ۲۰۱۳ کال هغې خپل مور او پلار ته ټیلیفون کولو نو شمېره یې بنده راتله. د نبي پلار او مور دواړو سره یواځې یو مبایل و، نو اړیکې لپاره ورسره بله لاره هم نه وه. هغې ځان ته ډاډ ورکاوه چې کیدای شي پلار یې بل مبایل اخستی وي او شمیره یې بنده کړي وي او هغوی به خپله ورته زنګ ووهي. د تمرین څخه وروسته د شپې ناوخته پورې نبي د افغانستان نه هیڅ کوم زنګ تر لاسه نکړ. نبي پوه شو چې څه چل شوی.



"څنګه یې؟ محمد نبي یې؟" په ټیلیفون کې دروند غږ راغی. د نبي ټیلیفون شمېره یې د پلار پرته بل چاسره نه وه نو هغه حیران وو چې څوک دی.

" زه ښه یم. څوک یې؟" نبي وپوښتل.

" زما نوم احمد ضیا عبدالزی دی. زه د ننګرهار ولایت چارواکی یم." سړي ځواب ورکړ. ننګرهار د کابل سره خواکې ځای دی چیرته چې د نبي کورنۍ اوسمهال اوسیدله.

" ښه! زه خو ایرلینډ کې یم نو ډیرې خبرې نه شم کولای. څه خدمت مو کولای شم." نبي وړاندیز وکړ.

" په ډیر تاسف سره باید ووایم چې نن سهار لس بجې ستاسې پلار تښتول شوی" احمد ورته خبر ورکړ. د ټیلیفون دواړه خوا چپتیا شوه. احمد فکر کاوه چې نبي غوړي کیښود.

" همدلته یې؟"

" هو، زه یم. تا څه وویل؟" نبي وپوښتل. هغې د ننګرهار د چارواکي خبرې نه شوې درک کولای.

" نن سهار ستاسې پلار وتښتول شو. هغه خپل موټر کې کور ته روان وو چې وسله والو د هغې موټر په زوره ودروه. یو عیني شاهد وویل چې وسله والو ستاسو پلار په زوره له موټره ښکته کړ، ویې وهه او بیا یې بل موټر ته واچوه. مونږ هڅه کوو چې د هغې ځای مالوم کړو."

د نبي غږ ونښته، په ټول بدن کې یې لکه څړیکه تیره شوه.

" تاسو خبر یې چې هغه به یې چیرته تښتولی وي؟ زه خو دښمني نه لرم." نبي ټینګار کاوه.

" نا، ډیره بښنه غواړم. مونږ نه یو خبر چې چا تښتولی دی. د طالبانو واکمنۍ وروسته تښتونې ډیرې شوي او کیدای شي طالبانو دا کار کړی وي او یا ځایي مافیا ډلو کړی وي." احمد ضیا داسې فکر کاوه.

" خو ولې یې زما پلار وتښتوه؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



" تاسې لوړ هدف ټاکل شوی یاست. تاسو د افغان ملي کرکټ لوبډله کې ډېر زیات زیار کښلی دی. کېدای شي ستاسو دا کار په رادیکالو تروریستانو بد لګېدلی وي" احمد ضیا وویل.

"زه څه وکړم اوس؟" نبي د بې وسۍ په احساساتو کې راګیر شو. هغې په خپله هم داسې فکر کاوه چې ددې هر څه اړه کرکټ سره شته. په افغانستان کې هر وګړي د ملي لوبډلې چې د پنځم ډیویژن څخه دویم ته راغلې ، ملاتړ کاوه. کرکټ ددوی تر منځ د یووالي یواځینی ټکی وو.

" د اوس لپاره، همت له لاسه مه ورکوه. دولتي استخبارات د تښتونکو په لټه دي. که چیرته کوم تښتونکي تاسو سره د پیسو په بدل کې خوشې کولو لپاره اړیکه ټینګه کړه نو له مهربانۍ له مخې ماته احوال راکړه. زه دعا کوم چې ستاسې پلار په امن کې کور ته ستون شي."

" که تښتونکي ماسره د پیسو په بدل کې خوشې کولو لپاره اړیکه ټینګه کړي نو ما سره خو پیسې هم نشته چې هغوی ته یې ورکړم." نبي په مغشوشه حالت کې وویل.

" ته هیڅ فکر مه کړه. مونږ به یو حل پیدا کړو." احمد ضیا ورته ډاډ ورکړ.

" مننه"

" زه به اوس ټیلیفون ستاسو مور ته ولېږم. هغه غواړي تاسې سره خبرې وکړي" احمد ضیا ټیلیفون ورولېږه.

" مورې؟" نبي لمړۍ خبرې وکړې.

" څنګه یې؟ ته خو ښه یې؟" هغې د مور ارام ښونکي غږ واورید.

نبي سترګې پټې کړې، هغې ځان سره فکر کاوه چې مور یې څومره ستونزه کې ده.

" زه ښه یم، خو زه ټکټ اخلم او کور ته درځم. مونږ خو هیڅا سره دښمني نه درلوده. که چیرته په تاسو څه وشي نو بیا؟"



" نا، بیرته اوس مه راځه! داسې اوازې هم شته وایي چا چې ستا پلار تښتولی تا هم تښتوي. نو ته همدلته ایرلینډ کې پاتې شه. په ما به هیڅ نه کیږي او دولت به ستا پلار هم ډېر زر پیدا کړي. ستا د لوبډلې ملګري غواړي ته ورسره همدلته اووسې تر څو نړیوال جام ته لاره پیدا کړئ. تاسو به ټول افغانستان ته خوښي ورکړئ. دلته تر اوسه هیڅکله د یوې مثبتې هیلې لپاره ټول سره نه دي یوځای شوي. پرون زه کابل ته تللې وم، ماشومانو کوڅو کې کرکټ کاوه هغوی یو بل ته ویل"زه غواړم محمد نبي شم، هغه اتل دی" تا دې ماشومانو ته د ټوپک پر ځای بیټ ورکړی. دا تروریستان به لیوني وي خو ته ډېر ستر کارونه کوې. او د پلار تښتونه تا نه شي ودرولی." د نبي مور ورته ډاډ ورکړ.

نبي پوهیده چې هغه سم وایي: " مورې، زه به لوبو لپاره همدلته ایرلینډ کې پاتې شم. خو ته به ماسره وعده کوی چې زما راتګ پورې به ځان خوندي ساتې."

" یواځې په دې شرط چې ته به نړیوال جام ته لاره پیدا کوې." د نبي مور ټوکه وکړه.

" زه وعده کوم." دواړو غوږۍ کېښود. نبي په ډېر خفګان کې ښکیل شو. هغه د سختو حالاتو سره مقابله کې عادت وو خو دا ځل د هغې مخې د پوښتنو سمندرونه پراته ول. د ننګرهار چارواکي احمد ضیا ورته ویلي ول چې تښتونې عامې شوي. نو هغوی ولې د نبي پلار وتښتوه؟ دولت به یې څنګه پیدا کړي؟ او که نبي راتګ پورې د کورنۍ بل غړی وتښتوي نو بیا؟

نبي پوه شو چې دا ټولې پوښتنې به تر هغه وخته پورې بې ځوابه پاتې شي تر څو یې پلار راخوشې شوی نه وي. اوس ډېر سخت شول چې بیرته په کرکټ متمرکز شي. هغې د الله ج څخه دعا وغوښته او بیرته د خپلې لوبډلمشرۍ مسولیتونو ته یې مخه کړه. دا تښتونکي به هیڅکله دا ملي لوبډله د نړیوال جام لاره پیدا کولو څخه ونه دروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبیر، تاج او محمد نبي افغان لوبغاړو باندې ډېر کار وکړ. په کرکټ تمرکز سره د نبي تشویش لږ کم شوی وو. لوبې د ډېرو ستونزو تر منځ د ډاډ نښې دي. رسنیو هم هغې سره د مصاحبې لپاره د اړیکې ټینګولو هڅې کولې نو هغه به یې مجبور کړ چې د تښتونکو باره کې خبرې وکړي.

د یوې میاشتې وروسته نبي د پلار تښتونکو څخه خبر شو. هغې د یو نابلده شمیرې څخه پیغام تر لاسه کړ چې د پلار خوشې کولو په بدل کې ۲ میلیونه امریکایي ډالر غوښتل. نبي همدا پیغام د ننګرهار چارواکو ته ورسوه. هغه دې ته هم ډېر خفه وو چې دا دومره ډېری پیسې به څنګه برابروي. که څه هم افغان لوبغاړو میاشتینۍ پیسې هم ترلاسه کولې خو دومره نه وې. نبي هم د میاشتې ۲۳۰۰ امریکایي ډالره معاش درلود. د افغانستان کرکټ بورډ سره دومره بودیجه نه وه چې معاشونه ډېر کړي.

له نیکه مرغه نبي ۲ میلیونو امریکایي ډالرو څخه یو هم تښتونکو ته ورنکړ. د ننګرهار چارواکي وتوانیدل چې د همغې پیغام له لارې تر تښتونکو ځان ورسوي. هغوی طالبانو سره هیڅ اړیکه نه درلوده. هغوی بس محلي غله ول چې د پیسو شکولو لپاره یې دا کارونه تر سره کول. د تښتونې دا بهیر تر دوه میاشتو اوږد شوی وو. د پلار خوشې کیدو سره نبي په ارامه سا واخسته. داسې ښکاریدل چې افغان ملي لوبډل د ډېرو ستونزو سره مخ شوه. کله چې توپ د ناڅرګند دهلیز سیمه کې غورځې نو توپ وهونکی تر توپ رارسیدو لږ وړاندې، که هر څنګه ستراتیژي په کار اچوي خو موخه یې همدا یوه وي چې توپ په خپل زور ووهي. په همدې شکل افغان لوبډله هم نړیوال جام ته رانږدې شوې وه. هغوی به ډېر زیات وخت په تمرین تېرولو. دا هیڅ فرق نه کوي چې د دوی له دې وړاندې په مغزو کې څه ول خو دا وخت داسې وو چې په دې سخت حالت کې توپ وهونکی چې څومره کیږي په زوره توپ ووهي، یانې لوبغاړي هم خپله اخري او غښتلې هڅه وکړي. هغوی به په دې پوه شوي ول چې خپل اخري زور ولګوي او څه پایله به ورکړي.



۹

# د نړیوال جام په لور رهي کېدل

په ۲۰۱۳ کال کې نړیوال کرکټ کاونسل د افغانستان ملي کرکټ لوبډله د نړیوال کرکټ لیګ لوبو لپاره دعوت کړه . دا ټورنمنټ هم د نړیوال جام کوالیفای لوبې په څیر وې.

د نړیوال کرکټ لیګ دوه مخکښې لوبډلې به ۲۰۱۵ نړیوال جام ته لاره پیدا کوي. په دې کې اته لوبډلو کاناډا، سکاټلینډ، کینیا، ایرلینډ، او نیمبیا ګډون کړی و.

د نړیوال کرکټ لیګ د نړۍ بیلا بیلو هېوادونو څخه جوړ و. هره لوبیدونکې لوبډله به د دوه لوبو کوربه توب کوي خو افغانستان ددې اصل څخه اثتثنا و. د امنیتي ګواښونو له کبله افغانستان د لوبې کوربه توب نه شي کولای، په یوه ثانیه کې هلته تاوتریخوالی رامنځته کیدای شي. او همدارنګه په دې هېواد کې کرکټ هم نوی عام شوی وو. د نړیوالو لوبو باندې معیاري میدانونو جوړولو لپاره کلونو ته اړتیا ده.

افغان لوبغاړي هم بهرنۍ لوبو سره عادي شوي ول. د ایساف ځواکونو سره د لوبې پرته دوی هیڅ نړیوالې لوبې کوربه توب نه و کړی چې هغه پکې هم نه حسابیږي.

"په هیله مندۍ ویلی شم چې افغانستان به هم یوه ورځ د نړیوالو لوبو کوربه توب وکړي." حمید همداسې ارمان درلود.

نړیوال کرکټ لیګ کې افغان لوبغاړو یو ځل بیا خپل احساسات له ځان سره راوړي ول. د ایرلینډ او متحده عربي اماراتو پرته یې ټولو لوبډلو ته ماتې ورکړه. دې بایلې دوی څلورم ځای ته وغورځول. که چیرته په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه لوبو کې کینیا ملي لوبډلې ته ماتې ورکړې نو ۲۰۱۵ کال نړیوال جام ته به لاره پیدا کړي. دا د افغانانو لپاره یوه تاریخ جوړونکې ګټه ګڼل کېده.

دې لوبې سره افغانانو ته د ۲۰۰۹ کال نړیوال جام کوالیفای لوبه وریاده کړه چې یواځې یوې لوبې یانې کاناډا څخه ګټلو وروسته یې کولای شول د ۲۰۱۱ کال نړیوال جام ته لاره پیدا کړي. هغه داسې وخت و چې دوی سره بیل شوي ول. داځل به هاغسې نه وي. دوی ډېر بدل شوي ول، یو څه هوښیار شوي، یو څه زړور شوي ول او یو څه یې لوبډله راجوړه کړې وه.

هر څه د کینیا پر خلاف لوبې سره د افغان لوبډلې په مسیر روان ول. اخري دوه لوبې د متحده عربي اماراتو په شارجه کې کېدونکې وې. شارجه د افغانانو لپاره لکه کورنی میدان دی. د هغې ځای موسم او چاپېریال د افغانستان په څېر و په شارجه کې افغانان هم ډېر دي نو میدان کې به یې مینه وال هم ډېر وي. دا ځای ریښتیا هم د افغانانو د ګټې لپاره وو.

په ۲ او څلورم اکتوبر ۲۰۱۳ کال د افغان کرکټ لوبډله د کینیا سره د نړیوال کرکټ لیګ تر ټولو مهمو لوبو کې مخ شوه. د تیر په څېر افغان لوبډله یو ځل د لوبې شروع کېدونه وړاندې لمونځ وکړ. هغوی اوږد لمونځ وکړ تر څو د دوی نه ختمیدونکې هڅې مثبتې پایلې ورکړي.

شارجه کرکټ سټېډیم د دوی لپاره جادو و. په لومړي ځل په دې سټېډیم کې ۲۷۰۰۰ افغان مینه وال راټول شوي ول. اوسمهال کرکټ د دوی په هېواد کې تر ټولو نامتو لوبه وه. د افغان کرکټ مینه وال د نړۍ ګوټ ګوټ څخه ددې لوبې لیدو لپاره شارجې ته راغلي ول.

په ټول سټېډیم کې د افغانستان بیرغونه رپیدل. زیاتره مینه وال په افغاني کمیس او پرتوګ کې لیدل کیدل. یو سړي سره دوه سرې ډول هم و او ډنګوه یې او نورو ورته ګډل. دا رنګه ازادي، ویاړ او خوشالي دوی په خپل ټول ژوند کې نه وه لیدلې.

افغان لوبغاړي میدان ته راننوتو سره ټولو مینه والو چغې کړې. افغان لوبغاړي ابي رنګه دریشي کې راښکاره شول. د دریشي په اوږو سور رنګ وو



او په نارنجي رنګ پرې غټې لیکل شوي ول،افغانستان. کبیر خان او تاج لوبغاړو ته خبرې کولې،

" د زغم څخه کار واخلئ او په خپلو بنستي تخنیکونو باندې تمرکز وکړئ.هر څه باندې چې مونږ نن تمرین وکړ له همغې کار واخلئ." کبیر خان ورته ویل.

" هو، او تاسو خپل هېواد مخې ته لوبېږئ! خپلو هېوادوالو ته وښایئ چې تاسو څومره ښه لوبه کولای شئ." تاج ورزیاته کړه.

افغان لوبغاړي میدان ته راننوتل. ټولو مینه والو شپیلي وهل او ګډل یې.

" ستا په فکر نن به څو ویکټې واخلم؟" حمید د کریم څخه پوښتنه وکړه، کله چې هغوی دواړه د فیلډینګ خواته روان ول.

" زما په فکر ټول کینیایي لوبغاړي به ستا د مخ په لیدو وسوځوي ځکه ستا مخ ډېر ډارونکی دی." کریم ځواب ورکړ.

" زما په فکر ټول کینیایي لوبغاړي چې ستا وړې متې وګوري نو ټول به وسوځي." حمید ترې خپل ګوزار واخست.

حمید د لوبې لومړنی توپ اچونکی دی. د لوبې شروع کیدو سره ټولو خلکو چکې شروع کړې. حمید په خپل لمړي اوور کې د کینیا یو توپ وهونکی وسوځوه. دا ددوی عادت و، سم دلاسه نور لوبغاړي په حمید وروغورځیدل. هغې کریم ته وکتل او هغې ته یې شهادت ګوته وخوځوله،" دا یوه شوه!"

له دې وروسته حمید نورې ویکټې هم واخستې. د حمید څخه مننه ځکه فشار د اولې نه تر اخره په کینیا پاتې شو. حمید د کینیا څلور لوبغاړي وسوځول او ۱۹ منډې هم جوړې کړې. د افغان کرکټ لوبډله په ریښتیا هم د ۲۰۰۹ کوالیفای لوبو څخه تر اوسه ډېر پرمختګ کړی وو.

افغان کرکټ لوبغاړو د ۲۰۰۹ کال لوبو څخه دا زده کړي ول چې هیڅ لوبې ته په ټیټه سترګه ونه کتل شي او یا د فشار لاندې رانشي. د ۴ اکتوبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبه هم د ۲ اکتوبر لوبې په څېر په لمونځ، زرگونه مینه والو، د افغانستان بیرغونو او په نڅا پیل شوه.

کینیا لوبډلې پچه وگټله او توپ وهنه یې غوره کړه. هغوی داسې فکر کاوه چې د افغانانو لومړنۍ لوبې ته په کتلو د افغانانو د لوبې طرز مالوم کړي او اوس لومړنۍ توپ وهنې سره به وکولای شي په هغوی فشار وارد کړي. افغان لوبغاړو د کینیا ټوله لوبډله په ۹۳ منډو وسوځوله.

دویم پړاو کې افغان لوبډله توپ وهنې ته راووته. د افغانستان لومړي درې لوبغاړي په ۳۴ منډو وسوځېدل. هغوی ډېر وارخطا ول غوښتل یې چې دا کم هدف په شپږیزو او څلوریزو پای ته ورسوي. ایا افغان لوبډله به یو ځل د نړیوال جام کې گډون ونه شي کړای؟

محمد نبي داسې هیڅکله نه پرېښودل چې وشي. هغې خپله مشري وښوده او خپل لوبډله یې وهڅوله.

" دا لوبه د سرک اخر سر دی! دې خلکو ته وگورئ چې مونږ ته ولاړ دي. خپلو کورنیو باره کې فکر وکړئ. مونږ باید سمه لوبه وکړو او د ناځرگند دهلیز پر وړاندې مبارزه وکړو. راځئ چې خپل سفر پای ته ورسوو."

څلورم توپ وهونکې خپله محمد نبي وو. هغې لوبې ته تصمیم سره راغلی وو او ډېر زر یې د لوبې کنترول واخست او ټول افغان ننداره چیان یې بیا په پښو ودرول. نبي ډېر ارامه او کنټرول ښکاریده. هغې په اسانه توپونو شپږیزې او څلوریزې وهلې او سخت توپونو وهلو څخه یې ډډه کوله تر څو ونه سوځي.

نبي د کینیا ۹۳ منډو هدف ته ورو ورو نږدې کیده. کینیا توپ اچونکو زړونه یې ورمات کړل. هغوی یوځای شول تر څو څنگه نبي وسوځوي خو نبي چیرته دومره په اسانۍ سوځېده. ډېر زر ۹۲ منډو ته ورسیده. د نبي په څېر هیڅ کوم لوبغاړی نه وو چې لوبه په دې شکل ختمه کړي.

تاج د نورو افغان لوبغاړو سره د باونډرۍ پړي سره ولاړ وو. هغوی د منډې لپاره بشپړ چمتو ول. د کینیا توپ اچونکي دا ځل توپ په هماغه



ناځرگند دهلیز ځای کې وغورځوه. نبي هیڅ وارخطا نه وو. هغې بیټ تاو کړ او توپ یې ووهه. افغان ننداره چیان په ټوپونو شول او ډول ته یې ډنگ ورکړ. ټول افغان لوبغاړي میدان ته په منډه شول. هغوی د ناځرگند دهلیز څخه په بریالیتوب وتلي ول.

د کوم وخت چې تاج، کریم، حمید، محمد نبي، سمیع الله شینواري، اعظم خان او نورو افغان لوبغاړو د شل کالو راهیسې ارمان کاوه، هغه نن د شارجه په غېته تخته لیکل شوي ول. هلته لیکل شوي ول، " افغانستان د ۲۰۱۵ کال نړیوال جام ته لاره پیدا کړه" رییس او الله داد افغانستان کې ول، بې له شکه چې هغوی به هم دا وخت لمانځلی وي.

حمید میدان منځ کې په سجده شو او ویل یې،

" زما خدایه! دا خوب دی که ریښتیا دي؟" هغې کریم ته غږ کړ، هغه خپل ورور تاج سره غاړه غړی وو. " کریمه! ته ما تنگولی شې؟"

کریم وارخطا شو.

" ولې؟زما ځورول زما د متو نه غښتلي دي. خراب به شې گوره."

" هیڅ خبره نده. زما هیڅ باور نه راځي چې مونږ نړیوال جام ته لاره پیدا کړه! دا زما خوب دی." حمید دا هر څه فرضي گڼل.

کریم هغه په غیږ کې پورته کړ،" نا سړیه! مونږ کوالیفای شو"

ټولو لوبغاړو لاسونه په هوا کې نیولي او یو بل په سر یې ټوپونه وهل. هغوی په یو وخت کې ژړل او خندل.

" نبي پورته کړئ. هغه اتل دی" تاج چغه کړه.

افغان لوبغاړو نبي په اوږو پورته کړ او په سټیډیم کې یې گرځوه. هر چا داسې گڼله لکه خوب چې ویني. دا سفر په رسمي ډول همدلته ختم شو. د کرکټ داسې یوه ډله چې هېواد یې تل جگړو او غربت ځپلی تر دې ځایه راورسیدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د کچه ګړۍ څخه پیل خوب و چې اوس یې پایله ورکړه. دا د هغه خوب پایله ده چې دوی د ډېرو ستونزمنو حالاتو کې خنډونه له منځه وړي ول. خوبونه هیڅکله نه مري.

" مونږ باید دا بریا افغانستان کې ولمانځو!" په هماغه شپه د لوبډلې کوچ کبیر خان دوی ته وویل.

د لوبغاړو هم دا خبره خوښه شوه چې دوی د ژوند ستره بریا کابل کې ولمانځي. هغوی ولسمشر کرزي ته وړاندیز کړی وو. په لمړي کې هغه د امنیتي ستونزو تشویش کې وو. د داسې ډېرو خلکو راټولیدل به تروریستانو ته یو ښه هدف وګرځي. تاج هغې ته وویل چې هیڅ خبره نده.

"دا بریا زمونږ د خلکو او هېواد لپاره ده. په تاریخ کې په لمړي ځل افغانستان نړیوال جام ته لاره پیدا کړې. هیڅوک به په دې پریټ برید ونه کړي. کرکټ ټول سره یوځای کړي. دا د ټولو افغانانو ګډ ویاړ دی."

ولسمشر کرزی اخر همغږی شو. یوه اونۍ وروسته افغان لوبډله کابل ته راورسیده. هغوی لکه د ملي مبارزینو په څیر ونازول شول. زرګونه افغان مینه وال د کابل هوایي ډګر سرکونو کې په کتار ولاړ ول. هیڅ شي تر اوسه دا هېواد داسې نه وو یو کړی. افغان لوبغاړي په کاروان موټرو کې کینول شول. د کاروان موټر شاوخوا روان خلکو ګډل او د خوشالۍ چغې وهلې.

په دې پریټ هیڅ کوم برید ونه شو. په حقیقت کې په هغه ورځ په ټول افغانستان کې هیڅ کوم تاوتریخوالی رامنځته نه شو. کرکټ دا هېواد ګنډلی وو.

لکه څرنګه چې توپ وهونکی د ناڅرګند دهلیز توپ وهلو وروسته د ارامۍ سا واخلي په همدې ترتیب افغان لوبغاړو ۲۰۱۵ کال نړیوال جام ته لاره پیدا کولو سره د ارامۍ سا واخسته. ناڅرګند دهلیز پای ته رسیدلی وو. هغوی د ناڅرګند دهلیز څخه په ډېر محنت او باور سره راتیر شوي ول. په همدې بهیر کې هغوی ټولې نړۍ ته وښودل چې هر څه امکان لري. هغوی



نړۍ ته دا هم وښودله چې یو هېواد په منفي تاوتریخوالي مشهور وي هم مثبت بدلون راوستلای شي.

تاج، کریم، رییس، الله داد، حمید، محمد نبي، سمیع الله شینواری، اعظم خان، تورن بینکس او ټول هغه لوبغاړي چې دې لوبډلې سره یې مرسته کړې وه، اوس پاخه شوي دي. هغوی د کرکټ میراث راتلونکو نسلونو لپاره وساته. کرکټ به افغانستان کې د یو روښانه رڼا په څېر راوټوکیږي. او له دې څخه مهمه دا چې دا د هیلې یو ځلی وو د راتلونکو نسلونو لپاره چې د جګړې په وخت کې زیږیدلي، یو زیری ورکړي چې د جګړې پرته یو بله لاره هم شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰

# یو نوی نسل

د سټیډیم څراغونو هرې خوا رڼا خپره کړې وه. د استرالیا د کانبیرا ښار مانوکا اوال میدان کې افغان او بنګله دیشي لوبغاړي یو بل ته مخامخ ولاړ ول. میدان ته راننوتو سره مینه والو چغې کړې. د ۲۰۱۵ کال نړیوال جام لمړنۍ لوبه وه. دا دنړیوال کرکټ تر ټولو غوره لوبې دي.

افغان لوبغاړو تور رنګه دریشۍ چې په شا یې افغان ویاړ لیکل شوي ول. هغوی سره واړه بیکونه او دوه بیټونه په لاس کې ول. بل پلوه د بنګله دیشي لوبغاړو ستر بیکونه او قیمتي بیټونه لاسونو کې نیولي ول. بنګله دیشي لوبغاړو له مالي پلوه غښتلي ښکاریدل.

خو دې نوې او ځوانې لوبډلې افغانانو سره جنون ملګری وو چې دا یې د مالي غښتلتیا نه ګټه وره ثابتیده. دا میراث دوی ته د دوی اتلانو لخوا لکه تاج ملک، کریم صادق، رییس احمدزی، الله داد نوري، حمید حسن، محمد نبي، سمیع الله شینواری او اعظم خان ورکړل شوی وو. په دې لوبډله کې د پخوانو لوبغاړو تر څنګ حشمت الله شهیدي یو شل کلن ځوان لوبغاړی هم وو، هغې د ټولو لوبغاړو ستاینه وکړه.

" هغوی مونږ لپاره ډیر څه کړي دي.هغوی د افغانستان لپاره لوبډله جوړه کړې. افغانستان اوس د کرکټ یو غټ ځای دی او دا یواځې ددوی له کبله دي. مونږ له هغوی ډیر منندوی یو. دا د هغوی د محنت میوه ده. هغوی سره پیسې هم نه وې او زیاتره کورنۍ ستونزې یې لرلې. اوس زمونږ لوبډله مخ پر وړاندې روانه ده"

په اصل کې افغان کرکټ لوبډله د صفر نه پیل کړې وه. ډیر وخت یې غربت، جګړه او ناڅرګند راتلونکې کې تیر شو.



" کله چې ما کرکټ شروع کړ نو ما تل د افغان لوبغاړو ستاینې اوریدې لکه کریم صادق او رییس احمدزی. ما د هغوی کیسې اوریدلې وې او دوی څنګه د خپلې مخې خنډونه له منځه یوړل. اوس مونږ ښه لوبډله لرو او زه ورته ډیر خوشاله یم."

د افغانستان ټول وګړي د ملي لوبډلې لپاره ډیر خوشاله دي. کورنۍ غړو، دولتي چارواکو، نورو هیوادوالو او د طالبانو غړو ورته د ملاتړ لپاره خپلې پیرزوینې ولیږلې. د لوبغاړو مشرانو هم په خپلو بچو ویاړ کاوه. کرکټ یواځینۍ لوبه وه چې ټول افغانستان یې یو موټی کړ.

کیدای شي افغان لوبغاړو نړیوالو ته دا ښودل چې ټول افغانان تاوتریخوالی نه خوښوي او پر ضد یې راولاړیږي. له اسمانونو هاخوا یوه ډله خلک چې د یو ستر شي لپاره ودریدل: کرکټ. په همدې کې یو سړي په لاوډسپیکر کې غږ کړ،" اوس د افغان او بنګله دیش ملي لوبډلې راشي!"

افغان لوبغاړو یو بل ته وکتل او چغې یې کړې،

" مونږ د نا څرګند دهلیز څخه په بریالیتوب راووتو!"

هغوی بیا د منوکا اووال په میدان کې د نړیوال جام خوب پوره کولو لپاره ورننوتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه


- Chakrabarty, Shamik. 'Asia Cup: Afghanistan's Splendid Son Mohammad Nabi, a Refugee Who Became Leader.' *The India Express,* 25 February 2014. Accessed 31 March 2015.
- Davis, James. 'Bombs Stop Play.' *The Obserber, 4 November 2001.* Accessed 17 February 2015.
- Ferdous, Hasan. 'The Children of Shamshatoo.' UN News Center. Accessed 9 February 2015.
- Frawley, Perer. 'We Play Cricket as messengers of Peace.' *The Guardian,* 3 December 2005. Accessed 16 April 2015.
- Goodwin, Jan. 'Buried Alive: Afghan Women Under the Taliban.' Mount Holyoke, 27 Febuary 1998. Accessed 12 March 2015.
- History.com Staff. '9/11: Timeline of Events.' History.com, 2011. Accessed 18 March 2015.
- Kaufman, Marc. ' Refugees Swell Camps in Pakistan.'
- Philly.com, 20 March 1989. Accessed 17 January 2015.
- Larbalestier, Justine. ' A Beginner's Guide to Cricket.' Justine Larbalestier, 16 Febuary 2004. Accessed 17 January 2015.
- McCarthy, Roy. 'Afghan Applause Just Isn't Cricket.' *The Guardian,* 18 May 2001. Accessed 20 April 2015.
- National Geographic Staff. 'The Khyber Pass.' National Geographic Education. Accessed 26 March 2015.
- Sharifi, Mohammad. 'The Downside of Fame.' *Afghanistan Today, 5 October 2001.* Accessed 28 March 2015.





- Sheikh, Shamshad. 'Chaplain Recounts Afghan Suffering.' Mount Holyoke, 25 January 2002. Accessed 6 April 2015.
- Sting, Ben. 'An Interview with Afghanistan's Taj Malik Alam.' Global Cricket, 15 February 2008. Accessed April 2015.
- The Editors of *Encyclopedia Britannica.* 'Kabul.' Encyclopedia Britannica Online, 9 June 2014. Accessed 11 March 2015.
- Unknown. 'Operation Storm-333.' Wikipedia, 17 May 2015. Accessed 21 May 2015.
- Unknown. 'Pakistan and Afghanistan.' Institute for Study of War. Accessed 26 February 2015.
- Wigmore, Tim. 'The Man Who Gave Afghanistan Their Mojo.' ESPN Cricinfo, 21 August 2014. Accessed 28 April 2015.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکلړ

**موضوع/ مخ**

**شاته کیسه/۱**

**د تاوتریخوالي تقدیر/۷**

**د یو مهاجر ژوند/۱٤**

**د سولې خوب/۲۷**

**د طالبانو حقیقت/٤٤**

**یو ناڅاپي قسمت/۷۸**

**چټک خوځښت/۸۹**

**نړیوالې ماتې سره مخ کېدل/۱۲۱**

**د نړیوال جام په لور رهي کېدل/۱۳٤**

**یو نوی نسل/۱٤۱**

**ماخذونه/۱٤۳**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**